# جنډر،
# حکومتوالي،
# او فســـــاد

## په افغانستان کښې پارلماني استازيتوب او فســاد او جنډر د اړيکو ارزونــــه



EPD EQUALITY for Peace and Democracy

د ۲۰۱۵ کال د نومبر مياشت

# د مطالبو نوم لړ


لنډیزونه ........ 4

عمومي خلاصه ........ 6

لاسته راغلي مهم معلومات ........ 6

جنډر او فساد ........ 6

د سلوک توپیرونه او شخصیتي ځانګړنې ........ 7

د جنډر شبکې ........ 8

لیبراله ډموکراسي ........ 8

ټولنیز سازمانونه ........ 8

نتیجه ........ 9

.1سریزه ........ 9

1.1د راپور جوړښت ........ 11

1.2کړنلارې ........ 11

1.2 (الف) سروې ........ 11

1.2 (ب) پروسه ........ 12

1.2 (ج) نمونه ........ 13

1.3د پارلمان د غړو د نفوذ حالت ........ 13

1.4محدودیتونه ........ 14

.2شالید ........ 16

2.1قانوني او تاکنیز چوکاټ ........ 16

2.1(الف) د سهمیې سیستم ........ 16

2.1(ب) سیاسي ګوندونه ........ 16

2.2د میرمنو سیاسي استازیتوب ........ 17

2.2(الف) د پارلمان ښخه بهر د میرمنو سیاسي موقفونه ........ 17

2.2(ب) د میرمنو سیاسیونو پر وړاندې سلوک ........ 17

2.3په افغانستان کښې فساد ........ 17

2.4د میرمنو استازیتوب ته آسانتیا برابرول: پر سهمیو ولاړو سیستمونو نقش او اغیزمنتیا ........ 18

.3په افغانستان کښې د جنډر او فساد بررسی: د اوسنی څیړنې په پایله کښې مثلثي لاسته راغلي معلومات ........ 21

3.1جنډر او فساد ........ 21

3.1 (الف) د جنډر او فساد په اړه ترکیبي انکشافي څیړنه ........ 21

3.1 (ب) د باور په اړه لاسته راغلي معلومات او فساد د خطر سره مخامخ کیدل ........ 23

3.2د سلوک توپیرونه او شخصیتي ځانګړنې ........ 24

3.2 (الف) موجوده څیړنه ........ 24

3.2 (ب) جنډر او خطر ځانګړتیا ........ 26

3.2 (ج) جنډر او انګیرنې ........ 27

3.2 (د) جنډر او اعتماد 28
3.2 (ه) جنډر، پالنه او ځان غوښتنه 28
3.2جنډر، ماديات خوښونه او صداقت 30
3.2 (ز) د ټولنيزتسلط پلوي کول 31
3.3 د جنډر شبکې او د فساد زمينې 32
3.3 (الف) موجوده څېړنه 32
3.3 (ب) لاسته راغلي معلومات 35
3.4ليبراله ډموکراسي 38
3.4(الف) موجوده څېړنه 38
3.5(ب) د افغانستان په شرايطو کښې ليبراله ډموکراسي 40
3.5ټولنيز سازمانونه 41
3.5 (الف) موجوده څېړنه 41
3.5 (ب) د افغانستان په شرايطو کښې ټولنيز سازمانونه 42
4.نتيجه 43
مآخذونه 45

## د سولې او ډموکراسۍ د يو شانوالي موسسې په اړه

د سولې او ډموکراسۍ د يو شانوالي موسسه (EPD) يوه غير انتفاعي، غير دولتي اداره ده چې موخه يې په افغانستان کښې په ټولنيزه او پالیسۍ جوړونې په کچه د ميرمنو او ځوانانو ځواکمن کول دي. د سولې او ډموکراسۍ د يو شانوالي موسسه د ۲۰۱۰ کال په لمړيو وختو کښې د آغلې نرکس نهان له خوا چې د (EPD) عمومي مشره ده، تاسيس شوه. د سولې او ډموکراسۍ د يو شانوالي موسسه د پرمختګ، سولې د ټينګښت او ولسواکۍ د بهير په اړه د خپلو اړتياو د بيانولو لپاره د ميرمنو او ځوانانو ځواکمنتيا لپاره کار کوي. د سولې او ډموکراسۍ د يو شانوالي موسسه پردې سربيره غواړي چې ميرمنې او ځوانان و هڅوي تر څو په هغو بې ثباتيو باندې چې افغانستان ورسره لاس او ګريوان دی، غلبه و مومي.

د سولې او ډموکراسۍ د يو شانوالي موسسې د ميرمنو او ځوانانو لپاره پلاتفورمونه جوړ کړي تر څو سره را يو ځای، کاري شبکې جوړې، باور او اعتماد رامنځ ته، او په ګډه سره داسې کوښښونه وکړي چې افغانستان په يو داسې ډموکراټيک هيواد چې د هر ډول تاوتريخوالي او تبعيض څخه پاک وي، بدل کړي.

د سولې او ډموکراسۍ د يو شانوالي موسسې د روښتيا او ځواب ويلو افغاني ائتلاف ټولنيزې شبکې د خدماتو وړاندې کول څاري، د ښه حکومتوالۍ لپاره پلوی پيدا کوي چې په هرات، باميان، ننګرهار او کابل کښې وجود لري. د سولې او ډموکراسۍ د يو شانوالي موسسې د ميرمنو ولايتي شبکه هغه موضوعات په ګوته او پاملرنه ور ته کوي چې په ټولنه کښې د ميرمنو لپاره د انديښنې وړ دي او په هرات، باميان، ننګرهار، فارياب، کندز، کندهار او کابل کښې څانګې لري.

پر دې سربيره، د سولې او ډموکراسۍ د يو شانوالي موسسه په کابل کښې يو د هغو مخکښو مدني ټولنو له جملې څخه ده چې د نورو مدني ټولنو او ډلو سره يې اتحاد را منځته کوي، د سولې او ډموکراسۍ په برخه کښې د دولت پاليسۍ جوړونه څاري، د بشر د حقوقو د ساتنې ډاډ تر لاسه کوي او د مدني ټولنې د ګډون لپاره ملاتړ پيدا کوي. د سولې او ډموکراسۍ د يو شانوالي د موسسې ټيم، د هيواد بيلابيلو برخو ته د سفر او خلکو سره د هغوی په انديښنو د پوهيدلو په خاطر د خبرو تر څنګ، همدارنګه په مرکزي سطحه د پاليسيو جوړولو په اړه غونډې جوړوي او بحثونه کوي تر څو د خلکو انديښنې په نظر کښې و نيول شي. د سولې او ډموکراسۍ د يو شانوالي موسسې مشرتابه په نړيوالو غونډو کښې برخه اخلي او په افغانستان کښې د نړيوالې ټولنې د اغيزمن او پاينښت لرونکي ګډون لپاره ملاتړ پيدا کوي.

## ستاينه او کورودانی

د سولې او ډموکراسۍ د يو شانوالي موسسه تر هر څه د مخه په پراخه کچه غواړي د افغانستان د ملي شورا د غړو چې خپل قيمتي وخت يې د دې راپور برابرولو لپاره په سروې کښې د ګډون له لارې ورکړی، د چا د نظرياتو څخه د کار اخستنې پرته چې د دې څيړنې سرته رسول ممکن نه وو، د زړه له کومې مننه کوي. د سولې او ډموکراسۍ د يو شانوالي موسسه همدارنګه غواړي د آکسفام (OXFAM) او (Cordaid) د موسسو څخه چې د دې پروژې لپاره يې مالي او نور ملاتړ برابر کړی، مننه کوي. د سولې او دموکراسۍ لپاره د يوشانوالي موسسې د کارکونکو څخه چې د دې راپور د تيارولو په برخه کښې يې مرسته کړې مننه کوي. د سولې او ډموکراسۍ د يو شانوالي موسسه پر دې سربيره غواړي له د محمد تايب شکيب او عاقل ازاد (بيروني بيا کتونکو) څخه چې په دې اړه يې خپل ګټور نظريات او سپارښتنې وړاندې کړي دي، هم مننه کوي او کورودانی ورته وايي. د سولې او ډموکراسۍ د يو شانوالي موسسه غواړي ماری ايس هوبر و کريستينا هوبر ته د دې راپور د ليکنې له امله، او د پلوشې هاشمي او فرزانې دوست څخه چې د معلوماتو په راټولو کښې همکاري کړې ستاينه کوي او کور ودانی ور ته وايي، او په پای کښې د سولې او ډموکراسۍ د يو شانوالي موسسې د ټول ټيم څخه چې د دې د ليکنې پر مهال يې هر ډول ملاتړ کړی، ځانګړې مننه کوي.

.

## لنډيزونه

| | |
|---|---|
| AFN | افغانۍ (اسعار) |
| DAO | د توپير تفاضل او تساوی نظريه |
| DUREL | د ډيوک پوهنتون ديني شاخص |
| EVAW | د ميرمنو پر وړاندې د تاوترخوالي مخنيوی |
| GDP | نا خالص ملي توليد |
| GNI | ناخالص ملي عوايد |
| MP | د پارلمان غړی |
| OECD | د اقتصادي همکاريو او انکشاف سازمان |
| SDO | د ټولنيز تسلط پلوي کول |
| SIGI | ټولنيزې اداري او د جنډر شاخص |
| SNTV | د نه انتقال وړ واحده رايه |

# عمومي لنډيز

ډيرو څېړونو ښودلې ده چې په پارلمان کښې د ښځينه غړو او د هيواد په کچه د فساد تر منځ د پام وړ منفي اړيکه شتون لري. د څېړنې پر بنسټ د جنډر سره په توپير ولاړ سلوک په اړه ډويډ ډولار، فيسمن او ګوټي داسې ګڼلې ده چې که په پارلمان کښې د ښځو استازيتوب ډير شي نو د فساد سطحه به ټيټه شي، چې دا معلومات د فساد اړوند شاخص د هيوادونو لپاره د نړيوال خطر د لارښود څخه اخستل شوي دي. مطالعې ښودلې ده چې حتی د ناخالص داخلی توليد وروسته، مدني آزادی، نفوس، د تحصيل د کلونو متوسطه اندازه، د سوداګرۍ آزادي او د هيواد په سطحه د هيواد قومي ويش، په دولت کښې د ګډون لوړه کچه د فساد د سطحې د ټيټوالي سره تړاو لري.[1]

په هر حال، سره له دې چې افغانستان په پارلمان کښې د ميرمنو د ګډون له نظره په نړۍ کښې ۳۶ مقام لري، په نړۍ واله درجه بندی کښې د فساد له نظره يو تر ټولو فاسد هيواد ګڼل کيږي. د سلوک د پيژندلو څېړنه د دې اړيکې په اړه د يوې لسيزې راهيسې د لا نورو مطالعو، چې اساسا د فساد او جنډر تر منځ کتل شوو اړيکو د توضيح لپاره څلور کټګورۍ وړاندې کوي، دوام لري – د سلوک توپيرونه، د جنډر شبکې، ليبراله ډموکراسي، او ټولنيز سازمانونه. په دې څېړنه کښې کوښښ شوی دی چې دې پوښتنې ته ځواب پيدا کړي چې ولې په پارلمان کښې د ښځو او فساد تر منځ اړيکه، د هيواد په کچه د بيلابيلو محتوياتو له نظره په افغانستان کښې د نشت برابره ده. دا څېړنه هغه څلور مهمې کټګورۍ د دې اړيکې د توضيح لپاره بررسي کوی چې په مختلفو شرايطو کښې د يوې لسيزې په څېړنه ولاړې دي. دې څېړنې د جنډر او فساد تر منځ دې متقابلې اړيکي ته د نارينو او ښځو تر منځ توپير ته نسبت ور کړی دی. نورو بيا دا باور ځرګند کړی دی چې تر ډيره بريده ميرمنې د سياست ميدان ته نوې راغلي دي، او شبکو ته لږ لاسرسی لري چې دا کار په خپله فاسد سلوک ته لاره هواروي. يوه متبادله توضيح د عادل جنسيت پر وړاندې د عادل سيستم تيوري ده، چې روښانه کوي چې د ښځو او نارينو تر منځ  يووالی کاذب او عمدتا د شرايطو محصول دی – ليبراله ډموکراسي، په تيورۍ کښې دواړه جنسيتي برابري او بهتره حکومتوالي ترويجوي. بالاخره، نورو څېړونو ثابته کړې چې فساد په هغو هيوادونو کښې ډير لوړ دی چې ټولنيز سازمانونه، ميرمنې د آزادۍ او ټولنيز ژوند کښې له ګدون څخه بې برخې کوي. لاسته راغلي معلومات داسې

ځرګندونه کوي چې، په هغو شرايطو کښې چې ټولنيز ارزښتونه ښځې وروسته پاته ساتي، نه د ډموکراسۍ په خاطر سياسي اصلاحات، او نه په سياسي او اقتصادي پوستېونو کښې د ښځو زيات شوی ګډون به د فساد په لږولو کښې مرسته و کړي.

په دې څېړنه کښې، د افغان پارلمان د ۱۵۰ غړو سره يوه سروې ، چې د ولسي جرګې ۲۴۹ غړو استازيتوب يې کاوه د اعتماد سطحه ۹۰ سلنه وه چې ۶،۱۲ سلنه سهوه پکښې په نظر کښېې لري، تر سره شوې ده. د نارينو او ښځو د سروې ځوابو ويونکو بيلول د ولسي جرګې جوړښت منعکسوي؛ چيرې ۲۸ سلنه د پارلمان غړي ميرمنې دي، د څېړنې په دې سروې کښې ۳۱ سلنه ځواب ويونکي د پارلمان ښځينه غړې وې.

## لاسته راغلي مهم معلومات

### جنډر او فساد

په دې څېړنه کښې، د پارلمان د نارينه او ښځينه غړو تر منځ د فساد د برېنډولو په اړه د باور په برخه کښې ډير مهم توپير موجود نه وه. د ټولو ځواب ورکونکو ۵۱ سلنه موافق، تر يوې اندازې او يا په کلکه توګه موافق وو چې د پارلمان نور نارينه غړي په فساد کښې ډير ککړ دي. په داسې حال کښې چې ۴۹ سلنه د پارلمان ښځينه غړو په دې اړه ورته نظر درلود. دې څېړنې ښودلې ده چې د پارلمان دواړو نارينه او ښځينه غړي په پراخه پيمانه په خپله راپور ورکوي چې هغوی د فساد مخالفت کوي، يوازې ۲ سلنه ځواب ورکونکو، موافقه، کړې چې په ځانګړو شرايطو کښې، ځينې وختونه دا سمه ده چې رشوت واخستل شي. په هر حال، د پارلمان غړو تر ډيره بريده احساس کاوه چې فساد د افغانستان په سياست يا دولت کښې د بريالیتوب لپاره يو مهم شرط دی، او دا د پارلمان غړو لپاره طبيعي خبره ده چې د خپل مقام څخه د خلکو د خوښې د کارونو سرته رسولو لپاره کار واخلي. د پارلمان ټول غړي، د هغوی د جنس په نظر کښې نيولو پرته، همدارنګه په لوړه کچه د فساد د برېنډولو راپور ورکړی دی. د هغوی ډير شمير راپور ورکړي چې دوی پسې خلک راځي چې د هغوي او يا د هغوی د کورنيو د غړو د خوښې کار ور ته وکړي. په هر حال، داسې لږ راپور ورکول شوی چې خلک دوی ته راغلي چې د دوی د خوښې د کار تر سره کولو لپاره ور ته رشوت يا معاوضه ورکړي.

[1] دويد ډولار، رايموند بيمن، او رابت ګټي، "ايا رښتيا ښځې عادل جنس دی؟ فساد او ميرمنې په حکومت کښې." د نړيوال بانک د انکشافي څېړنې ډله، د جنډر او انکشاف اړوند د پاليسۍ د څېړنې راپور، کاري پاڼه، ګڼه. د اکتربر ۴، ۱۹۹۹ کال.

## د سلوک توپیرونه او شخصیتي ځانګړنې

تیرو مطالعاتو ښودلې ده چې هغه کسان چې لنډ فکره دي د هغو کسانو په نسبت چې لنډ فکره نه دي، لږ اخلاقي معیارونه رعایت کوي او هغه څوک چې په احتیاط فکر کوي په ډیر احتمال اخلاقي عمل کوي.[2] فرض شوې ده چې، د اوسنۍ مطالعې څخه لاسته راغلي معلومات په لوړه کچه د لنډ فکرۍ د فساد د خطر سره مخامخ او په فساد ککړتیا سره تړاو لري. په هر حال، د باور او فساد ترمنځ اړیکه روښانه نه ده، بلکه یوه اړیکه دا په ګوته کوي چې د باور لوړه کچه د فساد د سطحې د ټیټوالي سره تړاو لري، او درې اړیکي داسې ښیي چې د باور لوړه کچه د فساد د لوړې کچې سره تړاو لري. د اسنادو د مطالعې پر بنسټ ویل کیږي چې د لږ باور لرونکي خلک کیدای شي د خپلو همکارانو په واسطه دې ته جبرا اړ شوي وي چې د فاسد عمل په ترسره کولو ککړ شي، دې لیکوالانو د داسې اړیکو تمه کوله چې که د باور له نظره د ځواب ورکونکو نمره ټیټه وه نو د فساد په اړه به لوړه نمره ورکړي. مهمو مواردو چې په لوړه سطحه باور یې څرګند کړی دی په خپل کار کښې هیڅ ښه والی نه درلود، او داسې فکر یې کاوه چې دوی د خپلې برخې د احترام وړ غړي دي، او په خپله ورتیا یې باور درلود. مهمو مواردو کښې دا ښودل شوې ده چې د فساد سره باید داسې معامله وشي، لکه څرنګه چې یې نور خلک د پارلمان د غړو سره کوي، چې د خلکو له خوا د هغوی سره د خپلې خوښې د کار لپاره تماس نیول کیږي او ور څخه هیله کوي چې د هغوی او یا یې د کورنۍ غړو سره مرسته وکړي. یوه احتمالي توضیح داده چې ډیر ارتباط د دې پوړې اړه لري چې نور خلک د پارلمان غړو ته په کوم نظر ګوري او هغوی سره څرنګه کار کوي چې په نتیجه کښې د هغوی د فاسد سلوک برخلاف د هغوی د باور د سطحې د زیاتوالی سبب شي.

یوې اړیکې دا خبره څرګنده کړې ده چې د خطر څخه د تیښتې په مقصد یې دا څرګندونې کړی دی چې د خطر څخه په لوړه کچه تیښته د فساد لوړې کچې سره تړاو درلود، چې د فرضیې اړیکې په مخالف جهت کښې یې ځای درلود یعنې دا چې د خطر څخه په لوړه کچه تیښته به د فساد د ټیټې سطحې سره تړاو ولري. د خطر څخه د تیښتې بل مورد د شخړې د مخنیوې په خاطر د یو چا مخې څخه لیرې کیدل دي تر څو د شخړې مخه و نیول شي، نو له همدې امله امکان لري د خطر څخه د تیښتې پرخلاف د شخړې مسیر ته تغییر ورکړي. نو چې خبره داسې ده یو فرد کیدای شي په فساد ککړ وي (یعنې د رشوت د اخستلو لپاره فشار وارد کړي) چې د شخړې د مخنیوي خلاف حرکت دی. همدارنګه نتایجو ښودلې ده چې د ټیټې کچې ځان غوښتنه د فساد د ټیټې سطحې سره تړاو لري. دا لاسته راغلي معلومات د فرضیې اړیکي له مخې هغه افراد چې د ځانځانی په اړه لوړه نمره ورکوي د رشوت په اړه به هم لوړه نمره ورکړي.

د تربیې او فساد ترمنځ اړیکه روښانه نه وه ځکه چې دې دوه اړیکو داسې ښودلې ده چې د لوړې کچې تربیه، لکه څنګه چې فرض شوې ده د فساد ټیټې کچې سره تړاو درلود. په هر حال، دریو اړیکو ښودلې ده چې د تربیې لوړه سطحه د فساد لوړې کچې سره تړاو لري. وروستۍ اړیکې یوازې د دې لپاره موجودې وې چې ډیر وخت د خپلې کورنۍ نژدې غړي (د تربیې لوړه کچه) او فاسد عناصر د یو چا پلوی کوي ولې د نورو په برخه کښې دا کار نه کوي، او نور یې د دوی لپاره کوي او دا باور چې د پارلمان د غړو په برخه کښې دا کار عادي دی چې د خپل موقف څخه د یو چا د ملاتړ لپاره کار اخلي. دا ممکنه ده چې د کورنۍ د غړي لپاره د وخت درلودل، ټولنې نورو غړو ته د وخت ورکولو په معنا تفسیر کوي، او د هغه پارلماني موقف دا شوني کوي چې د تربیې لاندې پارلمان غړی باید زده کړي چې د ټولنې ملاتړ او ټولنې ته وده ورکړي. د مادیاتو خوښونې او فساد تر منځ اړیکې دا ښودلې ده چې د مادیاتو خوښونې لوړه کچه د فساد د لوړې سطحې سره تړاو لري. دا هغه اړیکه ده چې فرضیې ګنل شوې وه.

د صداقت لپاره لاسته راغلي معلومات په فرضیه ولاړ نه دي. د دې مطالعې د مخه، لیکوالانو وړاندوینه وکړه چې د صداقت کچه کیدای شي د فساد ټیټې کچې سره تړاو ولري. په هر حال، د لاسته راغلو معلوماتو مطالعه بل ډول ده – او هغه دا چې د صداقت لوړې کچې د فساد د لوړې کچه سره تړاو درلود. د دې خبرې لپاره یو احتمالی وضاحت کیدای شي د مخاطب شخص صداقت سره کله چې سروې ور سره تر سره کیدله، تړلې وي. هغه اشخاص چې ډیر صادق دي، هغوی به دا ومني او په ډیر احتمال به د هغو موادو سره موافقه وکړي چې د فساد د اندازه کولو لپاره مطرح شوي وو. هغه اشخاص چې لږ صادق دي، هغوی به په لږ احتمال لکه د رشوت په څیر منفي جوړښت په اړه نظر وړاندې کړي. په دې ترتیب، به هغوي په صداقت ځواب ور نه کړي تر څو ځان داسې جوړ کړي چې په سروې کښې ښه خلک ښکاره شي نو له همدې امله به معلومات تحریف کړي تر څو په فساد کښې لږ ککړ ښکاره شي.

[2] بریټن و ستریټ میتر، "چې خلک و غولو یا و نه غولو؟ په علمي او تجارتي اخلاقو کښې د شخص نقش،" ۲۰۱۳.

داسې معلومیږي چې د فرضیې برخلاف، د ټولنیز تسلط پلوي کولو (SDO) په خاطر داسې معلومیږي چې د دې افکارو په اړه او یا د فساد د خطر د مخامخ کیدو سره هیڅ اړیکه نه لري، او د ټولنیز تسلط پلوي کولو د مطالعې له نظره په پارلمان کښې د نارینه او ښځینه غړو تر منځ هیڅ کوم جنسي توپیرونو شتون نه درلوده، مذهبي عقیده د فساد د ځینو مواردو سره تړلې وه، په داسې حال کښې ډیرو مذهبي ځواب ورکونکو په لوړه کچه د فساد سره د مخامخ کیدو پر خطر باور درلود. پر دې سربیره، لکه څنګه چې فرض شوې، دا معلومه شوې چې ډیر محافظه کار باورونه د ډیرو فاسدو باورونو او سلوک سره په ځینو مواردو کښې تړاو لري، دې مطالعې حتی د جنسي یو شانوالي په مواردو پورې اړوند هیڅ توپیر د پارلمان د نارینه او ښځینه استازو تر منځ د محافظه کارۍ او مترقي باورونو له نظره نه دی پیدا کړی.

د منفردو متغییرونو په اړه لکه اعتماد، صداقت او مادیاتو خوښونې په برخه کښې جنسي توپیرونه را برسیره شوي دي، چیرې چې میرمنې د نارینو په پرتله نسبتا لوړه کچه باور او صداقت ښکاره کوي، او نارینه په اوسطه توګه د ښځو په پرتله په لوړه کچه مادیات خوښونه څرګندوي. د لنډ فکرۍ، د خطر څخه تیښته، ځان غوښتنه، او یا تربیې له نظره هیڅ ډول جنسیتي توپیر نه دی په ګوته شوی. په هر حال، د دې حقیقت پر بنسټ د ۳۵ مواردو څخه یوازې په څلورو مواردو کښې د پام وړ توپیرونه پیدا شوی چې د شخصیتي ځانګړنو استازیتوب کوي، او د ټولنیز تسلط پلوي کولو له نظره د جندر اړوند هیڅ توپیر لیدل شوی نه دی، لیکوال دې نتیجې ته رسیږي چې په شخصیتي لحاظ د فساد له نظره د نارینه او ښځینه تر منځ ډیر لږ توپیر شتون لري.

## د جنډر شبکې

دې څیړنې یوشمیر کمزوري شواهد ترلاسه کړي چې د پارلمان نارینه غړي شبکو ته ډیر لاسرسی لري چې دا کار د پارلمان د ښځینو غړو په پرتله نارینه غړو ته د فساد لاره پرانیزي. د هغوی کورنۍ په سیاسي لحاظ ډیرې فعالې دي؛ هغوي داسې احساس کوي چې هغوی معاملات په ښه توګه پرمخ وړي؛ او هغوي ډیر احتمال د پام وړ ټولنیزې اړیکې د پارلمان د نارینه غړو سره جوړولای شي، او هغوي به دا هم و وایي چې ځواکمن او مهم خلک پیژني. په هر حال، دې څیړنې معلومات ترلاسه کړي چې د کورنیو او تجارت په شبکو پورې اړوند زیاترو متفاوتو حالاتو، پارلماني شبکو، سیاسي شبکو، د پارلمان څخه وړاندینۍ شبکې، او سیاسي ګوندونه، د پارلمان نارینه او ښځینه غړي شبکو ته متفاوت لاسرسی لري چې دا فساد ته لاره هواروي. په هر حال، دې څیړنې هغو شبکو ته لاسرسی نه دی پیدا کړی چې د فساد د خطر لاندې وي او پر فساد باور پورې اړه و لري. په هر حال، په ډیرو مواردو کښې، دواړو د پارلمان نارینه او ښځینه غړو شبکو ته د پام وړ لاسرسي یادونه کړې ده.

## لیبراله ډموکراسي

څیړنې داسې ګڼلې ده چې لیبراله ډموکراسۍ د حکومت طرز تر نورو زیات مشارکتي ټولنیز جوړښت آسانتیا رامنځ ته کوي او د فساد ټیټه کچه هڅوي، او له همدې امله د حکومت ډموکراتیک سیستمونه د فساد د بربنډولو اسباب برابروي. د پارلمانونو د اتحادیې د معلوماتو پر بنسټ، افغانستان په پارلمان کښې د ښځو د ونډې له نظره د ۱۴۳ هیوادونو له منځه په ۴۲ درجه کښې ولاړ دی، چې په ولسي جرګه کښې ۲۷،۷ او مشرانو جرګه کښې ۱۷،٦ سلنه ښځې ونډه لري. په افغانستان کښې په وزارتونو کښې د دندو له نظره د ۹۴ هیوادونو له جملې څخه په ۷۰ ومه درجه کښې ځای لري چې ښځې په وزارتي پوستونو کښې ۱۰ سلنه برخه لري. په هر حال، مختلفو نړیوالو شاخصونو ته په کتنه، افغانستان په عمومي توګه د قانون د حاکمیت، د رسنیو آزادۍ، او ډموکراتیکو ټاکنو له نظره ضعیفې نمرې لري. قضایي سیستم نسبتا ضعیف او په فساد او ښځو سره په تاوتریخوالي کښې ښکیل ګڼل کیږي. رسنۍ د پرله پسې ګواښ لاندې دي، تاکنې ویل کیږي چې په تګۍ او درغلۍ ولاړې دي، او تاوتریخوالی او د ټیکاو (ثبات) نشتوالی په پرله پسې توګه سیاسي فعالیت په منفي توګه اغیزمن کوي. افغانستان همدارنګه ټولنیز او اقتصادي انکشاف څخه بې برخې دی، چې غربت یې په لوړه او د لوست سطحه یې په ټیټه کچه کښې ده. فساد تر ډیره بریده د افغانستان په سیاسي ادارو کښې یو طبیعي عمل ګرځیدلی دی، په انفرادي توګه فساد ډیر پراخه دی، او د افغانانو له خوا تصور کیږي چې په قومي، شخصي، کورنۍ او سیاسي تعلقاتو ولاړ دی. پر دې سربیره، د خلکو د عامه پوهاوي سروې، او نړیوال شاخصونه دا په ګوته کوي چې پارلمان په پراخه کچه فساد کښې ښکیل ګڼل کیږي.

## ټولنیز سازمانونه

څیړنو داسې ګڼلې ده چې د ټولنیزو سازمانونو نقش په حقیقت کښې په نورو څیړنو کښې د مشاهده شو اړیکو چې د جنډر او فساد تر منځ موندل شوي، اغیز لاندې راځي. له دې نظره، دا ثابته شوې ده چې دا د فرهنګي بدلون ورکونکي اقتصادي ودې پورې اړوند د خپل ځان متجلي کونکو ارزښتونو چې د ډموکراتیکو ادارو او په پارلمان کښې د ښځو ډیر شمیر شتون سره د مرستې سبب ګرځي. نړیوال شاخصونه افغانستان د تبعیض او ټولنیزو سازمانونو له نظره چې د جنډر د نابرابرۍ، د کورني قوانینو، نیمګړې جسماني روغتیا، د ځوی خوښوني عادت، محدودې منابع او ملکیت، او د

ښځو لپاره محدودې سیاسي ازادۍ په اړه کار کوي لوړ ځای لري. ښځې همدارنګه عمومي محیطونو ته نسبتا محدود لاسرسی لري او د هغوی ته پرله پسې ګواښونه چې په عمومي صحنه کښې فعال دي شتون لري. په سیاست کښې د ښځو ګډون هم په مخلوط ډول دی. اوس هم د پام وړ عمومي احساس وجود لري چې ښځو ته باید اجازه ور نه کړل شي چې د کور څخه د بهر کار ته لاړه شي، او دا چې عمومی منتخب پوستونه باید یوازې د نارینو لپاره وي.

## نتیجه

دې څیړنې هیڅ داسې مدرک نه دی موندلی چې د دې استدلال ملاتړ و کړي چې د پارلمان نارینه یا ښځینه غړي ډیرې یا لږې په فساد کښې ښکیلې دي. سره له دې چې په شخصي ځانګړنو کښې د جنسیتی توپیرونو تمه کیده، د دې مطالعه څخه عمده لاسته راغلو معلوماتو کښې، نسبتا یوازې څو لږ شمیر جنسیتي توپیرونه څرګند شوې دي. دا کار هغه نظریه د ستونزو سره مخ کوي چې په شخصي ځانګړنو کښې جنسیتی توپیرونه په افغانستان کښې په فساد کښې ککړ تیا او د هغه خطر رامنځ ته کوي، او دا څرګندوي چې خبره داسې نه ده چې د پارلمان ښځینه غړي په طبیعي توګه لږې په فساد کښې ښکیلې دي یا په طبیعي شکل د داسې ځانګړتیا لرونکي دي چې د هغوی څخه یې داسې اشخاص جوړ کړي چې د فساد لږ ملاتړ او یا په هغه کښې لږې ککړې وي. دې څیړنې همدارنګه دا معلومات لاسته راوړی چې داسې بریښي چې د پارلمان د نارینه او ښځینه غړو تر منځ شبکو ته د لاسرسي له نظره توپیر موجود دي چې هغه به فساد ته زمینې برابر کړي. پر دې سربیره، د نورو څیړنو د لاسته راغلو معلوماتو برخلاف، دې څیړنې هیڅ داسې معلومات لاسته نه دی راوړي چې د پارلمان د نارینه او ښځینه غړو تر منځ په سیاسي ګوندونو کښې د هغوی د ګډون له نظره توپیر ښکاره کړي، چې کیدای شي دلیل یې په افغانستان کښې د ګوندونو د کمزوري څرنګوالي په سبب وي.

د دې څیړنې د لاسته راغلو معلوماتو پر بنسټ، لیکوالانو نتیجه تر لاسه کړې چې په افغانستان د فساد لوړه کچه سره له دې چې په پارلمان کښې د ښځو نسبتا لوړ استازیتوب کیدای شي په افغانستان کښې عمومي هر اړخیزه نوعیت، او همدارنګه د قانون د کمزوري حاکمیت او رسنیو، د قوي ټولنیزو سازمانونو نشتون ته منسوب شي چې هغه به دواړه هم فساد په نخښه کړي او هم به د جنډر یوشانوالي ته وده ورکړي. دې څیړنې څخه د لاسته راغلو معلوماتو پر بنسټ، داسې بریښي چې په افغانستان کښې د پارلمان ټول غړي په عمومي ډول ښه پیوند لري، قوي ملاتړي لري، او فساد ته فرصت برابروي. که له دې نظره وګورو، کیدای شي په ډیره قانع کونکي توګه، د دې څیړنې لاسته راغلي معلومات داسې ښکاره کوي چې د اوسنی څیړنې د فرضیو سره چې د الحسن آلوهو په واسطه مطرح شوي مطابقت ولري، چې د توپیر تفاضل او تساوی نظریې (DAO) او د ټولنیز نقش تیوری باندې ولاړه ده، پرمخ ځي او وایې چې که چیرې د فساد زمینې او فاسدې شبکې وجود و لري ښځې به هم ډیرې په فساد کښې ککړې وي. دا چارچوب وړاندې وایی چې فساد په جنسیت پورې تړاو نه لري، بلکه په فاسدو فرصتونو او شبکو پورې اړه لري، چې کولای شي جنسیتی لامل ولري او یا جنسیتی نظره طبیعي حالت ولري. دغې مطالعې په افغانستان کښې په دغه بڼه معلومات لاسته راوړي چې وایي د جنډر له نظره فساد د کارکونکو په اړه، چې د دې څیړنې د لاسته راغلو معلوماتو ملاتړ کوي، توپیر رامنځ ته نه کړي.

دا شواهد به په اوسنی څیړنه کښې د دې فرضیو ملاتړ و کړي چې په هغو هیوادونو کښې چیرې چې ټولنیز سازمانونه په ټولنیز ژوند کښې د میرمنو د آزادۍ او ګډون مخالفت کوي، نو هلته د فساد کچه لوړه ده. سره له دې چې د افغانستان په پارلمان کښې د ښځو لوړه فیصدي د جنډر د یو شانوالي د سطحې څرګندونه کوي او په عمومي ژوند کښې د ښځو د ګډون ملاتړ کوي، دا په حتمي توګه د هغو ټولنیزو سازمانونو چې د جنډر یوشانوالي ته وده ورکوي یا په پراخه کچه ټولنیز عادتونو سره چې په سیاست او عامه ژوند کښې د میرمنو ملاتړ کوي، مطابقت ورکول شوی نه دی. په افغانستان کښې د سهمیې سیستم په دولت کښې د ښځو ګډون په برخه کښې یو ابهام رامنځ ته کوي چې په حتمي توګه د فرهنګي میراث او اقتصادي انکشاف بنسټ کښې تحول نه را منځه کوي تر څو د قوي ټولنیزو سازمانو سره مرسته وکړي. بالاخره، دې څیړنې دا نتیجه تر لاسه کړې ده، چې په افغانستان کښې د جنسیت او فساد تر منځ د اړیکي نشتون د لاندې عواملو پر بنسټ توضیح کړای شي: (۱) په پراخه کچه د فساد غوړیدل او عادي کیدل، او د فاسدو فرصتونو او شبکو پر وړاندې د جنډر طبیعي څرنګوالي او شبکې؛ او (۲) افغانستان قوي اداري نه لري – په ځانګړې توګه د قانون حاکمیت او آزاد مطبوعات. د ځواکمنو ټولنیزو سازمانونو نه شتون، د افغانستان په دولت کښې د میرمنو ګډون په ټولنه کښې د جنسیت د رښتیوني برابرۍ ارزښتونه نه منعکس کوي، چې په لیبراله ډموکراسۍ او پرمختللو ټولنیزو سازمانونو کښې موندل کیږي، چې د میرمنو د ګډون ملاتړ کوي او همدارنګه فساد را کموي.

## 1. سریزه

په تیرو دوه لسیزو کښې پوره څیړنې شوې دي چې دا ښکاره کوي چې په پارلمان کښې د میرمنو د استازیتوب او په هیواد کښې د فساد کچې تر منځ

يوه منفي اړيکه شتون لري، چې په دې څېړنه کښې فساد د عامه واک څخه د شخصي ګټو لپاره منفي استفاده تعريف شوې ده.[3]

په پارلمان کښې د ميرمنو د حضور لپاره مجموعي ملاتړ او د فساد د ټيټې کچې شتون، د دې باعث شوی دی چې د ستراتژيو لپاره په نړيواله ټولنه کښې يو د پام وړ فشار رامنځ ته شي تر څو د ښځو استازو ټاکنو کښې ډيروالی راشي، داسې د سهميې يو سيستم کوم چې په افغانستان په کار وړل شوې. په هر حال، په افغانستان کښې، دا اړيکه رښتيني نه ښکاري. افغانستان د نړی د هيوادو په منځ کښې په پارلمان کښې د ميرمنو د حضور د نړيوالې درجه بندی له نظره په ٣٦ ځای لري.

د جنسيت او فساد اړوند د يوې لسيزې څخه ډيرې څيړنې وروسته دا څيړنه، په دې اړه د يو شمير احساساتي توضيحاتو سره، يعنې کومه چې خپله يوه د بحث وړ موضوع ده، پر مخ وړل کيږي. په ځانګړې توګه، د ٢٠٠١ کال د نړيوال بانک يوې منبع چې د "انکشاف رامنځ ته کيدلو" په نامه يادېده د دې ادعا له امله چې په سياست او کاري ځواک کښې د ميرمنو زيات ګډون کولای شي د حکومتوالی او سوداګری لپاره اغيزمن ځواک رامنځ ته کوي، په ١٩٩٨ کال کښې د (کاف من) د لمړنيو څيړنو او (ډولار) او ملګرو او سويمي (Swamy) او ملګرو د مطالعاتو پر بنسټ د پراخه نيوکې لاندې راغله [4]. په پراخه کچه، د دې ادعا لپاره منفي ځواب پر دې ولاړ وه چې هغه دعوی چې دا مطالعه يې کوي د قاطعيت څخه برخمنه نه وه، او د جنسيت او فساد تر منځ د علت او معلول اړيکه او لږ توپير موجود او ډير روښانه نه وه، او بايد د ښځو د پاليسی د آجنډا لپاره چې د فساد سره مبارزه وکړي کار وا نخستل شي.[5] لا تر نه، د دې اړيکو د توضيح په اړه د نظر ډير لږ توافق شتون لري. له دې لمړينو څيړنو څخه وروسته، يو شمير توضيحات شته چې ولې د ميرمنو ګډون د فساد د ټيټې کچې سره تړاو لري، چې کيدای شي په لنډه توګه په لاندې برخو وويشل شي:

- د سلوک توپيرونه
  - څيړنې دې متقابلې اړيکې ته چې د نارينه او ښځو تر منځ په سلوک کښې توپيرونو سره تړاو ورکول شوی - يعنی چې ښځې لږې ځان غوښتونکې دي، ډير وخت د مرستې د کولو د سلوک

څرګندونه کوي او د ټولنيزو موضوعاتو ملاتړ کوي. ډيرې رښتيني دي، د خطر مخالفې دي، پر ځان ډير کنټرول لري، ډيرې همکارې وي، لږه سيالي کوي، د اړيکو جوړولو پلوي وي، ژر مطابقت کوي، او تر ټولو مهمه، په ډير لږ احتمال د فساد په فعاليتونو کښې ګډون کوي. (د څيړنې زياته برخه په فساد کښې پر ګډون تمرکز کوي).

- د جنډر (جنسيت) شبکې
  - يو شمير څيړنې د داسې توضيحاتو ادعا کوي چې فکر کيږي د هغوی زياتره د سلوک د توپيرونو سره په تضاد کښې واقع دي - وايي چې ميرمنې په اکثرو برخو کښې د سياست سره نوې دي، او هغو شبکو ته لږ لاسرسی لري چې فاسدو کړنو ته زمينه برابروي. د جنډر د شبکو پيژندلو او سياسي حضور محتوايي چارچوب يوه دوه اړخيزه پروسه ده: يوه دنده هغه ده چې د نوماند کيدو پر مهال سر ته رسيږي او بله هغه ده چې له ټاکل کيدو وروسته په شورا کښې تر سره کيږي.
- ليبراله ډموکراسي
  - بله توضيح د "عادلانه جنس" پر وړاندې "عادلانه سيستم" نظريه ده، چې دا روښانه چې د جنسيت او فساد ترمنځ يوه رښتوني اړيکه نشته او عمدتا د هغه له محتوی سره تړاو لري - ليبراله دموکراسي به د تيوری له مخې جنسيتی يو شانوالی او ښه حکومتوالی ته وده ورکړي.

- ټولنيز سازمانونه
  - د توضيحاتو وروستی اصلي ټولګه د ټولنيزو سازمانو څخه عبارت دی. د دې څيړنې له مخې، فساد په هغو هيوادونو کښې چېری چې ټولنيز سازمانونه ميرمنې په خپل ټولنيز ژوند کښې د ګډون د آزادی څخه يې برخې کوي لوړ دی. دا لاسته راغلي معلومات څرګندوي، چې په هغو شرايطو کښې چې ټولنيز ارزښتونه د ميرمنو د پرمختګ مخه ډب کوي، نه د ډموکراسی په خاطر سياسي اصلاحات رامنځ ته کيږي او نه په سياسي، اقتصادي پوستونو کښې د ميرمنو حضور کافي وي چې د فساد را کم کړي.

د دې ښه جوړو شوو پيوندونو په پام کښې نيولو سره، ولې په پارلمان کښې د ښځو ګډون او فساد، په ملي سطحه د مختلفو شرايطو له نظره مناسب دی، په افغانستان کښې شتون نه لري؟ په افغانستان کښې د ميرمنو لپاره د سهميې سيستم د فساد د کمولو څه کړي دي؟ په افغانستان کښې له شک پرته په پارلمان کښې د ښځو ګډون او فساد تر منځ اړيکې شته،، اما

---

[3] برايان ايس کانلی او ډي ايس ونز، فاسد شخصيت: په ملي کچه يو تحليل او تجزيه ،« فرهنګي څيړنه، ٤٢ ګڼه، (٢٠٠٨) : ٣٨٥-٣٥٣ پورې

[4] اليزابت ايم کنګ او اندرو ميسون ډي، "د منځ ته راتلو وده،" نړيوال بان، ٢٠٠١ کال، http://siteresources.worldbank.org/PGLP/Resources/Engendering_Development.pdf.

[5] الحسن آلوهو (٢٠٠٧) او ګوتز (٢٠٠٧) وګورئ

بیا هم د فساد کچه دومره ډېر لوړه ده چې پوهیدل پرې آسان کار نه دی. یا که چیرې اړیکې شتون نه لري نو ولې؟ د محتوايي مشخصاتو پېژندل چې د افغانستان وضعیت ته په استثنايي حالت کښې قرار ورکوي، د لازمو اصلاحاتو په پېژندلو کښې تر څو د میرمنو ګډون ګټې لوړې کچې ته ورسوي او د افغانستان په سیاسي محیط کښې د میرمنو د ګډون لپاره چاپیریال برابر کړي، مرسته کوي. د دې څېړنې مقصد دا دی چې پوښتنو ته ځواب و وايي او د جنډر او افغانستان په شرایطو کښې د فساد تر منځ اړیکه و ارزوي.

## 1.1 د راپور جوړښت

د دې راپور سریزې د دې څېړنې د چوکاټ، کړنلارې او میتودولوژۍ او څېړنې د حدودو ټاکلو په برخه کښې مرسته کړې ده. دوهم فصل د څېړنې لپاره یو شالید او ترکیب تیاروي، د افغانستان قانوني او انتخاباتي چوکات برابروي، د میرمنو سیاسي استازیتوب په افغانستان کښې، فساد، او د میرمنو د سیاسي استازیتوب پرمختګ لپاره د سهمیې د سیستم نقش او اغیزمنتیا، چې په ځانګړې ډول د دې څېړنې د چوکاټ سره تړاو لري او د میرمنو ګډون د ټیټې کچې فساد سره پیوند کوي. د دې څېړنې دریم فصل د دې څېړنې لاسته راغلي معلومات وړاندې کوي. دا فصل د یوې واحدې طرحې څخه کار اخلي، دا اوسنۍ څېړنه د جنډر او فساد مختلف توضیحات په جوړه یي بڼه د څېړنې د لاسته راغلو معلوماتو سره یو ځای وړاندې کوي. د ادبیاتو له نظره په هره برخه کښې کوښښ شوی دی چې د فرضیو څخه د استفادې له لارې چې دا څېړنه د کوم هدف لپاره ترسره شوې ده، تیوریکي بنسټ وړاندې کړي. له هغه وروسته د افغانستان په شرایطو کښې د سروې د لاسته راغلو معلوماتو په کار وړل او دا توضیح کول وو چې آیا هغه دعوی ګانې چې د اوسنۍ څېړنې له خوا وړاندې شوې، د دې څېړنې ملاتړ کوي او یا ورسره په تضاد کښې ده. څلورم فصل د څېړنې نتیجه ګیری ده، او دا آزمیښت کوي چې د اوسنۍ څېړنې کومې فرضیې په څېړنه کښې ریښتیا ثابتوې شوې او داسې نتایج او فرضیې وړاندې کوي چې زمونږ په لاسته راغلو معلوماتو ولاړې او د افغانستان د شرایطو سره سمون خوري.

## 1.2 کړنلارې

په دې څېړنه کښې، یوه سروې د پارلمان د ۱۰۵ غړو سره ترسره شوې – چې ۷۲ یې نارینه او ۳۳ یې ښځینه وې، چې دا د ولسي جرګې د ۲۴۹ غړو څخه د ۹۰ سلنه په کچه ډاډ او ۶،۱۲ سلنه د مجاز سهوې توپیر په ګوته کوي. د سروې لپاره په نارینه او ښځینه باندې د ځواب ورکونکو ویش د ولسي جرګې جوړښت منعکس کوي؛ په داسې حال کښې چې په ولسی جرګه کښې ۲۸ سلنه د پارلمان غړې؛ میرمنې دي، ۳۱ سلنه ځواب ویونکو چې په دې سروې کښې یې برخه اخستې ده، د پارلمان ښځینه غړې وې.

## 1.2 الف سروې

په دې سروې کښې څلور برخې داسې طرحه شوې وې چې د فاسد سلوک له نظره پر جنډر ولاړو توپیرونو اړوند مختلفو توضیحاتو، او همدارنګه یوه اضافي برخې ته چې په هغه کښې د نفوس برخه شامله وه، پام وکړي. په ټولو حالاتو کښې د (الف) څه تر (د) پورې د یو بیان په بڼه راغلي چې د ځواب لپاره یې د لنکریت (Likert) ۷ نکاتي مقیاس څخه چې د (۱) یعنې قوي توافق څخه تر (۷) یعنې قوي مخالفت څخه کار اخستل شوی دی.

د سروې الف برخې دوه برخې درلودې. لمړۍ برخه کښې د ځوابونو د اندازه کولو شپږ مواد شامل وو، د مذهبې تعصب له مخې مخافت، چې له اوسنۍ سروې څخه مشتق او اخستل شوی وه، له هغې جملې څخه ډیوک پوهنتون مذهبي شاخص (DUREL) [6] او یوه سروې چې د (پیو د څېړنو د مرکز) له خوا د سیاست او دین د درک د اندازه کولو په خاطر په ایران کښې تر سره شوې ده.[7] په دوهمه برخه کښې د پرمختګ او محافظه کارۍ د اندازه کولو شپږ مواد شامل وو. دا مواد په ځانګړې توګه د افغانستان د شرایطو سره سم ترتیب شوي وو، او دغو موضوعاتو لکه په افغانستان کښې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي قانون، بشري حقوق، د ارزښتونو ډولونه، او د تیري سره مخامخ شوو ښځو لپاره د امن ځای ته پاملرنه کړې وه.

د ب برخه کښې ۳۵ پوښتنې شاملې وې چې په فساد کښې د ککړتیا سره تړلو فرضیو شخصیتي ځانګړتیاوې، له هغې جملې څخه لنډ فکري، په ځان باور، د خطر څخه تیښته، ځان غوښتنه، تربیه، مادیات خوښونه، او صداقت سره تړاو درلود. د سروې دا مواد د موجودو فزیکي سروې ګانو څخه اخستل شوي دي، چې د اړتیا په صورت کښې اقتباس شوي دي. پنځه مواد چې چې د لنډ فکرۍ په اړه وو د بارات د لنډ فکرۍ د مقیاس

[6] هرالد جي کوینګ او آرنډت بسنګ، "د ډیوک پوهنتون شاخص (DUREL): د عامه نارضایتۍ په اړه د پنځو موارد اندازه ګیري"، ادیان ۱ (۲۰۱۰): ۸۵-۷۸.

[7] د ایرانیانو یو ګډ نظر – په سیاست کښې د مذهبي شخصیونو نقش، "د پیو د څېړنو مرکز، د جون ۱۱، ۲۰۱۳ کال، http://www.pewforum.org/2013/06/11/iranians-views-mixed-on-political-role-for-religious-figures/.

(Barratt)، څخه اخستل شوي وو.[8] د هغوی د غوره کولو دلیل دا وه چې د هغه څخه په عمومي توګه د لنډ فکری د پوښتنلیک په توګه کار کار اخستل شوی او د رواني سنجش ډیر ښه خصوصیات یې وړاندې کړي دي. د دې لنډ فکری مقیاس د ۳۰ بیانیو څخه کار اخستی چې د فکر او اقدام کولو لارې یې تشریح کوي، او د لیکرټ ډوله څلور نکاتي مقیاس (Likert-type) څخه یې د ځوابونو لپاره کار اخستی دی.[9] [10] پنځه مواد چې په خپل ځان باور اندازه کوي د جانیس فیلډ (Janis-Field) د تجدید نظر شوو احساساتو د عدم کفایې د مقیاس څخه اخستل شوي[11] او داسې ښودل شوي چې رواني سروې لپاره ډیر ښه مقیاسي خصوصیات لري. دا مقیاس د اندازه کولو ۲۳ مواد لري چې په هغه کښې د نفس عزت، علمي ځواکمنتیا، ټولنیز باور، او ظاهري ځرګندیدل شامل دي.

د خطر څخه د تیښتې د اندازه کولو پنځه موارد د خطر د انګیزې د پوښتنلیک څخه اخستل شوي وو، او همدارنګه د دې لپاره غوره شوي وو چې د ښه رواني خصوصیاتو لرونکي وو.[12] د اندازې اخستلو دا مقیاس د ځواب ورکونکو په دې سختو هڅو ولاړ دی چې غواړي له خطر څخه ډکو فعالیتو کښې برخه واخلي. چې داسې ادبیات نه شي موندل کیدای چې د موجودو اقداماتو جزئیات چې ځان غوښتنه یا صداقت امتحان کوي، له همدې امله لیکوالانو د اندازې اخستلو لپاره پنځه مواردہ ترتیب کړي دي چې نوموړي پنځه جوړښتونه داسې اندازه کړي چې محلي شرایط او کلتور په کښې په پام کښې نیول شوي وي. د تربیې د ارزونې پنځه موارد نورټورانټ فادرنګ د مقیاس (The Nurturant Fathering Scale) څخه اخستل شوي دي، او په دې دلیل غوره شوي دي چې د رواني سنجښ ډیر عالي خصوصیات لري.[13] دا مقیاس د دې لپاره کارول شوی دی چې د اولادونو او پلرونو تر منځ اړیکه مشخص کړي. د مادیاتو خوښونې اندازه کولو پنځ موارد د مادیاتو خوښونې د مقیاس څخه اقتباس شوي دي.[14] دا مقیاس د ۱٦ موادو څخه استفاده کوي تر څو هغه حد اندازه کړي تر کومې اندازې چې یو فرد مادي ملکیت ته ارزښت ورکوي، او د خپل ځرګند شوي اعتبار له مخې غوره شوي وه.

د سروې د (ج) برخه د ټولنیز تسلط د پلوی کولو (SDO) د اندازه کولو لپاره ۱۴ مواد لري، او د هغه مقیاس څخه چې د (Filicia Pratto) په واسطه (Lisa M. )، (James Sidanius) د هغه مقیاس څخه چې د ایجاد شوي، او (Stallworth) او (Bertram F. Malle) له خوا په ۱۹۹۴کال کښې ایجاد شوی، اقتباس شوی دی. دا مقیاس د دې لپاره طرح شوی دی چې هغه حد اندازه کړي چې یو څوک غواړي هغه د ډلې په منځ کښې تر لاسه او د ډلې څخه بهر یو عالي مقام ولري، او یا دا چې یو څوک د ډلې تر منځ اړیکو ته ترجیح ورکوي چې باید ټول سره یو شان وي. دا جوړښت د۷۰ مواردو امتحان چې د ټولنیز تسلط د پلوی سره تړاو لري، چې له هغه وروسته د ۱۹۵۲ پوهنتون محصیلینو د استفادې وړ وګرځید او د یو مشخص واحد جوړښت د اندازه کولو لپاره ترې کار واخستل شو.[15]

د (د) برخه یوه پراخه لړۍ متغیرو چې ۴۱ موارده تر پوښښ لاندې نیسي او جنډر شبکې سره تړاو لري او په مستقیمه توګه د فساد له درک او تجربې سره تړاو لري. په دې برخه کښې د پارلمان څخه بهر د ګډونوالو شبکه، پارلماني شبکه، ځواکمنې شبکې، د پارلمان د غړیتوب او کورنۍ کښې د موقف د تر لاسه کولو د مخه د فساد د خطر سره مخامخ وي، او د فساد په اړه باور د کار لاندې نیسي. همدارنګه د نورو افرادو لکه د وزیرانو، د پارلمانو نورو غړو، د ګوندونو کارکونکو، موکلینو، تجارانو، او د افغانستان ولس مشر سره د پارلمان د غړو تعاملات تر کار لاندې نیسي.

د (ه) برخه د نفوس د بڼې سره تړلي ۱۰ مواد لري او له هغې جملې څخه عمر، جنس، مدني حالت، میاشتینۍ عاید، د کورنۍ د غړو شمیر، د تعلیم سطحه، قومیت، په پارلمان کښې د غړیتوب موده، د سیاسي ژوند سابقه، د پارلمان د غړیتوب څخه د مخه دنده یادولای شو.

## 1.2 ب پروسه

ګډونوالو ته لمړی د څیړنې او سروې یو لنډه تشریح وړاندې شوه. ګډونوالو ته معلومات ورکړل شوی وه چې دا کار د څه لپاره تر سره کیږي (د سروې اوږدوالی، د تقریبي وخت ژمنتیا) له خپلو حقوقو او ممکنه خطر څخه خبرول، او هغه اقدامات چې د معلوماتو محرمیت داډمن کوي. له هغه

[8] پاتون، جی ایچ، ستنفورد، ایم ایس او بارت،اي ایس (۱۹۹۵) د بارات د لنډ فکری تطبیق مقیاس، د ليني د رواشناسی مجله، ۵۱ (٦)، ۷۷۴-۷٦۸

[9] بومن،ای. ای، او اودم، ای ایل (۲۰۱۲) لنډ فکري، خطر، او وخت. رفتاري بهیرونه، ۹۰ (۳)، -۴۰۸ ۴۱۴

[10] هیدن، ایی سي او شیوا، ای (۲۰۰۸). د ناروغ په یوه عدلي طبي نمونه کښې: د بارات د لنډ فکری ارزونه. رفتاری علوم او قانون، ۲٦، ٦۷۵-٦۹۰.

11 هیترون،ویلاند او ټیر ایف.(۲۰۰۳). د عزت نفس ارزونه.

12 روهر من، برند. (۲۰۰۵). د خطر د معلومولو مقیاس: مفاهیم، پوښتنلیک، او په کار اچول

13 دویل، او. ، پیکونیز، اي.، او هارینګتون، ډي. (۲۰۱۱) . د تربیې موجد مقیاس: د عواملو تجزیه او تحلیل تایید د افریقایي تبار محصلینو امریکایي. د ټولنیز کار تمرین څیړنه، ۲۱(۳)، ۳۲۷-۳۱۹.

14 ترین به، ویتدنګ او فائو، ایان، د مادیات خوښونې د اندازه کولو د مقیاس نوی مجموعه (۳۰ آګست، ۲۰۱۲). د ANZMAC کلنۍ کنګره، د جنوبې استرالیای پوهنتون، استرالیا.

15 پریتو، سیدانیوس، ستاورت، او مالی، "د ټولنیز تسلط لوری: د ټولنیزې وړاندوینې او سیاسي لید لوري د شخصیت یو متغیر،" ۱۹۹۴.

وروسته بیا د هوکړې یوه فورمه لاسلیک شوه، چې له هغې پرته به سروې کښې ګډون ممکن نه وه.

له هغه وروسته ګډونوالو ته سروې پاڼه ورکول شوه چې خپله یې ډکه کړي. په هغه حالت کښې چې ګډون کونکو نه شو کولای چې د سروې پاڼه په خپله ډکه کړي هغه په شفاهي توګه د روزل شوي معلومات راټولونکي له لورې تنظیم کیدله. د سروې د بشپړیدو وروسته، ګډونوالو ته د معلوماتو د لاسته راوړلو فورمه وړاندې کړه. په دې فورمه کښې، ګډونوالو ته ویل شوي وو چې دا کار د څه لپاره وشو او د هغوی د ګډون څخه به څه ډول ګټه واخستل شي. ګډونوالو ته زمینه برابره شوې وه چې پوښتنې مطرح کړي، او هغوی ته د څیړونکي د تلیفون شمیره ورکول شوې که چیرې هغوی نور معلومات ته اړتیا و لري او یا یې دا احساس وکړ چې د هغوی حقوق تر پښو لاندې شوي، اړیکه ونیسي.

ګډونوال د محرمیت حق لري او د معلوماتو راټولونکو ټول احتیاطي ګامونه پورته کړي وه تر څو دا حق خوندي و ساتي. د سروې په دوران کښې د پیژندګلوی هیڅ ډول معلومات نه وه راټول شوي، او پر ځای یې د (نارینه لپاره:1XX ، او د ښځینه لپاره:2XX) نخښه په کار وړل شوی ده او معلومات یا هر یاددابنت چې نوم او تذکره سره وصلوي د سروې د پاڼو او دیجیټل یاد داشت څخه جلا ساتل شوي دي. سروې کونکو ته لارښونه شوې وه چې د پارلمان له غړو سره شوې خپلې کیسې د سروې د ټیم پرته له بل چا سره شریکې نه کړي او یوازې هغه تجربې چې د مطالعې لپاره اړینې وي د څیړنې د ټیم ترمنځ د بحث لاندې راغلې دي.

## 1.2 ج نمونه غوره کول

ګډونوال د سنو بال (snowball sample) له طریقې څخه په استفاده غوره، د غیر احتمالي نمونې اخستلو تخنیک څخه چیرې چې موجود ګډونوال د مطالعې لپاره نور ګډونوال د خپلو آشنایانو له منځه غوره کړل. دا نمونه اخستنه یوازې د ولسي جرګې غړو پورې محدوده وه او مشرانو جرګې څخه هیڅوک د مرکې لپاره نه وه غوره شوي. د پارلمان هغه غړي چې په قوي احتمال ښکاریدل چې د سروې ملاتړ به وکړي او په څیړنه کښې به برخه واخلي نو هغوی سره لمړی اړیکه ټینګه شوه، هغه بیا وروسته د معلوماتو راټولونکوي د پارلمان نورو غړو سره معرفي کړل چې هغوی هم سروې کښې برخه واخلي.

## 1.3 د پارلمان د غړو د نفوذ حالت

د پارلمان تر ټولو ځوان غړی چې سروې ور سره تر سره شوې وه ۳۰ کلن وه، او تر ټولو زوړ، د هغه په خپله وینا، ۸۰ کلن وه. د پارلمان متوسط عمر لرونکی غړي چې سروې ور سره تر سره شوې وه ۴۸،۲۱ سلنه وه او زیاتره د پارلمان غړي چې سروې ور سره تر سره شوي وه عمرونه یې د ۳۰ څخه تر ۳۹ کلونو پورې وو؛ ۳۳ سلنه د ۴۰ – ۴۹ پورې؛ ۳۳ سلنه د ۵۰-۵۹ پورې؛ ۱۳ سلنه ٦۰ کلن او تر هغه زاړه وو. ۳۴ سلنه د پارلمان غړي چې سروې ور سره تر سره شوې پښتانه، ۱۸ سلنه تاجک، ۱۷ سلنه هزاره، ۷ سلنه ازبیک، ٦ سلنه یوازې افغان، ۵ سلنه ایماق، ۳ سلنه ترکمن، او ۵ سلنه د نورو قوي برخو پورې تړاو درلود او ٦ سلنه نورو نه غوښتل چې خپل قومي هویت څرګند کړي. ۹۵ سلنه د پارلمان غړي چې دا سروې ور سره ترسره شوې متاهل وو.

په سلو کښې یو ویلي دي چې هغو یوازې لمړنی ښوونځی لوستی؛ ۲ سلنه متوسطه دوره بشپړه کړې؛ ۱۰ سلنه د لیسې دورې څخه فارغ، ۷ سلنه د ۱۴ لسم فارغان او ۵۳ سلنه د لیسانس دوره بشپړه کړې او ۲۴ سلنه د ماستری او یا له هغه پورته تحصیلات تر سره کړي دي، او ۲ سلنه د خپل تحصیل په اړه حال و نه وایه. د زده کړې سطحه په معکوس ډول د پارلمان د غړو سره تړاو درلود، چیرې د پارلمان ځوانانو غړو د راپور له مخې لوړ تحصیلات درلودل.[16] همدارنګه د جنسیت سره هم دې موضوع تړوا درلود، چې په اوسطه توګه د پارلمان ښځینه غړو لوړ تحصیل درلود.[17]

د پارلمان ۲۵ سلنه غړي چې سروې ورسره تر سره شوې راپور ورکړی چې د هغوي د میاشتې ۱۵۰۰۰۰ څخه لږې افغانۍ ګټې. ۳۱ سلنه راپور ورکړی د هغوي میاشتې عاید د ۱۵۰۰۰۱ څخه تر ۲۰۰۰۰۰ افغانیو پورې دی. ۱۹ سلنه وایي چې د هغوي میاشتې عاید له ۲۰۰۰۰۱ ـ ۳۰۰۰۰۰ افغانیو او ۵ سلنه وایي چې د هغوی میاشتنی عاید د ۳۰۰۰۰۰ افغانیو څخه پورته دی. د پارلمان ۲۰ سلنه غړو د خپل عاید ښکاره کولو څخه ډډه وکړه. په زړه پورې خبره دا وه چې د پارلمان د غړو عاید د هغوی د تعلیم د سطحې سره برعکس وو، یعنې د پارلمان د لږ تعلیم لرونکو غړو خپل عواید د نورو په نسبت لوړ و ښودل.[18] د نارینه او ښځینه پارلمان غړو د عاید ترمنځ کوم د پام وړ توپیر موجود نه وه.[19]

[16] rs(96)=-.281, p<.01

[17] t(97)=2.84, p<.01 (Male MPs N-69, M=5.72, SD=1.14; Female MPs N=32, M=6.22, SD=.61)

[18] rs(83)=-.223, p<.05

[19] t(79)=.877, p>.05

د پارلمان د غړو وخت په پارلمان کښې په اوسط ډول ٦,٥ کاله وه. ۲۰ سلنه غړي په پارلمان کښې ۴ کاله یا د ۴ کالو څخه لږ پاته شوي وو. ۴۰ سلنه د ۴-۵ کالو پورې پاته شوي وو؛ ۳۴ سلنه د ۵-۱۰ کالو پورې په پارلمان کښې خدمت کړی وه. د پارلمان یو غړي و ویل چې د لسو کالو څخه زیات د پارلمان غړی وه، او ۴ سلنه د دې ډول معلومات له ورکولو څخه ډډه وکړه. په پارلمان کښې د خدمت د وخت له نظره د پارلمان د نارینه او ښځینه غړو ترمنځ یو د پام وړ توپیر موجود نه وه.[20] د پارلمان زیاترو غړو راپور ورکړ چې په سیاست کښې یې ژوند تیر کړی وه په اوسط ډول ۲۰,۵ کاله وه. ۱۵ سلنه و ویل چې هغوی د ۴-۵ کاله، ۲۲ سلنه د ۵-۱۰ کاله، ۱۹ د ۱۰ – ۲۰ کاله، ۱۸ سلنه د ۲۰ – ۳۰ کاله، ۲۳ سلنه د ۳۰ کاله څخه زیات ژوند په سیاست کښې تیر کړی دی. ۳ سلنه د پارلمان غړو بیا په سیاست کښې د خپل ژوند په اړه څه و نه ویل. په اوسطه توګه د پارلمان نارینه غړو د پارلمان د ښځینه غړو په نسبت په سیاست کښې زیات عمر تیر کړی دی، چې په سیاست کښې د پارلمان نارینه غړو ژوند ۲۴ کاله وه، په داسې حال کښې په سیاست کښې د پارلمان د ښځینه غړو ژوند ۱۳ کاله وه.[21]

کله چې د هغوی څخه پوښتنه وشوه چې د پارلمان د غړیتوب څخه د مخه د هغوی دنده څه وه، نو ۳۱ سلنه و ویل چې هغوی په حکومت کښې د ملکي مامور یا د ولایتي شورا د غړي په توګه دنده تر سره کړې ده. ١٦ سلنه یې د ښوونکي یا په پوهنتون کښې د استادۍ دنده درلوده، او ۱۴ سلنه راپور ورکړی چې یا په اردو کښې / او یا مجاهد وه. ۱۲ سلنه پخوانې سوداګر، ۹ په غیر دولتي موسسو کښې، او ۴ سلنه ډاکټران وو، او ۹ سلنه د مختلفو مدني ټولنو په فعالیتونو بوخت او ټولنیز فعالین وو. ٦ سلنه خپله پخوانۍ دنده ښکاره نه کړه. سره له دې چې د پارلمان د نارینه او ښځینه غړو ترمنځ یو مهم توپیر موجود وه.[22] د پارلمان یو زیات شمیر نارینه غړو راپور ورکړو چې یا یې د مجاهد په توګه او یا اردو کښې د خدمت سابقه درلوده (له دې جملې څخه ۲۰ سلنه نارینه او ۳ سلنه ښځینه تشکیلوي)، او په سوداګرۍ کښې (١٦ سلنه نارینه او ۷ سلنه ښځینه وي). په هر حال، په پارلمان کښې ډیر ښځو استازو راپور ورکړ چې د هغوي پخوانۍ دندې د ښوونکو یا د پوهنتونو د استادانو په حیث وې (۲۹ سلنه ښځې او ۱۱ سلنه نارینو) او په غیر دولتي موسسو کښې (۱۹ سلنه ښځې او ۴ سلنه نارینه) وو.

## 1.4 محدودیتونه

د څیړنې زماني جدول طبیعي محدودیتونه لري. د معلوماتو راټولول د ۲۰۱۵ کال د اپریل د میاشتې د ۲۰ څخه پیل او د جولای د میاشتې د ۳۰ پورې یې دوام وموند. دا دوره د روژې د میاشتې سره یو ځای پیل شوه، او په دې میاشت کښې معلومات راټولول لږ څه ستونزمن وو، او د ګډون څرنګوالی په دې دوره تر یوې اندازې پورې ضعیف وه. پر دې سربیره، د ۲۰۱۵ کال د جون په میاشت کښې په پارلمان حمله د معلوماتو د راټولولو ځنډ و ګرځیده، معلوماتو ته لاسرسی یې محدود کړ . په دې ترتیب، هغه شمیر چې په نظر کښې نیول شوی وه پوره نه شو، او نتیجه دا شوه چې یوازې د ۹۰ سلنه خلکو استازیتوب وشو او د سروې لپاره په نظر کښې نیول شوې سلنې اندازه ٦,۱۲ شوه او په نتیجه کښې هدف د ۹۵ سلنې څخه راټیټ او د سهوې ګنجایش ۵ سلنه شو.

د فساد د موضوع حساسیت په پام کښې نیولو سره، تصمیم و نیول شو چې دا سروې باید د ګډونوالو له خوا په یوازې یوازې شکل پرمخ یوړول شي تر څو ګډونوالو باور لوړ او د شک څخه را و وځي او سم ځوابونه تر لاسه شي. په هر حال، دا تصمیم د یو شمیر محدودیتونو سره مخ شو. د سروې د موادو د سمې ژباړې په نظر کښې نیولو سره چې باید انګلیسي سره برابره وي، تصمیم و نیول شو چې د سروې مواد په دري او پښتو ژبه و ژباړل شي تر څو ټول ګډونوال یو شان پوښتنې تر لاسه کړي او د بیلو معناګانو د تر لاسه کولو مخنیوی وشي. سره له دې چې د پارلمان ټول غړي په دری ژبه پوهیدل، دا یو طبیعي محدودیت دی چې یو شمیر هغه خلک چې سروې ور سره ترسره شوې ده، سروې یې د لمړی پر ځای په دوهمه ژبه بشپړه کړې ده. پر دې سربیره، سره له دې چې ټولو استازو راپو ور کړ چې هغوی لږ تر لږه لمړنی زده کړې دي او ګډونوالو ته دا حق ورکول شوی وه چې سروې په شفاهي توګه تنظیم کړي، د برخه والو په کچه د سواد مختلفې سویې موجودې وې چې دې کار کیدای د هغوي په درک او توانمندۍ باندې د سروې د بشپړولو په برخه کښې اغیز کړی وی.

پر دې سربیره، د دې لپاره چې لمړیتوب او ځنډ اغیز کم کړو چې په هغه ځواب ویونکي په ډیر احتمال په څو څو ځله د ځواب ورکولو د لیست څخه لمړی او یا آخري غوره کړی دی، په بې ترتیبه بڼه معکوس کود څخه کار اخستل شوی وه، دا په دې معنا چې ځینې عبارتونه په مثبت او نور په منفي شکل تعبیر شوي وو. د بیلګې په توګه، سره له دې مقیاس د "په قوي توګه توافق" څخه "په قوي توګه مخالف" پورې په سروې کښې په عین

[20] $t(99)=.198, p>.05$

[21] $t(95)=5.14, p<.001$ (Male MPs N=69, M=24.20, SD=14.03; Female MPs N=33, M=12.79, SD=8.29)

[22] $X2(7, 102)=18.69, p<.01$

ترتیب ښودل شوی دی، یوه عبارت داسې وه چې "زه کارونه له فکر پرته ترسره کوم" او بل بیا داسې وه چې "زه کارونه په احتیاط سره پلان کوم" په داسې حال کښې چې دا ځواب چې په کلکه موافق یم "په لمړي مورد کښې د لنډ فکرۍ په کچه ځرګندوي، او په دوهم مورد کښې عین ځواب دا په ګوته کړي چې لنډ فکري کمه ده. په داسې یو حالت کښې چې ځواب ورکونکي د کلماتو په کارونه کښې سم پام نه کوي، کولای شي په تصادفي توګه "د موافق یم" پر ځای د "مخالف یم" کلمه استعمال کړي.

مطلوبو خلکو ته د لاسرسي د ستونزو په نظر کښې نیولو سره، د ځیړنې د پیل څخه د مخه وسایل نه وو آزمایل شوي. سره له دې، چې زیاتره غوره شوي مقیاسونه او مواد په پراخه کچه آزمایل شوي او ایجاد شوي دي، دا اصل د افغانستان د شرایطو څخه بهر په کار وړل شوي وو او په عمده توګه په انګلیسي ژبه وو. نو همدې امله، د پیل ځیړنې څخه د مخه باید اضافي وخت، منابع، او لاسرسی، د کار اخستلو څخه د مخه آزمایل او د پوښتنلیک تجدید نظر ته باید ترجیح ورکول شوی وای. ځکه نو په سروې کښې ځینې مقیاسونه او مواد لکه څنګه یې چې وړاندوینه شوې ښه نتیجه ور نه کړه. لیکوالانو یوازې د اندازه کولو هغه مقیاسونه په کار یوړول چېرې چې د (کرونباخ آلفا) ارزښت (۰،۰۵) څخه زیات وه، او هغه مقیاس چې د معیار سره برابر نه وو د انفرادي متغیرونو په توګه تحلیل او تجزیه شوي وو. پر دې سربیره، زیاتره معلومات په عادي توګه ویشل شوي وو. په دې ترتیب، د (t -test)، (Chi-Square) او (Spearman's rho) څخه د متغییرونو تر منځ د تحلیل او تجزیې لپاره چیرې چې لازمه وه استفاده شوې. سره له دې چې (Chi-Square) او (Spearman's rho) غیر پارامیتري آزمیښتونه دي، (t -test) بیا داسې نه دي، او د دوی نتایج باید تقریبي وي.

په راپور ورکولو کښې شخصي تمایلات کیدای شي د معلوماتو پایلې اغیزمنې کړي، په کومو کښې چې د ټولنیزو هیلو تمایلات هم شامل دي. د ټولنیزو هیلو تمایلات هغه ګرایشات دي چې په داسې طریقه ځواب ورکول شي چې ځواب ورکونکی به پرې د ټولنې له نظره ښه و بریښي. شخصي او د حساس ماهیت لرونکو موضوعاتو ته پاملرنه د شخصیت او فساد اندازه کولو لپاره، ممکنه ده چې یو شمیر ګډونوال ځینو، پوښتنو ته داسې ځوابونه ویلي وي چې د ځان د ښه ښکاره کولو لپاره یې د شخصي تمایل پرته ځوابونه ویلي وي. د امکان تر بریده، محرمیت ته په مطالعه کښې ډیر اهمیت ورکول شوی دی. ګډونوالو ته د محرمیت د موضوع په اړه ویل شوي وو او ټول هغه اقدامات تر سره شوي وو چې د سروې پر مهال د راز ساتنې موضوع څخه ډاډ تر لاسه شوی وه. سره له دې چې د دې ستونزې د رفع کولو لپاره تر سره شوي اقدامات، فکر کیږي د ټولنیزو هیلو د تمایلاتو نتایج اغیزمن کړي وي.

د ځواب په برخه کښې شخصي تمایل په دې معنا دی چې هغه کسان چې لوړه کچه طبیعي تمایل لري چې په فاسد بهیر کښې برخه واخلي او تر هرڅه د مخه غواړي چې د خپلې ګټې لپاره کار وکړي نه ښکاریږي په دې سروې کښې برخه واخلي. د ځواب په برخه کښې شخصي تمایل د نمونې اخستلو د هغه تخنیک له امله چې په دې سروې کښې ترې کار اخستل شوی دی، لوړ شوی وو، ځکه چې د تصادفي نمونې اخستلو کړنلاره نه وه کارول شوې. له هغه ځایه چې د ځواب په برخه کښې شخصي تمایل، نمونه اخستنه کیدای شي په بشپړه توګه د هغه متناسب شمیر چې په فاسدو اعمالو کښې ښکیل دي، د هغو په نسبت چې په فاسدو کړنو کښې اخته نه دي، استازیتوب ونه کړي.

بالاخره د ځیړونکو تمایلات، کیدای شي د دې مطالعې نتایج تر اغیزې لاندې راولي ځکه چې ځیړونکي په غیر قصدي توګه لاسته راغلي نتایج تر اغیزې لاندې راوستلای شي. دوه ځیړونکو د دې مطالعې لپاره معلومات را ټول کړي دي، نو د دې لپاره چې د کار د دوام ډاډ تر لاسه شي ځیړونکو ته روزنه ورکول شوې وه چې د معلوماتو د راټولولو پر مهال د عین کلماتو او کړنلارو څخه کار واخلي. دواړه ځیړونکي ښځې وې، نو د هغوی د جنسیت له امله کیدای د پارلمان د غړو څخه د معلوماتو په راټولولو اغیز شوي وي.

# 2. شالید

## 2.1 قانوني او تاکنیز چوکاټ

د افغانستان اوسنی سیاسي نظام د ۲۰۰۱ کال د دسمبر د میاشتې په ۵ رامنځ ته شو، تر څو د "افغانستان دایمي اداري تاسیس کړي" او یوه کړنلاره جوړه کړه. په ۲۰۰۳ کال کښې د افغانستان د اساسي قانون په لویه جرگه کښې په نسبي توگه یو دموکراتیک اساسي قانون تصویب کړ، ترڅو د دولت واکونه و ویشي او یو توزان پکښې رامنځته کړي، محلي او سیمه ایز واک و ویشي او په نظام کښې د اسلام د دین نقش مشخص کړي. اساسي قانون یو خالص ریاستي نظام، چې په هغه کښې به جمهور رئیس او د جمهور رئیس دوه مرستیالان په مستقیمه توگه ټاکل کیږي، ملي شورا (مقننه قوه) به دوه مجلسه لري، او قضاییه قوه به خپلواکه وی. مقننه قوه د دوه برخو څخه جوړه ده چې ولسی جرگه (د خلکو کور)، او مشرانو جرگه (سنا مجلس) څخه عبارت دي، چې مشرانو جرگه په مساوي توگه د ولایتي ټاکل شوو شوراگانو، د ولسوالیو د شوراگانو او د ولس مشر له خوا ټاکل کیدونکو انتصابي غړو باندې ویشل شوې ده [23]. افغانستان د ملي شورا او ولایتي شوراگانو د غړو د ټاکلو لپاره د یوې واحدې او نه انتقالیدونکي رایې (SNTV) د یو سیستم درلوونکي دی، رایه ورکونکي یوه رایه لري او په یوه وخت کښې په خپله ټاکنیزه حوزه کښې یوازې یو نوماند غوره کولای شي، چیرې چې د تر ټولو لوړو با اعتباره رایو ترلاسه کونکی نوماند د مشخص شوي سیټ لپاره بریالی گڼل کیږي. د څو غړو ۳۵ ټاکنیزې حوزې وجود لري، چې د افغانستان د ۳۴ ولایتونو او د کوچیانو یوې حوزې استازیتوب کوي چې دا ټول افغانستان تر پوښښ لاندې نیسي.[24] هر حوزه په پارلمان کښې د هغوی د نفوس په تناسب بیل بیل شمیر سیټونه لري، چې د نفوس شمیره د افغانستان د احصائیې د مرکزې اداري له لوري تیاره شوې ده، دنده لري د ټاکنو کمیسیون ته د هر ولایت، ښاري ناحیې، ولسوالۍ او کلي د نفوس په اړه وروستي دقیق او رسمي ارقام ورکړي، چې په هغې کښې باید کوچیان هم شامل وي.[25]

[23] جی. الکساندر دیر، "په افغانستان کښې د اساسی قانون بنه جوړیدل،" د ییوبارک د قانون د پوهنځی د قانون بررسي ۵۱، ۲۰۰۶/۰۷: ۵۵۸-۵۷۹.

[24] " د نه انتقال وړ د واحدې رایې سیستم اساسات،" یوناما، این جي،

http://unama.unmissions.org/Portals/UNAMA/Documents/Election%20System%20in%20Afghanistan%20Primer.pdf.

http://www.iec.org.af/pdf/legalframework/law/electorallaw_eng.pdf[25]

## 2.1.1الف د سهمیې سیستم

نوی اساسي قانون همدارنگه د پارلمان لپاره د وندو (سهمیو) یو نظام معرفي کړی دی، چې د میرمنو لپاره په ولسي جرگه کښې ۲۷ سلنه او په مشرانو جرگه کښې ۱۷سلنه سیټونه په نظر کښې نیول شوي دي. د ټاکنو کمیسیون په هر ولایت کښې د هغه د نفوس پر بنسټ ولسي جرگې لپاره د سیټونو شمیر تعیین کړی دی تر څو د ښځو لپاره په نظر کښې نیول شوو سیټونو قانوني غوښتنه پوره کړي. دواړه نارینه او ښځینه نوماندان د یوه سیټ لپاره ټاکنیزه سیالي کوي، په هغه حالت کښې چې ښځې په څرگند ډول په هر ولایت کښې د یو سیټ گټونکي نه وي نو هغه ښځه نومانده چا په هر ولایت کښې یې تر نورو ډیرې رایې خپلې کړي وي په نظر کښې نیول شوي سیټ باندې گټونکي اعلانیږي. هغه غړي چې د ولس مشر له لوري د مشرانو جرگې لپاره غوره کیږي، ۵۰ سلنه یې باید میرمنې وي.[26]

## 2.1 ب سیاسي گوندونه

افغانستان یو ځواکمن سیاسي گوندي سیستم نه لري. د واحدې د نه انتقال وړ رایې سیستم د خپلواکو نوماندانو، یا سترو او ښه منظمو گوندونو په گټه دی. د بیلگې په توگه، د ۲۰۰۹ کال د ولس مشرۍ او ولایتي شوراگانو په ټاکنو کښې، د سل څخه زیاتو ثبت شوو گوندونو غړي، او د ۸۰ سلنې څخه زیات د ولایتي شورا نوماندان چې په خپلواکه توگه نوماند شوي وو، د ۳۰ څخه زیاتو سیاسي گوندونو خپل نوماندان وړاندې کړي وو. د ۲۰۱۰ -۲۰۱۵ کلونو په پارلمان کښې، ۲۱ گوندونو په ولسی جرگه کښې استازي درلودل[27] سره له دې چې د استازو د څلور څخه درې برخې د نړیوالې دموکراسی ادارې په وینا په ۲۰۱۲ کال کښې د افغان پارلمان غړو د سیاسي گوندونو سره تړاو نه درلود.[28] په سیاست کښې د سیاسي گوندونو نقش په عمومي توگه محدود، او د منفي شهرت لرونکي دي، او په ټاکنو کښې لږه اغیزمنتیا لري. پر هغوی همدارنگه په عمومي ډول د روښانه پالیسۍ د نه درلودلو له امله نیوکې کیږي، او خلک او شبکې د گوندونو د ملاتړ پر ځای د گوندونو پر مشرانو تکیه کوي.[29]

[26] مونا لنا کروک، دیانا زهرا اوبراین او کریتا ایم سویپ، "پوخي تیری او د میرمنو سیاسي استازیتوب" نړیواله فمینیستی سیاست مجله ۱۲، گڼه. ۱، ۲۰۱۰: ۶۶-۷۹.

[27] "په افغانستان کښې سیاسي گوندونه: د ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ کال د ټاکنو څخه وروسته د سیاسي گوندونو د وضعیت څیړنه،" ملي ډیموکراتیکه مؤسسه، جون، ۲۰۱۱.

[28] "د افغانستان د پارلمان یوه سروې: مهمې موندنې" دموکراسی انټرنشنل، جولای ۲۰۱۲.

[29] انا لرسن، " په افغانستان کښې سیاسي گوندونه،" د امریکا د متحده ایالاتو د سولې موسسه ، مارچ، ۲۰۱۵،

## 2.2 د میرمنو سیاسي استازیتوب

### 2.2 الف د پارلمان څخه بهر د میرمنو سیاسي موقفونه

په سیاسي بنسټونو کښې د میرمنو حضور په محلي کچه ۳۵ سلنه دی، چې ۲۱ سلنه غړي په ولایتي شورا، او ۲۸ سلنه غړي په ولسي جرگې کښې دي.[30] په ملي کچه په ۲۰۱۴کال کښې، ۳۰۸ ښځینه نوماندانې ولایتي شوراگانو کښې سیالی ته ولاړې وي، چې د نوماندانو ۱۱ سلنه یې جوړوله،[31] او ښځو موجودو سیټونو څخه ۲۱ سلنه تر لاسه کړي وو، چې له هغوې جملې څخه ۱۸سلنه یې د سهمیې له مخې نه وو.[32]

په هر حال، په ۲۰۱۴ کال کښې، پارلمان د ولایتي شورا د ښځینه غړو لپاره د سهمیې ندازه کمه کړه یعنې د ۲۵ سلنې څخه یې ۲۰ سلنې ته را ټیټه کړه.[33] په افغانستان کښې لمړنی میرمن والي په ۲۰۰۵ کال کښې و ټاکل شوه، او په ۲۰۱۵ کال ولس مشر اشرف غنی دوه ښځینه والیانې په ډایکندي او غور ولایتونو کښې و ټاکلې، سره له دې چې په غور ولایت کښې د سیما جوینده ټاکنه د محلي مشرانو د مظاهرو سره مخ شوه.[34] په افغانستان کښې په فعال سیاست کښې فعال گډون د یو شمیر گواښونو سره مخ دی، امنیتي گواښونو د میرمنو استازیتوب په پرله پسې توگه د خطر سره مخ کړی دی. په یو شمیر سیاسي میرمنو حملې شوې دي.[35] په یو شمیر سیاستمدارو میرمنو حملې شوې او یا وژل شوي دي، او میرمنو ته دا امنیتي گواښونه د میرمنو د استازیتوب د پرمختگ مخه نیسي.[36]

### 2.2 ب د میرمنو سیاسیونو پر وړاندې سلوک

د پارلمان په داخل کښې میرمنو د سهمیې پر بنسټ غړیتوب ورکول د مخالفت سره مخ شوی دی. په یوه سروې کښې چې په ۲۰۱۲ کال کښې تر سره شوې، ۵۵ سلنه دا احساس کاوه چې د بشپړ استازیتوب لپاره سهمیه اړینه ده، مگر ۴۷ سلنه د میرمنو لپاره په سهمیه باور موجود نه وه. ۶۰ سلنه موافقه وکړه چې په ولسی جرگه کښې د میرمنو د حضور لپاره د سهمیې یوه حد اقل اندازه باید د میرمنو د استازیتوب لپاره پرته له دې چې د ښځو لپاره د سیټونو شمیر چې میرمنې یې ترلاسه کولای شي حتمي و گڼل شي.[37]

پر دې سربیره، په کلنۍ ملي سروې کښې چې د آسیا فونډیشن له لورې تر سره شوې ده، په سیاسي پوستونو باندې د تقرر لپاره ملاتړ د ۲۰۰۸ کال را په دې خوا کم شوی دی. په ۲۰۱۴ کال کښې، د لمړي ځل لپاره، د هغه شمیر افغانانو چې فکر یې کاوه چې سیاسي پوستونه باید عمدتا د نارینه لپاره په نظر کښې و نیول شي (۴۶٫۱) سلنه وه چې دا فیصدي د هغه (۴۲٫۱) څخه لوړه وه چې فکر یې کاوه سیاسي پوستونه باید د نارینه او ښځینه ترمنځ مساوي و ویشل شي.[38]

### 2.3 په افغانستان کښې فساد

دا په پراخه کچه منل شوې خبره ده چې افغانستان د نړۍ په کچه د فاسد ترینو هیوادونو له جملې څخه دی. په ۲۰۱۴ کال کښې، د روڼتیا نړیوال سازمان افغانستان ته د ۱۷۵ هیوادونو له منځه په ۱۷۲ درجه کښې ځای ور کړ. د هغه مقیاس له مخې چې (صفر) په لوړه کچه په فساد کښې ښکلی او (۱۰۰) د فساد څخه پاک گڼل کیږي، افغانستان ۱۲ نمرې اخستې دي.[39] یوه سروې چې تمرکز یې په ۲۰۱۴ کال کښې په افغانستان کښې د فساد په اړه درک او پراخیدو باندې وه، دا معلومات لاسته راوړي، څرگندوي چې افغانان باور لري چې له امنیت څخه وروسته، فساد د افغانستان دوهم تر ټولو ستر مشکل دی. د ۲۰۱۴ کال په سروې کښې ویل شوي دي د پنځو څخه یو افغان د فساد له ستونزې سره مخ شوی دی او په تیرو دولس میاشتو کښې ورکول شوی رشوت شاو خوا ۱۰۵میلیارده

---

http://www.usip.org/sites/default/files/SR362-Political-Parties-in-Afghanistan.pdf.

[30] ماری ایس هوبر، "د جنډر د یو شانوالي د نمرو کارت،" ,EPD ۲۰۱۵.

[31] " په افغانستان کښې ټاکنې: د اپریل د ۵ د ولس مشرۍ او ولایتي شوراگانو ټاکنې،" د ټاکنو سیستمونو نړیوال بنسټ،د مارچ ۲۷، ۲۰۱۴،

http://www.ifes.org/~/media/Files/Publications/White%20PaperReport/2014_IFES_Afghanistan%20Presidential%20and%20PC%20Elections.pdf.

[32] " ولایتي شوراگانې ۲۰۱۴: میرمنو څه وکړل" د افغانستان ټاکنې، ۲۰۱۴.

[33] ماری ایس هوبر، "د جنډر د یو شانوالي د نمرو کارت،" ,EPD ۲۰۱۵.

[34] علی محمد لطیفی، " د افغانستان د میرمنو مشرانو لپاره د لارې هوارلو کوښښونه،" لاس آنجلس ټایمز، د سپتامبر ۱، ۲۰۱۵،

http://www.latimes.com/world/afghanistan-pakistan/la-fg-afghanistan-female-governor-20150831-story.html

[35] "طالبانو افغان سیاستمداره میرمنې تښتولي، د میرمنو د حقوق د کمزوري کولو د کمپاین حملې،" رویترز، د اگست ۱۳، ۲۰۱۳،

http://www.thestar.com/news/world/2013/08/13/taliban_kidnaps_female_afghan_politician_attacks_undermine_womens_rights_campaign.html.

[36] ماری ایس هوبر، "د جنډر د یو شانوالي د نمرو کارت،" ,EPD ۲۰۱۵.

[37] "د افغانستان د پارلمان یوه سروې: مهمې موندنې" دموکراسی انټرنشنل، ۲۰۱۲.

[38] ژاک وارن، "افغانستان په 2014 کال کښې، د افغانستان د خلکو سروې،" د آسیا فونډیشن، ۲۰۱۴.

[39] د نړیوالې روڼتیا اداره، «د فساد د شاخص مشاهده سي پي آی (۲۰۱۴) د سروې نتایج،" ارائه، د دسامبر ۳، ۲۰۱۴،

http://transparency.org.my/wp-content/uploads/2014/12/CPI-2014-Presentation_Final.pdf.

افغانی دی.[40] فساد په پراخه توگه په افغانستان کښې ریښې غزولې دي، چې ډیرو عامه خدماتو ته یې لاسرسی کمزوری کړی دی.[41]

کله چې د درې مهمو ادارو نوم واخستل شو نو په عمومي توگه د ځوابو ویونکو هغه په فساد کښې ډیرې ښکیلې و گڼلې، د ځواب ورکونکو ۱۲ سلنه د پارلمان نوم واخیست، چې عامو خلکو په فساد کښې د ککړتیا له نظره نهم ښودلی وه. د ځواب ورکونکو له جملې څخه یوازې په سلو کښې یو دا فکر کاوه چې پارلمان په دې برخه کښې پرمختگ کړی دی، چې په دې کټگورۍ کښې په څلورمه درجه کښې راځي.[42] کله چې په سیاسي سیستم کښې د فساد د ډیرعام مثال په اړه پوښتنه وشوه، ۵۷ سلنه ځواب ورکونکو وویل چې قومي، شخصي، کورنۍ، او گوندي اړیکې د فساد ډیر عام بنسټ جوړوي.[43]

د ولسي جرگې غړي په عام ډول د فساد په کړنو کښې ښکیل دی، له هغې جملې د مخدره توکو قاچاق، په ټاکنو کښې ټگی او درغلۍ، د حج په مراسمو کښې لاسوهنه، جنگي جنایات، په قانون جوړونه کښې د رایې ورکولو پر مهال فساد او د کابینې د غړو د تایید، د دولتي چارواکو سره خپلو پلویانو ته د دندې ترلاسه کولو لپاره جگړې، حکومتي قراردادونو کښې د مناقصې پرته اسانتیا برابرول شامل دی.[44] دا په عمومي توگه د پارلمان د غړو لپاره یو بنسټ جوړ کړی دی چې د خپل پارلماني موقف څخه په استفاده د گټې څخه ډکه یوه سوداگریزه معامله تر سره کړي.[45]

## 2.4 د میرمنو استازیتوب ته آسانتیا برابرول: پر سهمیو ولاړو سیستمونو نقش او اغیزمنتیا

په سیاست کښې د میرمنو د استازیتوب د بهبود لپاره استدلال یو بنسټیزه تکراري پوښتنه گرځیدلې ده - چې څرنگه؟ ډالروپ (Dahlerup) او لینار (Leyenaar) دا مشاهده کړې ده چې ډیرو پخوانیو غربي ډموکرټیکو هیوادونو کښې دې کار ۱۰۰ کاله وخت و نیو تر څو د میرمنو د استازیتوب په برخه کښې پرمختگ وکړي،[46] چې دا کار نوو ډموکراسیو ته رسیدلو هیواد لپاره د جگړې څخه وروسته حالت کښې د منلو وړ نه دی. په دې ترتیب، د میرمنو د استازیتوب لپاره یوه بهتره وسیله قانوني سهمیه ده، لکه د بیلگې په توگه د افغانستان په ولسی جرگه کښې ۲۵ سلنه حتمي استازیتوب. په هر حال، د داسې پالیسیو د اغیزو په اړه چې میرمنو د گډون اسانتیا برابروي پوښتنې لاینحله پا ته دي.

ډالروپ (Dahlerup) او فریډن فال (Freidenvall) په سکاندیناوي هیوادونو کې د سهمیې د سیستم بررسی کړې ده، چې د سیاسي استازیتوب پر لور د آرجنټاین، کاستاریکا، او جنوبی آفریقا هیوادونو د چټک مسیر په پرتله یو تدریجي حرکت وړاندې کوي. د کاستاریکا په پارلمان کښې د میرمنو حضور د ۱۹ سلنې څخه ۳۵ سلنې ته په یو ځل ټاکنو کښې، او د جنوبي آفریقا په لمړنیو دموکراتیکو پارلمانی ټاکنو کښې د ۳٦ سلنې پورې لوړ شو. هغوی د میرمنو د گډون لپاره درې استدلاله مطالعه کړې دي: (۱) د عدالت استدلال، چې د هغه پر اساس میرمنې چې د نفوس نیمایې اندازه تشکیلوي، په پایله کښې باید نیمې څوکۍ هغوی ته ورکول شي؛ (۲) د تجربي استدلال، چې په هغه کښې میرمنې د بیل بیولوژیکی او ټولنیز جوړښت تجربه لري چې باید هغه په نظرکښې و نیول شی؛ (۳) د ذینفعه ډلو د منافعو استدلال، چې په هغه کښې ښځې او نارینه متضادې منافع لري او په نتیجه تر یو بریده نارینه نه شي کولای د میرمنو استازیتوب وکړي. په هر صورت، هغوی ادعا کوي چې د جنډر سهمیه بندی د مساوات د کلاسیک لیبرال مفهوم څخه د یو شان فرصتونو برابرولو له لارې، د نتایجو د برابرۍ پر لور یو مفهومي تحول رامنځته کوي. وروستی درک پر دې نظر ولاړ دی چې مساوي فرصتونه په ساده توگه د خنډونو لیرې کولو ته چې پخوا یاد شوي دي تحقق نه ور کوي.[47]

د سهمیه بندۍ د سیستم هدف د میرمنو د سیاسي گډون په لار کښې یو شمیر ساختاری خنډونو ته پاملرنه، لکه د ترلو او نارینه له لورې کنترول شوی د استخدام نمونو د سیستمونو د آزادولو له لارې د جنډر د شبکو اخلال له منځه وړل دی. په هر حال، هغوی د جنډر توازن ته د کمپاین د مالي تمویل، هغه خنډونه چې میرمنې ور سره د خپلو مسئولیتونو د سرته رسولو پر مهال د غوره شوو سیاسیونو په بڼه مخامخ کیږي، او حتی کولای

[40] "محمد رازق اسحق زاده،« د افغانستان سوداکري او فساد: د رشوت پروړاندې د مبارژ ملي اداره، ۲۰۱۴ کال، "د افغانستتان دروڼتیا اداره، ۲۰۱۴، http://iwaweb.org/ncs/_2014/docs/national_corruption_survey_2014_english.pdf.

[41] هماغه ځای

[42] هماغه ځای

[43] هماغه ځای

[44] بهواني آر، روهیل او لوک این کوندرا: "ولې په افغانستان کښې خلک فسادو سیاستمدارانو ته رایه ورکوي: په افغانستان کښې د سروې د تجربو شواهد،" د نړیوالې ودې مرکز، مارچ، ۲۰۱۲، http://www.theigc.org/wp-content/uploads/2014/10/Bhavnani-Condra-2012-Working-Paper.pdf.

[45] انا لرسن، " په افغانستان کښې سیاسي گوندونه،" د سولې موسسه ، ۲۰۱۵،

[46] ډالریوپ (Dahlerup) او لینار (Leyennar)، "په سیاست کښې د جنډر د تعادل پر لور حرکت،" ۲۰۱۳.

[47] درود ډالریوپ (Dahlerup) او لیتینا فرایډن وال، " د یو چټک حرکت په توگه د میرمنو د سیاسي استازیتوب لپاره د سهمیه بندی سیستم: ولې سکاندیناوی هیوادونه له دې وروسته ښه موډل نه دی" د (IPSA) په نړیواله کنگره کښې مقاله، دربن، جنوبي آفریقا، ۲۹، پرزنتیشن، د جون ۴، ۲۰۰۳.

شي د ښځینه سیاست مدارانو په بدنامولو کښې مرسته وکړي، هیڅ پاملرنه نه کوي. په هر حال، (Dahlerup) او (Freidenvall) همدارنګه دا معلومه کړه چې سهمیې په حقیقت کښې کولای شي په میرمنو یو بار ور واچوي، د هغوی سره د دوهم جنس په شکل سلوک او هغوی ته د جنسیتی کلیشه یي نقشونو ورکول، مګر دا چې سهمیه بندی د جنسیت په طبیعي بڼه صورت نیولی وی، د (۵۰-۵۰) سلنه سهم یا حد اقل استازیتوب کچه چې په ټولو جنسونو د تطبیق وړ وي.[48] دا مطالعه هغه نظریه روښانه کوي چې په عمومي ډول، په متناسبې نمایندګۍ ولاړ ټاکنیز سیستمونه د میرمنو د استازیتوب د زیاتوالي لپاره د اکثریتي سیستومونو پر نسبت زیاته مرسته کړي.[49] تر ټولو مهمه داده چې، (Dahlerup) او (Freidenvall) دا معلومه کړه چې کیدای شي ځینې هیوادونه د داسې یو فعال په توګه چې د خپل نړیوال اعتبار په برخه کښې حساس وي د جنسیت پر بنسټ ټاکنیزو سهمیو لپاره قانون وضع کړي. لکه څرنګه چې د یوشانوالي لپاره کیلې هر چاته د درک وړ ده، د سهمیې سیستم نه یوازې د میرمنو د ټیټې کچې استازیتوب ستونزو ته پاملرنه کوي، بلکه هغه هیله چې یو هیواد غواړي له ځانه یو عصري او نوښتګر هیواد جوړ کړي په ګوته کوي. دا څیرنه، د ۲۰۰۳ کال راهیسې، د نړیوالې مډیا ډیریدونکی نقش او د نړۍ د رهبرانو د غونډو عمومي ماهیت، غونډو او د داسې غونډو په اړه د رسنیو وروستیو راپورونو، ته پاملرنه کوي. د نړیوال اغیز تصویر په ډیراحتمال یوازې د وخت پر تیریدو او معلوماتو ته د ملي رسنیو زیاتیدونکی لاسرسی له امله د هر چا غوږ ته ورسید.[50]

(Dahlerup) او (Freidenvall) نتیجه تر لاسه کړه چې دواړه تدریجي او چټکې تګلارې خپل فواید او عیبونه لري. هغوی ادعا کوی چې د چټک روش تګلارې چیرې چې میرمنو ته له پاسه سیاسي پوسټونه ور کول شوي وي، هغوی به په نخښه شي مګر دا چې د میرمنو سازمانونو له لورې هغوی سره د ظرفیت د لوړتیا، نیوکو یا ملاتړ په برخه کښې د پام وړ کوښښونه وشي. له بله پلوه، تدریجي تګلاره، معمولا ایجاب کوي چې منتخبې ښځې د پارلمان څخه بهر د ځواک یوه پایګاه لري، مګر دا کار ډیر وخت نیسي او د داسې کړنلارې لپاره زماني چوکاټ په عمومي ډول د سرعت څخه بې برخې دی دا په داسې حال کښې ده چې نړۍ داسې سیاسي اداري غواړي چې د جنډر تعادل په کښې په نظرکښې نیول شوي وي.[51]

[48] هماغه ځای

[49] هماغه ځای

[50] هماغه ځای

[51] هماغه ځای

چن (Chen) په توپیر کښې د تفاضل (Difference-in-Difference) د کړنلارې څخه کار اخلي تر څو د جنډر لپاره د سهمیې د سیستمونو اغیزې د معلوماتو د یوې مجموعې پر بنسټ چې په هغه کښې د ۱۹۷۰ – ۲۰۰٦ کال پورې ۱۰۳ هیوادونه شامل وو او له هغې جملې څخه ۲۲ هیوادونه د جنډر لپاره قانوني سهمیه لري، چې ۴۷ داوطلبانه سهمیې، او ۴۳ د جنډر سهمیې لري، و ارزوي. چن دا معلومات په لاس راوړي چې د پارلمان متوسط کچه ښځینه غړي چې د سهمیې په ډله کښې راغلي کله چې په هغوی د اقتصادي همکاريو او انکشاف سازمان (OECD)هیوادونه، ور علاوه شي نو ۱,۵۲ ځله به د هغو څخه زیاتې شي چې د سهمیې د ډلې څخه بهر راغلي دي، او کله چې د هغوی څخه د اقتصادي همکاريو او انکشاف سازمان (OECD)هیوادونه، لیري شي نو بیا به سهمیه د ۱,۳۱ ځله څخه زیاته وي. په هر حال، دې مطالعې همدارنګه ښودلې ده چې هغه هیوادونه چې د جنډر پر بنسټ سهمیې مني کیدای شي هغه هیوادونه وي چې د سړي سر لوړ ناخلص تولید لري او/یا زیاتې ټولنیزې اندیښنې لري. د ټولو هیوادونو په شمول، د ښځینه استازیتوب لپاره د جنډر سهمیې او ونډې د پام وړ او مثبت ډول یو بل سره تړلې دي، چیرې چې په پارلمان کښې د ښځینه استازو تناسب د جنډر د سهمیې له منلو وروسته ۵,۰۳ فیصده نمرې د غیر سهمي ډلو څخه لوړې دی. دې مطالعې دا هم ښودلې ده چې د داوطلب ګوند سهمیې د میرمنو د استازیتوب سره د قانوني سهم په نسبت زیات تړاو لري، کوم چې دې حقیقت ته نسبت ورکول شوی دی چې سیاسي ګوندونه داوطلبانه سهمیې مني، او داسې نه معلومیږي چې هغه یوه سیمبولیکه پالیسي وي.[52]

چن همدارنګه دا معلومات لاسته راوړ چې په سیاست کښې د میرمنو د حضور زیاتوالی د دولت د لګښتونو په تصمیمونو، په ځانګړې توګه په کورنۍ کښې د میرمنو عنعنوي نقش پورې اړوند موضوعاتو، په لمړۍ درجه کښې ټولنیزه سوکالي، اغیزه نه کوي. په قانون سازۍ کښې د میرمنو یوه سلنه نمره زیاتیدل داسې معلومیږي چې د ټولنیزې سوکالۍ د لګښتونو د زیاتي شوې فیصدۍ سره د ناخالص داخلی تولید په برخه کښې د ۰,۲۸ فیصده نمره یوه متقابله اړیکه پیدا کوي.[53] معلومه شوه چې د جنډر سهمیې په برخه کښې، دا یوه رښتینې اړیکه ده، چې دا طرحه په ګوته کوي چې د میرمنو سیاسي ګډون زیات شي کولای شي د دولت د لګښتونو پر لمړیتوبونو باندې اغیزه وکړي. په هر حال، په داسې حال کښې چې هغه نتیجه تر لاسه کوي چې د سهمیې له لارې د چټک مسیر طرحه په سیاست کښې

[52] لی جو چن، «آیا د جندر سهمیې د میرمنو استازیتوب او پالیسیو باندې اغیز لري؟ » د مقایسوي اقتصاد اروپایي مجله ، ۷، ګڼه ۱، ۲۰۱۰: ۱۳-٦۰.

[53] هماغه ځای

د میرمنو په استازیتوب یو اغیز لري، په مخ په انکشاف هیوادونو کښې په پارلمان کښې د ښځینه استازو ډیروالی کیدای شي د پالیسۍ په نتیجو اغیز و نه لري.[54]

د جنډر د سهمیې اغیز د یوې رقابتي نظریې په توګه پاته دی. ځینو دا اشاره کړې ده چې په ډیرو ملي شرایطو کښې، د واک خاوندان (په عمده توګه نارینه) په عمومي ډول د اجباري سهمیې د میکانیزم سره مخالف دي، او کوښښ کوي د اصلاحاتو خبره له نظره و غورځوي.[55] افغانستان د بیلا بیلو څیړنو پروژو د مطالعې د یوې قضیې په توګه استعمال شوی دی تر څو دا ارزیابي کړي چې آیا د جنډر سهمیه کوم توپیر او د هغه د تطبیق لپاره لمرنۍ هڅونه رامنځ ته کولای شي، په ځانګړې توګه په کومو هیوادوونو کښې لکه افغانستان چې میرمنې په پرتلیزه توګه ښکته موقف لري.[56]

نور بیا اشاره کوي چې د جنډر سهمیه بندي به هیڅکله کافي نه وي چې په یوازې ځان په پایښت لرونکي توګه د میرمنو له سیاسي ګډون سره مرسته وکړي. په ځینې پشرفته بشپړونکو اقداماتو کښې په ورځنیو امورو کښې د اصلاحاتو لپاره د قواعدو د معرفي کولو نقش تر څو میرمنې وکولای شي د شمیر په نظر کښې نیولو پرته خپل اهداف تر لاسه کړي، او همدارنګه په قانون سازو کمیسیونو او کمیتو کښې او عمومي بحث پر مهال د جنډر توازن رامنځ ته کړي. هغه قواعد چې سیاسي ماموریت تنظیموي په هغوی کښې باید اصلاحات رامنځ ته شي، لکه د تقاعد طرحې، د کورنۍ/ولادي/ناروغۍ د رخصتیو پالیسۍ، او د ورځینۍ پاملرنې خدمات. په سیاسي ادارو کښې جنسی آزار او تبعیض باید د برابرۍ د کافي پروتوکولونو له مخې حتما له منځه ولاړ شي. ټاکنیزو سیستمونه باید عام شموله او په بد نیت ولاړ نه وي، د کمپاین لپاره عادلانه مالي تمویل پر قواعدو استوار وي، کوم چې باید د میرمنو کمزورتیا د کمپاین د منابعو په لاسته راوړلو کښې را کمه کړي.[57] د جنسیتي یو شانوالي د رواجولو لپاره په انتخاباتي دفترونو کښې د سهمیې د موضوع څخه لوړې نورې ستراتژۍ لکه د ممکنه نوماندانو زیرمه زیاتول، په سیاست کښې د میرمنو په اړه لا نور پراخه بدلول رواجول، د میرمنو د ډیر شمیر غوراوي لپاره د سیاسي خنډونو لیري کول، د کمپاین ملاتړ، د میرمنو د ټولنو جوړول، او په حسابونو کښې د جنډر پر وړاندې د طبیعي ژبې او همدارنګه د طرزالعمل د ژبې کارول.[58]

[54] هماغه ځای
[55] لیپینارد الینور، "د جنډر سهمیه بندي او بدلیدونکی سیاست،" د پیشرفته مطالعاتو لپاره روبرت شومن مرکز، د نړیوال حکومتوالی پروګرام، د ۲۰۱۴ کال،

http://cadmus.eui.eu/bitstream/handle/1814/31302/RSCAS_PP_2014_06.pdf?sequence=1.

[56] سارا سن بوش، "نړیوال سیاست او په پارلمان کښې د میرمنو لپاره د سهمیې زیاتوالی،" نړیوال سازمان ٦٥، ۲۰۱۱: ۱۰۳-۱۳۷.
مونا لنا کروک، دیانا زهرا اوبراین او کریټا ایم، سویپ، "پوځې تیری اودمیرمنو سیاسي استازیتوب" ۲۰۱۰.
[57] هماغه ځای
[58] مونا لینا کروک او پیپا نوریس، "د سهمیې ور ها خوا: په منتخب دفتر کښې د جنډر یو شانوالي د ترویج ستراتژۍ" سیاسي مطالعې ٦۲، ۲۰۱٤: ۲-۲۰.

# .3 په افغانستان کښې د جنډر او فساد بررسي: د اوسنۍ څېړنې په پایله کښې درېِ اړخیزه لاسته راغلي معلومات

## 3.1جنډر (جنسیت) او فساد

### 3.1 الف د جنډر او فساد په اړه ترکیبي انکشافي څېړنه

د اوسنیۍ څېړنې پر بنسټ د جنډر اړوند د سلوک توپیرونو په اړه ډولار (Dollar)، فیسمن (Fisman) او گوټي (Gotti) داسې فرضیې وړاندي کړې دي چې پارلمان کښې د میرمنو پراخه کچه استازیتوب به د فساد د کچې په را ټیټولو کښې مرسته وکړي، دا اندازه په هیوادونو کښې د فساد د شاخص د خطر د نړیوال لارښود څخه راخستل شوې ده. ډولار مطالعې دا معلومات تر لاسه کړي دي چې حتي د ناخالص کورني تولید د کنترول څخه وروسته، مدني ازادی، نفوس، د تعلیم متوسطه اندازه، د سوداگرۍ آزادي، د هیواد قومي ویش، د هیواد په کچه، په دولت کښې د میرمنو پراخه ونډه، دا ټول د فساد د ټیټې کچې سره تړاو لري[59]

له دې څېړنې وروسته، (Swamy)، (Knack)، (Lee) او (Azfar) د جنډر او فساد په اړه لا نور شواهد و آزمایل، د دې احتیاطي وړاندوینې سره مل چې د هغوي څېړنه د نارینه او ښځینه تر منځ بیولوژیکی تعیین شوې طبیعي تفاوتونه نه څرگندوي، مگر هغه تفاوتونه یې مشاهده کړي چې ټولنیزو کیدو یا نورو عواملو ته نسبت ورکول کیږي.[60] دا څېړنې زیاتره د درې ډوله شواهدو د محتوایي واقعیتونو تجزیې (meta-analysis) په بڼه ترتیب شوې ده. دوی دا معلومات تر لاسه کړل چې په ۱۹۸۱ کال او ۱۹۹۰ -۹۱ کلونو کښې د نړۍ په کچه د ۱۸ سروې گانو، د نارینه په نسبت د پام وړ لوړې فیصدۍ میرمنو باور درلود چې غیر قانوني یا کاذب سلوک هیڅکله د ۱۲ بیلو موادو په برخه کښې د منلو وړ نه دی. په دوهم حالت کښې، د فساد په اړه په گرجستان کښې د نړیوال بانک د مطالعې څخه را اخستل شوې معلومات چې په کښې د ۳۵۰ ټولنو سروې شامله ده، هغوی دا معلومات تر لاسه کړل چې دا ټولنې د میرمنو پورې اړه لري او یا د میرمنو له خوا اداره کیږي وایي کله چې دوی حکومتي ادارو سره مخامخ کیږي په اوسطه توگه ۴,٦ سلنه وختونه رشوت ورکوي، په داسې حال کښې چې هغه ټولنې چې د نارینه پورې اړه لري یا د نارینه له خوا اداره کیږي، ۱۲,۵ سلنه وختونه رشوت ورکوي.[61]

په پای کښې، د (Swamy) او همکارانو د جنډر او فساد په اړه د لوړې کچې ارقامو/معلوماتو مطالعې ته مخ اړولی دی، او گرافټ (Graft) د شاخص څخه د فساد اندازه کولو او په ملي شورا کښې د میرمنو غړو ونډه (proportion of legislators) بیا په کار وړل چې میرمنې دي، او همدارنگه په جنډر او فساد کښې لوړ ارقام د وزیرانو او لوړه کچه دولتي مامورینو د ونډې چې میرمنې دي د حسابولو، او د کار په نیرو کښې د میرمنو ونډې څخه د یو مرکب شاخص په توگه کار اخستی دی. تر ټولو مهم، دې مطالعې دا روښانه کړې ده چې دا فرضیه دوه بعده لري: (۱) د پارلمان د غړو په فساد کښې ککړیدل د حکومتي فساد یوه مهم اړخ دی، چیرې چې به میرمنې لږ رشوت واخلي، د پارلمان د غړو د فساد قضیې کله چې میرمنې ډیر سیټونه تر لاسه کړي لږ وي. (۲) د پارلمان غړي کولای شي د لوړ پوړو چارواکو او قضائیه قوې د فساد د پیښو شمیر باندې د رشوت د اخستلو د قانون د تصویب له لارې د مقرریو په برخه کښې د اغیز، او یا فساد په عمومي آجنداء کښې د شاملولو له لارې، اغیزه وکړي. د سړي سر عاید لپاره کنترول، د تعلیم اوسط کلونه چې لویانو بشپړ کړي دي، دین، د ښکیلاک تاریخ، قومي ویش، او ډموکراتیکي اداري د آزادۍ کور (Freedom House) د سیاسي ازادیو د شاخصونو څخه په استفاده، مطالعې ښودلې ده چې د میرمنو گډون په دولت کښې د فساد د پیژندلو لپاره مهم دی. پر دې سربیره، څېړنو ښودلې ده چې د میرمنو د گډون اغیز په هغو هیوادونو کښې د جنډر نیمگړتیا زیاته ده، ډیر دی.[62]

[59] دیوید ډولار، ریموند فیسمن، او روبرتا گاټي، "آیا میرمنې واقعا 'عادل جنس دی؟په حکومت کښې فساد او میرمنې، "نړیوال بانک د جنډر د انکشاف د پالیسی د څېړنې راپور، کاري مسلسله ۴ گڼه، اکتوبر ۱۹۹۹.

[60] آناند سویمي، ستیفن کناک، یونگ لي، او اضفرعمر، "جنسیت او فساد" د انکشافي اقتصاد مرکز، ویلیامز کالج، کاري گڼه، آگست ۲۰۰۰.

[61] هماغه ځای

[62] هماغه ځای

## تجربوي څېړنه

له دې مطالعاتو وروسته، په جنډر او فساد باندې يو د پام وړ تجربوي څېړنه تر سره شوې ده. العطاس (Alatas) او همکارانو يوه تجربه تر سره کړه تر څو دا معلومه کړې چې چيرې د فساد په منلو کښې تفاوت موجود دی، هغه قضايا چې په آسراليا، هندوستان، اندونيزيا او سنګاپور کښې تر سره شوي دي دا څرګندوي چې د هيواد څخه تر بله فرق موجود دی. د جنډر په اړه توپير يوازې په آسترالیا کښې ليدل شوی دی، او دا يې معلومه کړې ده چې د نارينه سلوک معمولا د هيوادونو تر منځ يو شان وه، چيرې چې د ميرمنو په سلوک کښې تفاوت موجود وه.[63] په ۲۰۰۹ کال کښې، يوه ورته مطالعه د العطاس او همکارانو، دوهم ځل د معلوماتو د راټولولو لپاره په ورته جغرافيوي حدودو کښې تر سره کړه، معلومه شوه چې د فساد په اړه جنسيتي توپيرونه کيدای شي نړيوال و نه ګڼل شي، او يو ځل بيا يې د فرهنګي مشخصاتو موضوعات په ګوته کړل. هغوی دا معلومات تر لاسه کړل چې په داسې حال کښې چې په استراليا کښې ښځې د فساد تحمل درلود، بيا هم په هندوستان، اندونيزيا، او سنګاپور کښې د جنډر له نظره مهم توپيرونو موجود نه وو. هغوی دې لاسته راوړنو ته په بيلابيلو فرهنګونو کښې د ښځو ټولنيز نقش سره نسبت ور کړ او ادعا يې وکړه چې په نسبي توګه په ډيرو پدرسالارو ټولنو کښې چيرې چې ښځې په عامه محيط کښې فعال نقش نه لري، د ميرمنو نظريات کيدای شي تر ډيره بريده د نارينه د نظرياتو تر اغيز لاندې را شي. د دې حالت په نظر کښې نيولو سره، هغوی ادعا کوي چې په داسې ټولنو کښې، کولای شي يو څوک تمه ولري چې هلته چې ميرمنې په آسانۍ کولای خپل غبرګ پورته کړي د جنډر له نظره د فساد پر وړاندې په سلوک کښې لږ توپير موجود وي، چې دې ادعا ته د ليبراله دموکراسۍ او ټولنيزو سازمانونو سره تړاو ورکول کيږي.[64]

لامبس ډروف (Lambsdorff) او فرانک (Frank) په آلمان کښې د پوهنتون د محصلينو سره يو تجربه تر سره کړه او داسې يوه سناريو چې په هغې کښې يو سوداګر، پرته له دې چې د دولت مامور ته ډالۍ يا رشوت ورکړي بله چاره نه درلوده، د سوداګر او عامه مامورينو سره يو شمير نور مختلف غوراوي په لاس کښې لرل. تجربې ښولې ده چې نارينه متقابلو مثبتو اړيکو ته تمايل لري، چې متقابل منفی عمل تر سره کړي، کله چې د رشوت څخه کار نه کيده نو شپيلي يې وهل. دا لاسته راوړنې د يو قوي احساس سره سم چې نارينه رشوت اخستلو ته تيار دي او د ميرمنو تر منځ د يو شانوالي لپاره يوه انديښنه چې په پخوانۍ څېړنه کښې معلومه شوې مطابقت لري. د ميرمنو په باره کښې ويل کيږي چې د بل د خوښې لپاره فاسد عمل سر ته رسولو لپاره ډير تياری نه لري. په هر حال، څيړونکو همدارنګه پخوانيو څېړنو ته اشاره کړې چې دا څرګندوي چې ښځې هم د خپلوانو او ملګرو په خاطر د خدمت په مقابل کښې يو څه اخستلو ته تيارې دي.[65]

د وروستۍ تجربوې مطالعې په بيا کتنه کښې، ديوادی (Djawadi) او فهر (Fahr) يو تجربه وړاندې کړه چيرې چې ګډونوالو يا عايد لاسته راوړی او يا يې يو کار لپاره وقف کړی دی، او يو اضافي عايد چې د رشوت په نامه وي، واخلي يا يې رد کړي، چې د خطر سره مل وه. د پخوانيو اسنادو سره په مطابقت کښې، دې تجربې ښودلې ده چې ميرمنې د نارينه په نسبت له خطر څخه ډيرې تښتي. په هر حال، معلوماتو او ارقامو دا ښودلې ده چې احتمالا، ميرمنې په دې برخه کښې د نارينه څخه زيات په فساد کښې د ککړتيا د خطر سره مخ وي، سره له دې چې د خطر څخه ډيره تيښته يې له ځانه ښودلې ده.[66]

په ورته ډول دا لاسته راغلي معلومات، په وروستيو بيا کتنو چې د فاسدو تجربو د لابراتوار څخه تر لاسه شوي، فرانک لامب دروف او بيوخم، د لابراتوار شپږ تجربې بيا کتلې او دې پايلې ته رسيدلي دي چې که ميرمنې په ممکنه توګه په فاسدو معاملاتو کښې راشي، داسې معلوميږي چې ناکامې به شي. هغوی دا مشاهده کړه چې دليل دا نه دی چې ميرمنې په طبيعی ډول تر نارينه ډيرې صادقې دي، بلکه هغوی ډيرې فرصت طلبه دي چې که هغوی دا چانس ولري تر څو يو فاسد قرارداد مات کړي او په غير انتقامي کړنو کښې به لږه بوختيا ولري. په اصل کښې، هغوی ادعا کوي چې ميرمنې د خطر د تشخيص په برخه ډير غبرګون ښئ، او لږې غواړي چې د فاسدو عناصرو سره د باور اړيکې جوړې کړي.[67]

[63] ويوي العطاس، ليزا کامرون،انانيش چوهدری، نيسوان اريکل او لاتا ګنداهارن، "جنسيت او فساد: د تجربی تحليل او تجزيې نظريه،" د ملبورن، پوهنتون، ۲۰۰۵.

[64] ويوي العطاس، ليزا کامرون، انانيش چوهدری ، نيسوان اريکل او لاتا ګنداهارن، "جنسيت، فرهنګ، او فساد: د تجربی تحليل او تجزيې نظريه،،" د جنوب اقتصادي مجله۷۵، ګڼه۳، ۲۰۰۹: ۶۸۰-۶۶۳.

[65] يوهان ګراف لامبزګروف او بايرن فرانک، " فاسد متقابل عمل: د نارينه په لوبه کښې تجربي شواهد،" د نړيوالو حقوقو او اقتصاد بررسی، ۲۰۱۱.

[66] بهنود ايم جوادی او ريني فر، "د خطر د درک اغيز او د فاسد رفتار خطر ديدګاه: د کم فساد د ازمايلو شواهد، IZA، د بحث مقاله، ګڼه ۷۳۸۳، می ، ۲۰۱۳.

[67] بيورن فرانک، يوهان ګراف لامبزګروف، او فردريک بوخم، «جنسيت او فساد: د فساد د آزمايلو لابراتوری لاسته ته راغلې تجربې ،" د انکشافي څېړنو اروپايي مجله ۲۳، ۲۰۱۱: ۵۹-۷۱.

## 3.1 ب د باور په اړه لاسته راغلي معلومات او فساد د خطر سره مخامخ کیدل

په دې څېړنه کښې، د پارلمان نارینه او ښځینه غړو تر منځ د فساد د خطر د موجودیت د باور پورې اړوند هر یو مورد کښې کوم څرګند توپیر موجود نه وه. ۵۱ سلنه ځواب ورکونکو موافقه کړې ده چې موافق، تر یوې اندازې یا په کلکه موافق دي چې د کوچنی رشوتونو په برخه کښې د پارلمان زیاتره نارینه غړي شامل دي، په داسې حال کښې چې ۴۹ سلنه د پارلمان د ښځینه غړو په اړه ورته فکر کاوه.

### د فساد په اړه باورونه

یوازې ٦ سلنه ځواب ورکونکو په قوي توګه او یا تر یوې اندازې موافقه وکړه چې یو کوچنی رشوت د غټ رشوت په اندازه بد نه دی، سره له دې چې ۵۹ سلنه ځواب ورکونکي په قوي توګه د دې بیان مخالف دي. په ورته توګه، یوازې ٦ سلنه ځواب ورکونکي تر یوې اندازې موافق دي چې د ځانګړو شرایطو لاندې، ځینې وخت دا سم کار دی چې رشوت واخستل شي. چیرې چې ٦۹ سلنه دا بیان رد کړی دی.

په هر حال، ٦ سلنه ځواب ورکونکي، په قوي یا تر یو بریده له دې بیانیې سره مخالف وو چې دا ممکنه نه ده چې د افغانستان په دولت یا سیاست کښې د رشوت کښې د ککړتیا پرته دې یو څوک بریالي وي. یوازې ١٦ سلنه ځواب ورکونکو په قوي توګه د دې بیانې سره موافقه څرګنده کړې ده. پر دې سربیره، ۷۵ سلنه ځواب ورکونکو موافقه کړې ده چې دا د پارلمان د غړو لپاره یوه عادي خبره ده چې د خپل مقام څخه د خلکو د خوښې د کارونو سرته رسولو لپاره کار واخلي. یوازې ۴ سلنه ځواب ورکونکو په قوي توګه له دې بیانې سره مخالفت کړی دی. د باورونو څخه یو هم د فساد په اړه په څرګنده د جندر، عمر، میاشتیني عاید، د تعلیم سطحې، په پارلمان کښې د خدمت دوره، او یا د سیاسي ژوند سابقې سره تړاو نه درلود.

### د فساد د خطر سره مخامخ کیدل

د پارلمان غړو د فساد د خطر د لوړې کچې راپور ورکړی دی. ۹۳ سلنه موافقه کړې یا یې په کلکه موافقه کړې ده چې خلک هغوی ته راځي چې د هغوی د خوښې کار ورته وکړي. ۸۸ سلنه موافقه کړې، یا یې تر یوه بریده یا په کلکه موافقه کړې ده چې خلک یا د کورنیو غړي د هغوی خدمتونه تر سره کوي، خو د پارلمان غړي په کلکه د دې خبرې مخالفت کوي. د پارلمان د غړو د نظر مطابق چې قوي باور لري، وایې رشوت خوړل مناسب کار نه دی، یوازې ۱۱ سلنه راپور ورکړی دی چې خلک وکیلانو ته راځي تر څو رشوت ورکړي یا د خدمت په مقابل کښې معاوضه ور کړي. ۴۷ سلنه په کلکه د دې بیانې سره مخالفت وکړ.

راپور ورکول شوی چې خلک تل دوی ته راځي چې د هغوي خدمت وکړي کوم چې د عمر سره متقابل تړاو لري، یاده شوې ده چې د پارلمان نسبتا مسن غړي په ډیر احتمال د دې بیانې سره توافق درلود.[68] راپور ورکول شوی چې خلک یا د هغوی د کورنی غړي چې د تعلیم ښه سطحه لري اکثرا د هغوی په نفع کارونه کوي، دا په داسې حال کښې ده چې د لږ تعلیم لرونکي خلک د دې خبرې سره موافقه کوي. راپور ورکول شوی چې خلک تل هغوی ته راځي چې چې د یو کار په مقابل کښې رشوت یا معاوضه ورکړي.[69] چې دا خدمت د دواړو عمر[70] ، او میاشتني کورني عاید سره تړاو درلود[71] چیرې د پارلمان مسن غړي او هغه غړي چې لږ عاید لري د دې بیان سره په زیات احتمال موافقه لري.

### مذهبي باور[72]

په زیاترو حالاتو کښې مذهبي فعالیتونه د فساد پور مربوط یو شمیر مواردو سره پیوند لري. د سروې ګډون کونکو چا چې ویل په خپله هم ډیر مذهبي خلک دي په ډیر احتمال د دې خبرې سره موافقه کړې چې په ځانګړو شرایطو کښې دا سم کار دی چې رشوت واخستل شي[73] ، او راپور یې ورکړی چې خلک اکثرا دوی ته رشوت یا معاوضې وړاندیز کوي.[74] پر دې سربیره، هغه کسان چې ځان ډیر مذهبي معرفي کوي په ډیر لږ احتمال په دې باور وو چې د افغانستان په حکومت یا سیاست کښې د فساد کښې د ککړتیا پرته یو څوک بریالی کیدای نه شي.[75]

### مترقي او محافظه کارانه باورنه

د پارلمان غړیو څخه هم دا پوښتنه وشوه چې هغوی تر کومه بریده د هغو بیانیو سره چې د مترقي یا محافظه کاره ارزښتونو د اندازه کولو لپاره طرحه شوي دي موافق یا مخالف دي. د نارینه او ښځینه تر منځ په دې مورد کښې کوم مهم توپیر موجود نه وه. ۹۰ سلنه ځواب ویونکي د میرمنو پر وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوي د قانون د ملاتړ سره موافق، تر یوې اندازې موافق یا په کلکه موافق وو. په هر حال، ۵۹ سلنه ځواب ویونکي

[68] rs(97)=.206, p<.05

[69] rs(97)=.214, p<.05

[70] rs(95)=.264, p<.05

[71] rs(82)=.261, p<.05

[72] 5-item scale (A1-A5), N=93, Cronbach's alpha=.701

[73] rs(102)=.501, p<.001

[74] rs(102)=.321, p<.001

[75] rs(97)=-.210, p<.05

موافق، تر یوې اندازې موافق یا په کلکه موافق وو، چې د جنسي آزار سره مخ شوو میرمنو ته د خوندي کورنو جوړول یو ښه حل نه دی. ۸۳ سلنه همدارنګه له دې سره موافق، تر یوې اندازې موافق یا په کلکه موافق وو، چې د بشري حقونه د افغاني ارزښتونو سره تناقض نه لري، او یوازې ۱۲ سلنه موافق یا په کلکه موافق وو چې بشري حقوق غربي ارزښتونه دي. ۷۰ سلنه موافق، تر یوې اندازې موافق یا په کلکه موافق وو چې دا سمه خبره ده چې دا د خلکو خوښه ده چې په ټولنه کښې بیلا بیل ارزښتونه ولري. په هر حال، ۷۷ سلنه همدارنګه موافق، تر یوې اندازې موافق یا په کلکه موافق وو، چې دا مهمه ده چې ټول باید یو شان " افغاني ارزښتونه" ولري. په زړه پورې داده چې، د پارلمان نارینه او ښځینه غړو ترمنځ د پام وړ توپیر موجود نه وو چې میرمنو ته په پارلمان کښې د غړیتوب په خاطر د سهمیې سیستم یو ښه کار دی.[76] ۸۲ سلنه ځواب ویونکي موافق، تر یوې اندازې موافق یا په کلکه موافق وو، چې دا ښه کاردی چې، دا په داسې حال کښې ده چې یوازې ۸ سلنه یا مخالف یا په کلکه مخالف دي.

د دې موادو او متغییرونو ترمنځ چې د فساد د خطر سره مخامختیا او درک اندازه کوي یو څو اړیکي موجودې وي. د بشر حقوقو او افغاني ارزښتونه په معکوسه توګه د دې باور سره تړاو درلود چې دا د پارلمان د غړو لپاره عادي خبره ده چې د خپل مقام څخه په استفاده د نورو خلکو خدمت وکړي، کله چې خلکو دا فکر کاوه چې د بشري حقوقو اصول د غربي ارزښتونو سره تناقض نه لري، لږ احتمال شته چې څوک فکر وکړي چې دا یوه عادي خبره ده.[77] دا باور چې د بشري حقوقو ارزښتونه غربي ارزښتونه دي په معکوس ډول هغه باورونو سره تړاو لري چې دا ممکنه ده چې پرته له دې چې په فاسدو کړنو کښې ککړ اوسې د افغانستان په حکومت یا سیاست کښې به بریالی شې، په داسې حال کښې چې هغه خلک چې په دې باور دي چې بشري حقوقو غربي ارزښتونه دي په ډیر احتمال په دې باور وو چې دا ممکنه نه ده.[78] پردې سربیره، دا باور چې دا ډیره مهمه ده چې هر څوک افغاني مساوي ارزښت لري د یو شمیر متغییرونو سره ارتباط لري. هغه څوک چې دا احساس یې کاوه چې دا د ټولو لپاره مهمه ده چې ور ته ارزښتونه ولري په ډیر احتمال دا فکر کاوه چې دا د پارلمان د غړو لپاره عادي خبره ده چې د خپل موقف څخه د خلکو د خوښې کارونو سرته رسولو لپاره کار واخلي،[79] او چې راپور ورکړل شي چې خلک او د هغوی د کورنۍ غړي اکثرا د دوی په نفع کار کوي.[80] په دې مواردو کښې، سره له دې چې مترقی باورونه د محافظه کارو باورونو سره مخامخ دي داسې معلومیږي چې په فاسدو باورونو یا سلوک ډیر لږ اغیز لري، داسې هم ښکاري چې کوم ځای چې اړیکه شتون لري، زیاتره محافظه کارانه باورونه د ډیرو فاسدو کړونو او باورونو سره پیوند لري.

## 3.2 د ســــلــوک توپیــــرونه او شخصیتـــي ځــانګـــړنــې

په دې سروې کښې، د ۳۵ مواردو په اړه پوښتنې و شوې چې د پارلمان غړي تر کومې اندازې پورې د ۷ شخصي خصوصیاتو د اندازه کولو د طرحه شوو بیانونو سره موافق یا مخالف دي: لنډ فکري، اعتماد، د خطر څخه تیښته، ځان غوښتنه، تربیه، مادیات خوښونه، او صداقت، او همدارنګه یوه برخه چې د ګډونوالو ټولنیز تسلط پلوي کول (SDO) هم شامله ده. دا برخه اوسنۍ څیړنه او فرضیې، تجربه کوي او همدارنګه د دې څیړنې څخه لاسته راوړنې چې آیا دا خصوصیات د فساد خطر سره مخامخ تیا او فساد اړوند باور سره متقابلې اړیکي لري، او آیا دا چې په هر خصوصیت کښې د جنډر مربوط توپیرونه شتون لري.

### 3.2 الف موجوده څیړنه

په حکومت کښې د جنډر او فساد په اړه په پخوانۍ بیا کتل شوو څیړنو کښې، ډولار (Dollar)، فیسمن (Fisman) او ګاټي (Gatti) له خوا یو شمیر رفتاري مطالعې و ارزول شوې چې هغوی داسې شواهد تر لاسه کړل چې میرمنې د ټولنیزې روحیې له نظره د نارینو په پرتله ډیرې د باور وړ دي.[81] څیړنو دا و ښودله چې میرمنې په ډیر احتمال د مرستندویه سلوک خاوندانې دي؛[82] د ټولنیزو موضوعاتو په اړه؛[83] د اعتماد د آزمایلو لوړې نمرې لري؛

[76] t(45)=.508, p>.05

[77] rs(97)=-.256, p<.05

[78] rs(93)=-.258, p<.05

[79] rs(94)=.281, p<.01

[80] rs(93)=.249, p<.05

[81] ډیوید ډولار، ریموند فیسمن، او روبرتا ګاټي، "آیا واقعا میرمنې 'عادل جنس دی؟" اکتوبر ۱۹۹۹.

[82] ای ایچ ایګلی او ایم. کراولی، «جنسیت او رفتاري مرسته: د ټولنیزې روانشناسی د ادبیاتو یوه تحلیلي بررسي،» رواني بولتن ۱۰۰، ۱۹۸۶: ۲۳۸-۳۰۸.

[83] تي جي. ګیوتزل، " جنسیتی فاصله: جنسیت، کورنی عاید، او په ۱۹۸۰ لسیزو په لمړیو وختو کښې سیاسي نظریات،" د ټولن پیژندنې سیاسي او پوځي مجله۱۱، ۱۹۸۳: ۲۰۹-۲۲۲.

[84] د اخلاقي سلوک په اړه کلکه موضع ګيري؛[85] د اقتصادي تصميم نيولو پر وخت ډېر سخاوتمندانه سلوک اختيارول.[86]

تروګلر (Torgler) او والب (Valev) دا موضوع مطالعه کړه چې آيا ميرمنې تر نارينو زيات تمايل لري چې شکايت وکړي، او آيا د هغوی تر منځ په سلوک کښې د زمانې په تيريدو په يوه ډله کښې د پاته کيدو د اغيز له امله توپير شته – يعنې په سلوک توپير د يو عمر لرونکي ډلې ترمنځ په مختلفو زمانې دورو کښې – يا د عمر اغيز. د ۱۹۸۱ – ۱۹۹۹ کلونو د نړيوالو ارزښتونو د سروې ګانو او د اروپايي ارزښتونو د سروې ګانو د ارقامو څخه په استفاده او د تعليم، مدني حالت، اقتصادي حالت، د دندې نوعيت، او په قانوني سيستم او پارلمان شخصي باور، د هغوی څېړنې د متغييرونو د بررسۍ له لارې دا معلومه کړه چې جنډر يو قوي اغيز لري، چيرې چې ميرمنې د نارينو په نسبت زياتره وخت غواړي چې اصول رعايت کړي، او ميرمنې په لړ احتمال په دې باور دي چې په ماليه ورکولو کښې ټګي د توجيه وړ وي. هغوی همدارنګه دا هم معلومه کړه چې فساد د زمانې په تيريدو په جنډر کښې د توپير له نظره، چې د نقش تئوری سره په تناقض کښې ده، ښکاره کوي چې جنسيتي برابری کښې زياتوالی به د زمانې په تيريدو د جنډر تر منځ توپير را کم کړي. دا نظريه زياتره د ګډ ډله ايز ژوند د اغيز نشتون او د عمر په اړه د لاسته راغلو معلوماتو پر بنسټ لا نوره ملاتړ شوه.[87]

### د شرايطو سره سم د جنډر د سلوک توپيرونه

نورو مطالعاتو د فاسد سلوک له امله په جنډر کښې توپيرونه معلوم کړي دي چې د ارزښت (قيمت) او شرايطو سره تړاو لري. آندروني (Andreoni) او ويسترلاند (Vesterlund) په يوه ډيکاتوري لوبه کښې توپيرونه "د بشر دوستۍ د غوښتنې" پر بنسټ مطالعه کړي دي، او دا معلومات يې تر لاسه کړي دي، چې کله چې د بشردوستۍ ارزښت لوړ وي، نو ميرمنې ډيرې سخې وي، په داسې حال کښې کله چې د قيمت (ارزښت) ټيټ دی نو نارينه ډير بشر دوستانه دي. دا لاسته راغلي معلومات څرګندوي چې بشردوستانه سلوک د ورکولو په ارزښت يا قيمت پورې اړه لري، چيرې چې سړي د قيمت په اړه ډير انعطاف منونکي دي او ميرمنې ډيرې مساوات غوښتونکي دي. په بله مطالعه کښې، سونګ او همکارانو (Song) د جنډر توپيرونه نورو ته د احترام د سلوک له نظره کله چې فعالين د يوې ډلې مسئوليت په غاړه ولري مطالعه کړي دي. دوی دا معلومات تر لاسه کړي دي چې نارينه د ډلې په استازيتوب کار کوي، د هغه په نسبت چې د خپل ځان په استازيتوب عمل کوي نورو ته لږ احترام کوي، اما په ميرمنو کښې بيا دا توپير نه ليدل کيږي.[88]

وانګنيورد (Wangnerud) تر دې وړاند ځي او "د عقلانيت ديدګاه" روښانه کوي چې قيمت او ګټې يې محاسبه کيږي، ميرمنې د نارينه په نسبت نه غواړي چې په فاسده کړنه کښې اخته شي، دا معلومات په محلي سطحه په مکسيکو کښې تر لاسه شوي دي.[89]
د نورو څېړونو پر خلاف په دې ساحه کښې، وانګنيورد (Wangnerud) يو ترکيبي موډل وړاندې کوي چې هغه به دا په نظر کښې نيسي چې کله او کومو شرايطو کښې دا منطقي ده چې يو څوک باور وکړي چې جنډرهغه عامل دی چې نتيجه لاسته راوړي، او د جنډر کومه تيوري د په کار وړلو وړتيا لري. د عقلانيت ديدګاه له نظره، کيدای شي چې ميرمنې نه يوازې د نارينو له شبکې څخه و ايستل شي، بلکه په فعاله توګه به کوښښ وکړي چې د ځواک متبادل بنسټونه لکه ټولنيز حرکتونه، کوم چې تل له دولتي دفترونو څخه د ناوړې ګټې د مخنيوي د يو څارونکي دنده په غاړه لري، چې دا کار به په فساد کښې د ککړتيا په ځانګړې توګه د ميرمنو لپاره د راتلونکي سياسي سياليو لپاره د ملاتړ د تر لاسه کولو په برخه کښې د هغوی چانسونه له منځه يوسي. پردې سربيره، د يو ښهري په توګه وانګنيورد (Wangnerud) تر دې وړاندې ځي او وايي چې دا اړينه ده چې دا واقعيت په نظر ونيول شي چې ميرمنې معمولا د نارينو په نسبت لږه شتمني لري، چې په دې حالت کښې به، ميرمنې د منطق له نظره د فاسدو کړنو څخه ځان و ژغوري او د دې لپاره خبرې وکړي چې کله د هغو څخه د رشوت غوښتنه وشي نو لږ مقدار به ورکړي. په نتيجه، وانګنيورد (Wangnerud) ادعا کوي چې ميرمنې کيدای شي د فساد په اړه له نارينو څخه د طبيعي توپيرونو له امله نه، بلکه د هغوي د بيلو شرايطو له مخې،

[84] ډنيس ايس. ونز او چاکلينګم ويسويورن، "جنسيت، عمر او د نژاد توپير ا اوبرت صداقت آزمايل: د کار غوښتننکو يوه مجموعه په څلورو سترو مقياسونو کښې نتايج، " د تطبيقي روانشناسۍ مجله ۸۳، ګڼه ۱، ۱۹۹۸: ۳۵-۴۲.

[85] ايچ. سندورا ګلوور، مينتي ای. بمپوس، جان ای. لوګان، او جيمز آر. شيسلا، "د فردي ارزښتونو بياکتنه په اخلاقي تصميم نيونه کښې،" د سوداګرۍ داخلاقو فصل۱٦، ګڼه.۱۲/۱۳، ۱۹۹۷: ۱۳۱۹-۱۳۲۹.

ميشل سي. ريس او کوشيک ميترا، "د کار په محيط کښې د فردي تفاوت د عواملو اغيز د اخلاقی او غير اخلاقی رفتارونو خپلول،" د سوداګرۍ د اخلاقو مجله ۱۷، ګڼه۱۴، ۱۹۹۸، ۱۵۸۱ -۱۵۹۳.

[86] کاترين سي. ايکل او فيليپ جی ګراسمن، "ميرمنې د نارينو څخه لږې ځان غوښتونکي دي؟: د ديکتاتور د آزمايلو شواهد " اقتصادي مجله ۱۰۸، ۱۹۹۸: ۷۲٦- ۷۳۵.

[87] بنو تورګلر او نون تي والف، "ميرمنې او غيري قانوني فعاليتونه: د جنسيت توپير او د د زمانې په اوږدو کښې په ميرمنو د رعايت کولو تمايل،" د اقتصادي څېړنو مرکز، مديريت او هنر (CREMA)، کاري ګڼه. ۲۰۱٦ـ۱۵ ، ۲۰۰٦.

[88] هماغه ځای

[89] لينا وانګنرد، "د مکسيو په مختلفو ولايتونو کښې د فساد ډولونه: د جنډر د لرليد تشريح،" د دولتي ادارو څرنګوالی، د ګوتمبرګ پوهنتون،د فبرورۍ ۹، ۲۰۱۱.

http://www.ipd.gu.se/infoglueCalendar/digitalAssets/1772626008_BifogadFil_Wangnerud-underlag.pdf.

چې په فرهنګي او ټولنيزه توګه خپله ځانګړتيا لري، بيل ډول غورواى و لري.[90]

### د روانشناسۍ له نظره څېړنه

پخوانيو څېړنو کوښښ کړى دى چې کوم شخصي خصوصيات د فاسد رفتار برخلاف اخلاقى رفتار هڅوي؛ په هر حال، د دې موضوع په اړه زياتره تر سره شوي مطالعات د غربي فرهنګ تشوشات په نظر کښې نيسي، او لږ کوښښ کوي چې په هغه فرهنګ او شرايطو ځان پوه کړي چې په دې شرايطو کښې د تطبيق وړ نه دي. د شخصيت د پنځو عناصرو لرونکی موډل ځرګندوي چې پنځه اصلي عناصر شخصيتي خصوصيات په ګوته کوي: رواني تشوشات، د بهرني وضعيت په اړه انديښنې، د تجربو هرکلی، توافق، د وجدان پيروي.[91] رواني تشوشات هغه تمايل دی چې د احساس له نظره نامنظم و اوسي، افسرده وي، نا آرامي او پر ځان ډاډ يا پر ځان نه باور دی. د بهرني وضعيت په اړه انديښنې هغه تمايل دی چې بايد دوستانه اړيکې ولري، مسلط او فعال و اوسئ. د تجربو هرکلی د زده کړې، نوو نظرياتو، او فرهنګ سره د مينې په معنا ده. توافق د تربيې، ځرنګوالي، او ادبي سلوک ته د تمايل په معنا دی. وجدان يو محتاط عمل، د بريااليتوب لپاره کوښښ، باور، او منظم والي په معنا دی. دا مطالعه کوښښ کوي چې افغانستان کښې د فساد په اړه له رواني نظره د شخصيتي خصوصياتو آزمايلو له لارې چې ليکوالانو فرض کړي دي کيدای شي د فساد سره متقابله اړيکه ولري، معلومات تر لاسه کړي چې عبارت دي له: لنډ فکري، پر ځان باور، د خطر څخه تيښته، تربيه، ځان غوښتنه، ماديات خوښونه، او صداقت. پر دې سربيره، دا مطالعه کوښښ کوي چې د هر شخصی خصوصيت له نظره د نارينو او ميرمنو تر منځ توپير و آزمايي.

## 3.2 جنډر او د خطر څخه تيښته

### موجوده څېړنه

يوه بله ساحه چې د جنډر رفتاري توپيرونو پکښې روښانه شوي دي او فساد سره تړاو لري د خطر څخه د نارينو او ميرمنو تيښته ده، چيرې چې د خطر څخه تيښته د يوې ډاډمنې نتيجې د تر لاسه کولو لپاره يو ترجيح او يو يو قمار نه دی چې په نا مطئين ډول يا د ډيرې او يا لږې ګټې تمه و لري.[92] کروسن (Croson) او ګنيزي (Gneezy) يو لړ لس ګونو تجربي مطالعات چې تر ډير بريده د خطر څخه د تيښتې اقتصادي حوزې سره تړلې دي، تر سره کړي دي. هغوی دا معلومات لاسته راوړل چې نارينه د ميرمنو په پرتله د خطر پر وړاندې آسيب منونکي دي، او برعکس، ميرمنې د نارينو په پر تله د خطر څخه په پراخه محيطونو او کارونو کښې ډيره تيښته کوي. په هر حال، د دې لاسته راغلو معلوماتو په اړه يو شمير مهمې احتياطی خبرونې هم شته، چيرې چې په يوه مطلعه کښې دا معلومه شوه چې په سپين پوټکو کښې د جنډر توپيرونه موجود وو، مګر په نورو قومي ډلو تر منځ موجود نه وو، چې دا ځرګندوي چې ممکن د فرهنګي تمايلاتو توپيرونه موجود وي چې د خطر منلو په برخه کښې د جنډر ترمنځ د توپيرونو سره مرسته وکړي. د يوې بلې تر سره شوې څېړنې له مطالعې څخه دا معلومات په لاس راغلل چې نارينه د ميرمنو په پرتله ډير د خطر څخه تيښته کوي، چيرې چې قرعه کشي د ګټې په پرتله زيات د تاوان لپاره ترتيب شوي وه. د دې لاسته راغلو معلوماتو په اړه د وړاندې شوو توضيحاتو له منځه، کروسن (Croson) ا و ګنيزي (Gneezy) د خطر څخه ډکو حالاتو کښې د جنسيت له نظره متفاوت عاطفی غبرګونونه په نخښه کړي دي، نارينه د ميرمنو په پرتله په نا باوره شرايطو کښې د خپل بريااليتوب لپاره تر اندازې زياته باوري دي، او د خطر څخه ډکو حالاتو څخه د نارينو عموي تفسير د يو ستونزې په توګه بيا دا حالت يو ګواښ ګنيي.[93]

دې خبرو اترو د ادامې په خاطر اکل (Eckel) او ګراسمن (Grossma) د عمومي ښه والي، اولتيماتوم، او ديکتاتوري تجربه يو شمير شواهد مطالعه کړي او دې نتيجې ته رسيدلي چې د جنسيت له نظره په سلوک کښې د توپيرونو په اړه کله چې فعالين د خطر سره مخامخ وو هيڅ قانع کوونکی مدرک نه دی تر لاسه کړی، مګر د نشتون په صورت کښې په لږه انفرادي توګه او ډيره ټولنيزه توګه حرکت کوي.[94] په هر حال، د دې مطالعې پر وړاندې د پام وړ محدوديتونه، له هغې جملې څخه محتمل فرهنګي تمايلات موجود وو، دا نتايج د سپين پوټکو خلکو په اړه وو نه د نورو قومي ډلو په اړه. ځرنګه چې دا مطالعه د افغان پارلمان د غړو د خطر څخه د تيښتې په اړه وه، ليکوالانو داسې فرض کړې چې هغه وګړي چې د خطر څخه په تيښته کښې ډير لوړ حالت لري په فساد کښې به د هغو په نسبت چې د خطر څخه لږ تښتې، لږ ګکړ وي. پر دې سربيره، داسې فرض شوې ده چې ميرمنې به د نارينه په پرتله ډيره د خطر څخه تيښته کوي.

[90] هماغه ځای
[91] کانلی او ونز، "فاسد شخصيت: په ملي سطحه يو او تحليل"، ۲۰۰۸.
[92] کانمان، ډې،. او تورسکی ای. (۱۹۴۸). "غوراوی، ارزښتونه، او چارچوب". آمريکايي روانشناس ۳۹: ۳۵۰-۳۴۱.
[93] راشل کروسن او يوري ګنيزي، "په ترتيباتو کښې جنسيتي توپيرونه،" د اقتصادي ادبياتو مجله۴۷، ۲ ګڼه، ۲۰۰۹: ۱-۲۷.
[94] ماريا فرناندا ريواس، "د فساد او جنسيت په اړه يو آزمېښت،" د اقتصاد ځانګه، د ټولنيزو علومو پوهنځي، د جمهوريت پوهنتون، ترباجو اسناد، د سند شميره ۸/۶، سپتمبر ۲۰۰۶.

### لاسته راغلي معلومات

په دې څېړنه کښې، د جنډر ترمنځ د یادو شوو پنځو موادو په اړه چې د خطر څخه تیښتنه یې آزمایله هیڅ توپیر تر لاسه نه شو. ۳۵ سلنه ځواب ویونکو، چې تر ډېر بریده یې په قوي یا نسبتا قوي او په کلکه توافق درلوده چې هغوی هغه کارونه تر سره کوي چې هغوی یې نه غواړي تر سره کړي، تر څو د پارلمان د نورو غړو سره یو ځای پاته شي. ۹۱ سلنه سلنه ځواب ویونکو، تر ډېر بریده په قوي یا نسبتا قوي او په کلکه توافق درلود چې دا مهمه ده چې خوندي او متوجه اوسې، او ۸۹ ویل چې دا مهمه ده چې د اصولو رعایت و کړای شي ځکه د هغه باور له مخې که دوی یو ناسم کار ترسره کړي نو کیدای شي هغوی به و نیول شي او د مشکل سره مخامخ شي. ۴۰ سلنه سلنه ځواب ویونکو، تر ډېر بریده یې په قوي یا نسبتا قوي او په کلکه توافق درلود چې دوی ځان له منځه وباسي تر څو د شخړې مخنیوی وشي. په هر حال، ٦٨ سلنه سلنه ځواب ویونکو، تر ډېر بریده یې په قوي یا نسبتا قوي او په کلکه توافق درلود چې ستر خطرونه د سترو مکافاتو / مجازاتو وړتیا لري.

پنځه مواردو کښې د خطر څخه د تیښتې خصوصیات و آزمایل شول.[95] داسې راپور ور کول شو چې لږ رشوت د ډیر رشوت په اندازه خراب کار نه دی او دا کار هغه وخت شوی چې د یو چا د لارې لیرې شي تر څو د شخړې مخنیوی و شي،[96] او څرګندوي چې په لوړه کچه د خطر څخه تیښتنه د فساد د لوړې کچه سره تړاو لري.

## 3.2 ج جنډر او لنډ فکري موجودې څېړنې

پخوانې څېړنې رواني تشوشاتو ته د ټیټې کچې اخلاقي رهبرۍ او د لوړې کچې منحرف سلوک سره تړاو ورکړی دی. په اوسنۍ مطالعه کښې دا لاسته راغلي معلومات په لنډ فکري او پر ځان باور ولاړ وو. تیرو څېړنو ښودلې ده چې د رواني اختلال لرونکي خلک داسې بریښي چې ډیر لنډ فکره دي، او څرګندوي چې لنډ فکره وګړي به د خپلو نورو همکارانو په نسبت لږ اخلاقي سلوک ولري.[97] په دې مطالعه کښې تر دې لا نور زیات د لنډ فکرۍ د شاملو ملاتړ په خاطر، د وجدان پیروي له تناقض پرته د اخلاقي رهبرۍ سره تړوا درلود. دا څرګندوي چې هغه وګړي چې د اقدام کولو څخه د مخه په احتیاط فکر کوي په ډیر احتمال په اخلاقي توګه عمل کوي. لیکوالانو داسې فرض کړې ده چې هغه وګړي چې د خپلو اقداماتو په اړه د اقدام کولوڅخه د مخه فکر نه کوي په ډیر احتمال فکر کیږي چې فساد اعمال به تر سره کړي، ځکه چې هغوی به دا وخت و نه لري چې ممکنه نتایج په نظر کښې ونیسي او په اړه یې فکر وکړي.

### لاسته راغلي معلومات

په پورتینو پنځو مواردو کښې چې لنډ فکري یې آزمایله هیڅ جنسیتي توپیر لاسته ته نه دی راغلی. یوازې ۹ سلنه ځواب ورکونکو په قوي یا نسبتا قوي او په کلکه توافق درلوده چې هغوي کارونه د فکر کولو پرته سره ته رسوي، ۷ سلنه خلک د شیانو په اړه د فکر کولو پرته خبرې کوي او ۴ سلنه داسې دي چې کارونه له فکر پرته له دې چې د نتایجو په اړه یې د مخه  فکر و کړي سرته رسوي.

ټولو یا سل په سلو کښې ځواب ورکونکو په قوي یا نسبتا قوي او په کلکه توافق درلوده چې هغوی د راتلونکي څخه زیات د اوس په اړه دلچسپي لري.

پنځه مواردو کښې د لنډ فکري خصوصیات ازمایل شوي دي.[98] دا راپور ورکول شوی دی چې د فکر پرته د کارونو سرته رسول په مثبته توګه د هغه راپورو ورکولو سره تړاو لري چې خلک زیاتره وختونه د ځواب ور کوونکي څخه غواړي چې د یو کار د سرته رسولو لپاره رشوت او یا معاوضه ور کړي[99] دا باور چې لږ رشوت د ډیر رشوت په پرتله ډیر خراب کار نه دی،[100] او دا باور چې په ځانګړو شرایطو کښې دا سمه خبره ده چې رشوت واخستل شي.[101] په ورته ډول، راپور وایې چې د کارونو سرته رسول د فکر پرته د هغه راپور ورکولو سره تړاو لري چې خلک زیاتره وخت د ځواب ورکونکي څخه غواړي چې د یو کار د سرته ورکولو لپاره رشوت او یا معاوضه ورکړي.[102] او دا بارو چې لږ رشوت د ډیر په تناسب ډیر خراب نه دی.[103] د فکر کولو پرته د کارونو سره ته رسولو راپور د نتایجو سره په مثبته توګه د

[95] "زه هغه کارونه سرته رسوم چې واقعا هغه نه غواړم، تر څو د پارلمان غړو سره یو ځای پاته شم. دا مهمه ده چې خوندي او ویښ پاته شي،ستر خطرات د ستر پاداش ارزښت لري"، "د شخړې د مخنیوي په خاطر زه ځای پریږدم، " او" دا مهمه ده چې دقواعدو رعایت و شي که زه دا کار و نه کړم نو کیدای بند پاته او مشکل سره مخ شم."

[96] rs(101)=.266, p<.01

[97] براتون او ستریت میتر، " چې ټګي و کړو او یا ټګي و نه کړو؟: په علمي ا سوداګریز اخلاقو کښې د شخصیت نقش،" ۲۰۱۳.

[98] "زه کارونه د فکر پرته سر ته رسوم"، "زه کارونه په احتیاط سره پلان کوم"، "زه د فکر پرته خبرې کوم"، "زه د راتلونکي په نسبت اوسني حالت سره ډیره علاقه لرم،" او "زه په عواقبو باندې لا د مخه د فکر کولو پر ځای کارونه تر سره کوم".

[99] rs(101)=.374, p<.001

[100] rs(100)=.311, p<.01

[101] rs(101)=.293, p<.01

[102] rs(103)=.276, p<.01

[103] rs(102)=.266, p<.01

هغه باور سره تړاو درلود چې په ځانګړو شرایطو کښې، دا سمه خبره ده چې رشوت واخستل شي.[104] د کارونو د پلان کولو په برخه کښې په احتیاط راپور په معکوس ډول د هغه راپور ورکولو سره تړاو درلود چې ځواب ویونکي د هغوی او د هغوی د کورنۍ د غړو لپاره د هغو خوښې د کارونو د تر سره کولو لپاره تماس نیسي،[105] دا لاسته راوړنې ښئ چې په ډیر احتمال د فساد د خطر لاندې او یا په فساد کښې ککړ دي.[106] او دا باور چې د پارلمان دغړو لپاره عادي خبره ده چې د خپل مقام څخه د خلکو د کارونو د سر ته رسولو لپاره کار واخلي.[107] دا لاسته راغلي معلومات به دا ښئ چې زیاتره وګړي د فساد د خطرلاندې او یا پکښې ککړ شي.

## 3.2 د جنډر او پر ځان باور

### موجوده څیړنه

د رواني تکلیف لرونکي داسې بریښي چې ډیر لږ باورمند خلک وي. په لوړه کچه د رواني تشوشاتو لرونکي خلک په متقابله توګه د کارکونکي د کار محیط کښې د سیالۍ له درک سره تړاو لري، چې دا د هغه نظر سره مطابقت لري چې ځینې وګړي ښایي د خپلې جوړې له خوا مجبور شوی وي یا د فاسد اقدام کولو ترکیبي برخه جوړوي. لیکوالانو فرض کړې چې هغه وګړي چې د اعتماد کمې نمرې تر لاسه کوي په فساد کښې به لوړې نمرې تر لاسه کړي. د جنډر د شبکو او د فساد لپاره د زمینو په اړه د ډیرو اسنادو په رڼا کښې، پر دې سربیره دا سې فرض شوې ده چې میرمنې به د باورمندۍ له نظره تر نارینه لوړې نمرې تر لاسه کړي.

#### لاسته راغلي معلومات

په متوسطه توګه، د پارلمان ښځینه استازې په یو مورد کښې د نارینه په نسبت د لوړ باور څرګندونه کوي.[108] په داسې حال کښې چې د پارلمان نارینه ۴۸ سلنه استازو په قوي یا نسبتا قوي او په کلکه توافق درلوده چې هغوی د هغه درک په اړه د اندیښنې احساس کوي چې دوی یې نورو خلکو ته پیدا کوي، د پارلمان ښځینه ۳۱ سلنه استازو ور ته احساس درلود. په څلورو نورو مواردو کښې هم باور آزمایل شوی دی، او د دې مواردو څخه د هغوي یو هم د جنډر تر منځ د پام وړ توپیر نه دی څرګند کړی. ۹۳ سلنه موافق، یا تر یوې اندازې موافق او یا په کلکه موافق وو چې هغوي خپله دنده په ښه توګه تر سره کوي، ۹۰ سلنه څوک د خپل مسلک محترم غړي دي، او ۹۸ سلنه د خپلو توانمندیو په اړه باوري وو. په هر حال، ۸۰ سلنه ځواب ویونکو په قوي یا نسبتا قوي او په کلکه توافق درلوده چې دوی تل د هغه څه په اړه اندیښنه لري کوم چې نور خلک د دوی په اړه فکر کوي.

په پنځو مواردو کښې د خصوصیت بارو آزمایلی دی.[109] باور دا دی چې دا سمه خبره ده چې په ځینو مواردو کښې رشوت واخستل شي کوم چې په معکوسه توګه د دې سره تړاو لري چې د باور په اړه ځواب ورکونکي د خپلې توانمندۍ په اړه د باور احساس کاوه، او دا څرګندوي چې ټیټه کچه باور د لوړې کچې فساد سره تړاو لري.[110] دا چې آیا کله د پارلمان غړو سره د خلکو د خوښې د کارونو د سرته رسولو لپاره تماس نیول کیږي زیاتره وخت د هغې بیانیې سره تړاو درلود چې ځواب ویونکي د خپلو وظایفو په سرته رسولو کښې ښه دي،[111] او همدارنګه د ځواب ورکونکو احساس چې هغوی د خپلې ساحې د احترام وړغړی دي.[112] دا څرګندوي چې د لوړې کچې باور د لوړې کچې د فساد سره تړاو لري. داسې راپور ورکوي چې د نورو خلکو یا د هغوی د کورنیو د غړو د خوښې کارونه کوي، د ځواب ویونکو له دې احساس سره تړاو درلود چې ځواب ورکونکي د خپلې توانمندۍ په اړه باوري دي،[113] همدارنګه څرګندوي چې د لوړې کچې باور د لوړې کچې د فساد سره تړاو لري. دې اړیکو نا څرګندې نتیجې تر لاسه کړې دي، یوه اړیکه داسې څرګندوي چې د لوړې کچې باور د ټیټې کچې د فساد سره تړاو لري، په داسې حال کښې چې درې واړه نورې اړیکې څرګندوي چې د لوړې کچې فساد د لوړې کچې د فساد سره تړاو لري.

## 3.2 د جنډر، تربیه او ځان غوښتنه

### موجوده څیړنه

پخوانۍ څیړنې د موافقت له نظره نامرتبې وې، په داسې حال کښې چې ځینې نتایج څرګندوي چې په لوړه کچه موافقت د فساد د ټیټې کچې سره تړاو لري، او نور نتایج دا څرګندوي چې د توافق او فساد تر منځ کوم مهم تړاو نشته. تربیه او ځان غوښتنه د موافقت سره تړاو لري، او دواړه خصوصیاتو څخه به د اوسنۍ څیړنې لپاره کار واخستل شي. تربیه، د دې څیړنې لپاره، د کورنۍ د پاملرنې او د هغوي د ګټې لپاره کارول کیږي.

[104] rs(101)=.268, p<.01

[105] rs(105)=-.199, p<.05

[106] rs(101)=-.240, p<.05

[107] rs(102)=-.206, p<.05

[108] ب ۱۰، (پر خپل ځان باور). په اوسطه توګه، میرمنې (SE = 0.318 ،M = 4.25) د نارینو څخه زیاتې (M = 3.25 ، SE = 0.225) نمرې اخستې، "زه د هغه برداشت په اړه چې زه یې خلکو پیدا کوم اندیښنه لرم ." دا توپیر ډیر مهم دی (95) = -2.553، P <0.05 و r = 0.25..

[109] زه په خپل کار کښې ښه یم"، "زه تل د هغه څه په اړه اندیښنه لرم چې چې نور خلک به زما په اړه څخه فکر کوي"، "زه احساس کوم چې زه په دغه برخه کښې یو مهم غړی یم"، "زه د خپلې توانمندۍ په اړه باور لرم"، او " زه د نورو خلکو د برداشت په اړه اندیښمن یم " .

[110] rs(102)=-.235, p<.05

[111] rs(102)=.282, p<.01

[112] rs(103)=.224, p<.05

[113] rs(100)=.228, p<.05

ځان غوښتنه د يو ځا ځانته د پاملرنې لپاره وقف کيدل دي. دا دوه کليمې د يو بل سره ډير نژدې تړاو لري، په داسې حال کښې چې د دې دواړو تر منځ يو فرق شته او هغه دا چې تربيه د دې سره سروکار لري چې يو څوک د خپلې کورنۍ سره پيوند لري، په داسې حال کښې چې ځان غوښتنه دا معنا لري چې يو څوک په عمومي توګه د نورو سره څه ډول رفتار کوي. ليکوالانو داسې فرض کړې ده چې هغه څوک چې د تربيې په برخه کښې لوړه نمره اخلي د فساد په برخه کښې به ټيټه نمره اخلي. پر دې سربيره، داسې فرض شوې ده چې ميرمنې د تربيې په برخه کښې د نارينو څخه لوړه نمره واخلي. د ځان غوښتنې په اړه، داسې فرض شوې ده چې هغه وګړي چې د ځان غوښتنې په اړه لوړه نمره اخلي د فساد په اړه به هم لوړه نمره واخلي.

## لاسته راغلي معلومات

د تربيې په برخه د پنځو موادو آزمايلو پرمهال د جنسيت له نظره کوم مهم توپير نه دی ترسترګو شوی. ۷۷ سلنه ځواب ورکونکي موافق، تر يوې اندازې موافق يا په کلکه موافق دي چې هغوی د خپلو اړتياو څخه د خپلې کورنۍ اړتياو ته زياته پاملرنه کوي، او ۷۳ سلنه ځواب ورکونکي موافق، تر يوې اندازې موافق يا په کلکه موافق دي چې دوی حاضر دي چې زيات وخت د خپلې کورنۍ نژدې غړو سره تير کړي. ۴۸ سلنه ځواب ورکونکي موافق، تر يوې اندازې موافق يا په کلکه موافق دي چې کله چې هغوی د ورځې په جريان کښې له کوره بهر وي، د هغوي د کورنۍ نژدې غړي د هغوی په ذهن کښې ګرځي را ګرځي، ۶۹ سلنه وايي چې دوی هغه کارونه کوي چې هغه د دوي د کورنۍ د نژدې غړو په ګټه وي، حتی که د هغو خوښ هم نه وي.  په هر حال، د ځواب ويونکو ۱۸ سلنه موافق، تر يوې اندازې موافق يا په کلکه موافق وو چې د هغوی د کورنۍ نژدې غړي د آرامۍ احساس نه کوي کله چې هغوی سره د شخصي ستونزو په اړه خبرې کوی.

پنج مواردو د خصوصيت تربيه آزمايلې ده.[114] د کورنۍ نژدې غړي د شخصي ستونزو په اړه د خبرو کولو پر مهال د آرامۍ احساس کاوه، په داسې حال کښې ځواب په معکوسه توګه د هغه باور سره تړاو درلود چې کوچنۍ رشوت د ستر رشوت په اندازه بد نه دی،[115] او دا باور چې د ځانګړو شرايطو لاندې رشوت اخستل ښه دي،[116] دا څرګندوي چې د لوړې کچې تربيه د فساد ټيټې کچې سره تړاو لري. داسې راپورونه موجود دي چې د کورنۍ له نژدې غړو سره وخت تيرول د هغه راپور سره تړاو لري چې خلک د هغوي او د هغوی د کورنۍ د غړو لپاره د هغوی د خوښې کار تر سره کوي،[117] کله چې خلک زياته وخت دوی ته راځي او د يوه کار د کولو غوښتنه ترې کوي،[118] او دا باور چې دا د پارلمان د غړو لپاره عادي خبره ده چې د خپل مقام څخه خلکو ته د کار کولو لپاره کار واخلي.[119]

د پنځو مواردو له نظره کښې چې ځان غوښتنه آزمايل کيده، د جنډر تر منځ هيڅ مهم توپير نه دی تر سترګو شوی.۹۶ سلنه ځواب ورکونکي موافق، تر يوې اندازې موافق يا په کلکه موافق دي چې دا مهمه ده د ډيرو پيسو او نوم د تر لاسه پر ځای بايد د خلکو سره مرسته وشي، ۸۹ سلنه ويلې که چيرې دوی اړ وي چې د خپلې خوښې خواړه نيم او نيمايي خپل ملګري ته ورکړي، دوی به تل زياته برخه خپلو ملګرو ته ورکړي، او ۹۲ سلنه وايې چې دول له دې خوند اخلي چې څه لري هغه د نورو سره و ويشي. په هر حال، ۲۰ سلنه ځواب ورکونکي موافق، تر يوې اندازې موافق يا په کلکه موافق دي چې کله له دوی څخه مرسته وغواړي، دوی به هغه مرسته وکړي چې د هغه کار کټه دوی ته ورسيږي، ۱۹ سلنه وايې چې دوی په خلکو فشار راوړي يا به خلک دې ته و هڅوي چې په هغه لاره لاړ شي چې دوی يې غواړي.

د پنځو مواردو له نظره د ځان غوښتنې خصوصيت آزمايل شوی دي.[120] داسې باور موجود دی چې دا د پارلمان د غړو لپاره عادي خبره ده چې د خپل مقام څخه د نورو د خدمت لپاره کار واخلې چې دا په معکوسه توګه د دې باور سره تړاو لري چې دا ډيره مهمه ده چې د خلکو سره مرسته وشي نه دا چې يوازې پيسې يا شهرت و ګټل شي،[121] او څرګندوي چې د ځان غوښتنې ټيټه کچه د ټيټې کچې فساد سره تړاو لري. د فساد همدا ماده (موضوع) په منفي توګه د هغې مادې (موضوع) سره تړاو درلود چې وايې ځواب ورکونکی به زياته نيمايي برخه ملګري ته ورکړي،[122] او دا څرکندوي چې د ځان غوښتنې ټيټه کچه د فساد د ټيټې کچې سره پيوند لري. او

[114] زه د خپلې کورنۍ اړتياوي خپل مخې ته ږدم"، "زما د کورنۍ نژدې غړي زه سره شخصي ستونزو په اړه د خبرو پر مهال د آرامۍ احساس نه کوي، "د ورځې په جريان کښې زه د خپلې د کورنۍ د غړو په اړه فکر کوم،" او " زه هغه څه سرته رسوم چې زه فکر کوم زما د کورنۍ په ګټه دي حتی که هغوی زما په اړه ښه احسا هم و نه لري. "

[115] rs(99)=-.298, p<.01

[116] rs(100)=-.254, p<.01

[117] rs(100)=.304, p<.01

[118] rs(104)=.198, p<.05

[119] rs(102)=.220, p<.05

[120] "زما په کار کښې ما ته دا ډيره مهمه ده چې د خلکو سره مرسته وکړم نه دا چې ډير پيسې يا شهرت و ګټم که چيرې زه اړ شم چې د خپلې خوښې خواړه د خپل ملګري سره نيمايي کړم نو زه به غټه برخه خپل ملګري ته ورکړم، " کله چې يو څوک له ما څخه د مرستې غوښتنه وکړي، زه هغه وخت مرسته کوم چې ما ته يې ګټه رسيږي "، " زه له دې خوند اخلم چې څه لرم هغه له نورو سره شريک کړم، " او " که چيرې اړتيا و ليدل شي زه به په خلکو فشار راوړم او د ې ته به يې اړه کړم چې کارونه زما په خوښه تر سره کړي. "

[121] rs(102)=-.210, p<.05

[122] rs(98)=.-265, p<.01

راپور ورکوي چې ځواب ويونکي سره د يو خدمت تر سرته رسولو لپاره تماس نيول شوی په معکوسه توګه د هغې موضوع سره تړاو لري چې وايې چې ځواب ويونکي به زياته نيمايي برخه خواړه خپل ملګري ته ورکړي،[123] دا ځرګندوي چې ټيټه کچه ځان غوښتنه د ټيټې کچې د فساد سره تړاو لري. همدغه مورد چې د يو خدمت لپاره ور سره وکتل شي په معکوسه توګه دې خبرې سره تړاو لري چې مخاطب له دې څخه خوند اخلي چې څه لري هغه له نورو سره شريک کړي،[124] دا ځرکندوي چې د ځان غوښتنې ټيټه کچه د فساد د ټيټې کچې سره پيوند لري. راپور ورکوي چې زياتره وخت د دې لپاره ور سره کتل شوي چې د خدمت په مقابل کښې رشوت يا معاوضه ور ته وړاندې کړي، د دې خبرې سره تړاو درلود چې فشار راوړي او يا يې د دې لپاره اړ کړي چې کار په هغه طريقه تر سره شي چې هغوی غواړي،[125] دا ځرګندوي چې د ځان غوښتنې لوړه کچه د فساد د لوړې کچې سره پيوند لري.

## 3.2 و جنډر (جنسيت)، ماديات خوښونه، او صداقت موجوده څيړنه

ماديات خوښونه، په داسې حال کښې چې د پنځو عناصرو د موډل د (سترو پنځو) سره تړاو نه لري، دا د اوسنې څيړنې لپاره زړه پورې ده ځکه چې ليکوالانو داسې فرض کړې ده چې هغه وګړې چې په ماديات‌و خوښونې کښې لوړه نمره اخلي به د متقابلو (همکارانو) څخه ډير په فساد کښې ککړ وي چې ماديات نه خوښوي. همدارنګه صداقت د پنځو عناصرو د موډل سره تړاو نه لري، او داسې فرض شوې ده چې هغه کسان چې لږ صادق دي د هغو په پرتله ډير فاسد وي چې صادق وي.

### لاسته راغلي معلومات

په منځنۍ توګه، ډير احتمال لري چې نارينه خوښوي کله چې هغوی د لوړ قيمت شيان واخلي د هغوی راپور ورکړي ځکه دا کار هغوی ښه ښکاره کولای شي.[126] په داسې حال کښې چې ۲۷ سلنه د پارلمان نارينه غړي له دې سره موافق، تر يوې اندازې موافق يا په کلکه موافق دي چې هغوی د خوښۍ احساس کوي کله چې هغوي د لوړ قيمت شيان را ونيسي، ځکه هغوی فکر کوي چې په دې ښه ښکاري، يوازې ٦ سلنه د پارلمان ښځينه غړو ورته فکر کاوه. ۷۷ سلنه ځواب ورکونکي له دې سره موافق، تر يوې اندازې موافق يا په کلکه موافق دي چې د موادو ملکيت مهم نه دی، ځکه دا د هغوی په خوښۍ کومه اغيزه نه لري، او يوازې ۹ سلنه ويلې دي کله چې د هغوی ملګري يا کورنۍ داسې شيان ولري چې دوی هغه شيان نه شي را نيولای نو دا وضعيت هغوی پريشانه کوي. په هر حال، ۲۷ سلنه ځواب ورکونکو له دې سره موافق، تر يوې اندازې موافق يا په کلکه موافق دي چې يو هيواد ډير موا د لري (يا ډير متمدن وي) د بل هيواد په نسبت چې د لږو موادو مالک وي، نو ۱۹ سلنه وايي چې دوی به ډيری پيسې و لګوي تر نورو څخه متمايز شيان چې فکر کيږي ډير لږ خلک به هغه ولري، تر لاسه کړي.

پنځو مواردو د ماديات‌و خوښونې خصوصيات آزمايلي دي.[127] د لوړ قيمت درلودونکو اجناسو د رانيولو پر مهال د خوښۍ د احساس په اړه راپور ورکوي د هغه راپور سره تړاو ورکول کيږي چې خلک له هغوی سره ګوري چې د يو خدمت کولو په مقابل کښې ورته رشوت يا معاوضه ورکړي[128] او دا باور چې په ځانګړو شرايطو کښې رشوت اخستل ښه کار دی،[129] دا ځرګندوي چې لوړه کچه ماديات خوښونه د فساد د لوړې کچې سره تړاو لري. وايې چې د ډيرو موادو لرل د يو چا په خوښيو اغيزه نه شی درلودای په معکوس ډول د هغو راپورو سره تړاو لري چې خلک دوی يا د هغوی د کورنيو غړو ته کارونه کوي،[130] دا ځرګندوي چې د ټيټې کچې ماديات خوښونه د ټيټې کچې فساد سره تړاو لري. دا ځرګندوي چې کله ملګري او يا د هغو کورنۍ اجناس لري او دوی نه شي کولای هغه اجناس رانيسي خفه کيږي، د دې مورد سره تړاو لري چې کوچنی رشوت د غټ په تناسب ډير بد نه دی،[131] او دا ماده چې وايي په ځانګړو شرايطو کښې د رشوت اخستل بد کار نه دی، [132] او دا ځرګندوي چې د لوړې کچې ماديات خوښونه د لوړې کچې فساد سره تړاو لري.

[123] rs(99)=-.271, p<.01

[124] rs104)=-.236, p<.05

[125] rs(103)=.201, p<.042

[126] t(79)=2.11, p<.05 (Male MPs N=70, M=4.93, SD=1.86; Female MPs N=32, M=5.63, SD=1.39)

[127] "کله چې د لوړ قيمت اجناس را نيسم د خوښئ احساس کوم، هغه ماته د ښه ښکاره کيدو احساس را کوي خوب"، "د اموالو درلودل مهم نه دي ځکه هغه زما پر خوښئ کوم اغيز نه شي کولای "کله چې زما ملګري يا د کورنۍ غړي هغه څه لري چې زه هغه نه شم تر لاسه کولای دا کار ما خفه کوي"، " يو هيواد چې ډيرې شتمنۍ لريد هغه بل هيواد څخه (متمدن شميرل کيږي چې لږه شتمني لري." او "زه غوره و بولم چې زه يو متفاوت جنس را ونيسم چې ډير لږ خلک به هغه ولري."

[128] rs(102)=.269, p<.01

[129] rs(102)=.201, p<.05

[130] rs(99)=-.246, p<.05

[131] rs(100)=.212, p<.05

[132] rs(101)=.266, p<.01

په اوسطه توګه، میرمنې د نارینو په پرتله په دوه مواردو کښې د لوړې کچې صداقت ښکارندویي کوي.[133][134] د پارلمان ۹۴ سلنه ښځینه غړې له دې سره موافقې، تر یوې اندازې موافقې یا په کلکه موافقې دي چې خلکو دوی د "اعتماد وړ" اشخاص ګڼي، په داسې حال کښې چې د پارلمان ۹۰ سلنه نارینه غړو ورته احساس درلوده. ۱۰۰ په سلو کښې د پارلمان ښځینه غړې له دې سره موافقې، تر یوې اندازې موافقې یا په کلکه موافقې دي چې د ځان په اړه د صادقو وګړو احساس لري، او د پارلمان ۹۷ سلنه نارینه غړو عین ځواب ورکړ. د درې نورو موادو په چوکاټ کښې هم صداقت و آزمایل شو چې د جنسیت په برخه کښې یې کوم د پام وړ توپیر نه دی څرګند کړی. یوازې ۱۴ سلنه ځواب ویونکي له دې سره موافق، تر یوې اندازې موافق یا په کلکه موافق دي چې دوی کله د کوم کار د کولو ژمنه کړي وي او بیا یې تر سره کړې نه وي نو بیا بهانې جوړوي، او یوازې ۱۷ سلنه وایي چې دوی ځان په دې ملامته نه بولي چې هسې یوه کیسه وکړي هغه ټوله رښتیا نه وي. د ځواب ویونکي ۹۶ سلنه له دې سره موافق، تر یوې اندازې موافق یا په کلکه موافق دي چې دوی به غوره و بولي چې رښتیا و وایي خیر دي که د مشکلاتو سره مخ شو، او نه ښایي داسې دروا‌غ و وایي چې د مشکل څخه ځان پرې را وباسي.

پنځو مواردو کښې د صداقت خصوصیت و آزمایل شو.[135] داسې راپور ورکول شوی چې ځان پر نه احساسوي کله چې چا ته یوه کیسه بیانوي کومه چې په بشپړه توګه رښتیا نه ده په معکوس ډول د هغه باور سره تړاو لري چې پروا نه کوي که یو څوک په ځانګړو شرایطو کښې رشوت واخلي[136] دا هغه باور دی چې کوچني رشوتونه د غټو رشوتونو په نسبت دومره ډېر بد نه دي،[137] او راپور ورکوي چې زیاتره وخت له ځواب ویونکي سره اړیکه نیسي چې د یو کار د کولو په مقابل کښې له چا څخه رشوت او معاوضه تر لاسه کړي،[138] څرګندوي چې د صداقت لوړه کچه د فساد له لوړې کچې سره تړاو لري. د هغه احساس راپور ورکوي چې ځواب ویونکی یو صادق سړی دی معکوسا له دې باور سره تړاو لري چې کوچنی رشوت د غټ رشوت په پرتله دومره ډېر بد نه دی، دې ته اشاره کوي چې لوړه کچه د ځان په اړه د صداقت فکر کول د فساد د لوړې کچې سره تړاو لري.[139] دا راپور ورکوي چې خلک ځواب ورکونکی یو "د باور وړ" صادق کس بولي د هغه مورد سره پیوند لري چې وایي خلک د ځواب ورکونکي سره اړیکه نیسي چې له دوی څخه د یو کار د تر سره کولو هیله ولري[140] او دا مورد داسې ښکاره کوي چې خلک د ځواب ورکونکي د کورنۍ خدمت کوي،[141] دا څرګندوي چې د صداقت لوړه کچه د فساد د لوړې کچې په معنا ده.

## 3.2 ز د ټولنیز تسلط پلوی کول موجوده څېړنه

د ټولنیز تسلط د نظریې له مخې، یوه ټولنه په ډله ایزه توګه د ټولنیز مراتبو سلسلې پر بنسټ جوړه شوې ده، او ډلو تر منځ ظلم او تیری او شخړې مرسته کوي تر څو خلک د ټولنیزو مراتبو سلسلو سیستمونه تاسیس او وساتي.[142] د ټولنیز تسلط توجیه کول هغه مقیاس دی چې د هغه پر اساس وګړي غواړي چې د خپل کنټرول لاندې ډله و لري او خپله د ډلې څخه بهر یو لوړ مقام ولري، او په ټولنه کښې د ډلو ترمنځ د عمومي مراتبو سلسلې د اړیکو د عمومیت ملاتړ وکړي.[143] یو د ټولنیز تسلط لرونکی وګړی به په عمومي توګه د ټولو سره یو شان سلوک و نه کړي، او په نتیجه کښې به هغوی د هغو نظریاتو ملاتړ وکړي چې په ډله کښې د نا برابري او پالیسیو اجراء کولو او د ډلې تر منځ نا برابري ساتلو، تصدیق و کړي.

د ټولنیز تسلط پلوی کول او په ممتاز پوستونو کښې جنسیتي توپیر، د ټولنیز تسلط پلوی اړین ګڼي چې ممتاز، مقتدرانه، نظامي ګر، او ډیپلوماتیک نقشونه به د ټولنیزې نا برابرۍ ډېروالی ساتي، دنده تر سره کوي، او په همدې توګه د مراتبو سلسلې سیستم پراخیږي.[144] په مقابل کښې، هغه نقشونه چې منابعو ته د لاسرسي لاره پرانیزي یا په یوه طریقه منابع بیا سره

[133] B32 (honesty). On average, women ($M$ = 1.53, $SE$ = .142) scored higher than men ($M$ = 1.96, $SE$ = .125) on the item, "People who know me consider me a 'trustworthy' person." This difference was significant $t(99) = 2.053$, $p < .05$, r = .20.

[134] B35 (honesty). On average, women ($M$ = 1.18, $SE$ = .081) scored higher than men ($M$ = 1.58, $SE$ = .089) on the item, "I feel that I am an honest person." This difference was significant $t(102) = 2.789$, $p < .01$, r = .27.

[135] کله چې زه کوم کار سرته و نهخ رسوم نو بهانې کوم" "هغه خلک چې ما پیژني پر ما د باوري سړي فکر کوي"، "زه غوره بولم چې رښتیا و وایم او مشکل سره مخامخ شم نه دا چې د دې لپاره دروغ و وایم چې د مشکل څخه ځان و ژغورم "، " کله چې زه یو چاته هسې د درواغو کیسه کوم د ګناه احساس نه کوم، " او" زه احساس کوم چې زه یو صادق سړی یم."

[136] rs(101)=.-.475, p<.001

[137] rs(100)=-.373, p<.001

[138] rs(101)=-.358, p<.001

[139] rs(101)=-.223, p<.05

[140] rs(101)=.253, p<.05

[141] rs(98)=.238, p<.05

[142] ویلسون و لیو، "د ټولنیز تسلط لورى او جنډر: د جنډر د پیژندلو تعدیلونکی نقش تعدیل"، ۲۰۰۳.

[143] سیدانیوس، پریتو او بوبو " د ټولنیز تسلط لورى او د حنډر سیاسي روانشناسی: د بدلون نه منلو یو مورد؟" ۱۹۹۴.

سیدانیوس، پریتو و میچل، "په ډلو پیژندنه کښې، د ټولنیز تسلط لورى، او د ډلې په منځ کښې د توپیر ټولنیز تخصیص،" کال ۲۰۰۱.

[144] پریټو ، سیدانیوس او سټالورت، او مالي، "د ټولنیز تسلط لورى: د شخصیت یو متغییر چې د ټولنیزو او سیاسي سلوکو وړاندوینه کوي،" ۱۹۹۴.

ويشي چې هغه د اوسني حالت جوړښت دا د مراتبو سلسله کمزوري کوي. د ټولنيز تسلط پلوی کول دا وړاندوينه کوي چې هغه څوک چې د ټولنيز تسلط د پلوي له نظره لوړ دی او يا دا باورونه لري نو هغه به په ډير احتمال د مراتبو سلسلې د نقشونو پراخيدو پلوی کوي، په داسې حال کښې چې څوک د ټولنيز تسلط له نظره کمزوري موقف کښې وي او د مراتبو سلسلې پر کمزوري کولو باور لري نو هغه به کوښښ کوي چې د نقشونو د مراتبو سلسلې نقشونه کمزوري شي. مطالعو ښودلې ده چې هغه وګړي چې لوړ او يا ټيټ موقف کښې قرار و لري دواړه به د ټولنيز تسلط پلوی سيالي کوي.[144] تر ټولو مهمه دا ده چې د دې څيړنې په متن کښې ښودل شوې چې نارينه تمايل لري، د ټولنيز تسلط د پلوي له نظره د ميرمنو په نسبت د پام وړ لوړه سطحه کښې قرار ولري.[145] دا څرګندوي چې ميرمنې به په ډير احتمال لړ کوښښ و کړي چې ممتاز مقامونه ولري، لکه د مثال په توګه د پارلمان غړي، يا کولای شي وړانديز و کړي چې څوک څه غواړي، نو د نورو په دستور بايد يو څوک د پارلمان د غړي په توګه د دوی په کړنو اغيزمن حاکميت ولري، دا کار وکړي. د ټولنيز تسلط پلوی کولای شي د نارينه د باطني تمايل پر بنسټ يو متبادله توضيح وړاندې کړي چې په فساد کښې اخته شي او د هغو پالسيو ملاتړ وکړي چې نابرابرۍ ته دوام ورکوي، چې په هغه کښې د يو نوماند استخدام او قانوني طرزالعملونه شامل دي. په دولت کښې د ټولنيز تسلط پلوی او فساد تر منځ اړيکه کومه چې د جنسيت سره تړاو لري په دې څيړنه کښې پرې کار نه دی شوی.

## لاسته راغلي معلومات

په دې څيړنه کښې، د ټولنيز تسلط پلوي کولو له نظره د پارلمان د نارينه او ښځينه غړو تر منځ کوم مهم توپير نه دی ليدل شوی[146].

د يو مقياس له مخې له (۱-۷) پورې، چې په هغه کښې د ټولنيز تسلط پلوي کول (۱) ډيره لوړه کچه او (۷) ډيره ټيټه کچه ښکاره کوي، اوسطه نمره ۳,۱۷ وه،[147] دا ښکاره کوي چې په اوسطه توګه د پارلمان غړي د ټولنيز تسلط کلکه پلوي کوي. په هر حال، د ټولنيز تسلط کله پلویۍ د هيڅ ډول متغيير سره د فاسد د خطر او په فساد کښې د ښکيلتيا له نظره ارتباط نه درلوده.

## 3.3 پر جنډر ولاړه شبکه او د فساد لپاره زمينې

### 3.3 الف موجوده څيړنه

ګوتز تاکيد کړی دی چې دا ميرمنې د نارينه څخه لږې په فساد کښې ککړې دي يوه "کيسه" ده، او د ميرمنو او فساد تر منځ اړيکه روښانه نه ده.[148] ګوتر دا کوښښ چې ادعا کوي چې د ميرمنو په منځ کښې د فساد نشتون يوه کيسه ده د هغه د استدلال ملاتړ وکړي. هغه ادعا کوي چې دا موضوع چې د Swamy او همکارانو او ډولار او همکارانو مطالعات د فساد يوه ثابته يا دقيقه اندازه څرګندوي، او دا چې مطالعات پر دې ولاړ دي چې جنډر څرنګه د خلکو عکس العملونه تنظيموي، نه دا چې د جنډر اړيکې فساد يا فرصت طلبه رفتار ته زمينه برابروي. سره له دې چې د جنډر او فساد په اړه لا نورې فرضيې ردوي، ګوتز له دې نظره چې جنډر کيدای شي د رشوت لپاره زمينې برابرې کړي مهمه مرسته کوي، او د جنډر او فساد په اړه بحث ته پراختيا ورکوي تر څو جنډر شبکې ته پاملرنه وشي. ګوتز تاکيد کوي چې په سياست کښې د ميرمنو د شمول لپاره ترتيبات د نژاد، طبقې او قومي توپيرونه له پامه غورځوي، تر څو ميرمنې و توانيږي دولتي څوکۍ تر لاسه کړي.[149] په بدل کښې، ګوتز دا سې فرضوي چې د فساد لپاره زمينې د جنډر په واسطه شکل نيسي. له دې نقطه نظره، ميرمنې په نسبي توګه له دولتي دفترونو سره نوې مخامخ کيږي، او په سياست او عامه دفترونو کښې د نارينو له تجربې سره فرق کوي. له دې محدوديتونو سره استخدام شوې ميرمنې په فساد کښې د ښکيلتيا لږ فرصتونه لري، چې د نارينه له خوا اداره کيدونکو شبکه څخه د وتلو او د هغوی د ګډون له امله د جنسيتي آزار سره مخ کيږي.[150] د جنوبي آسيا په شرايطو کښې، ګوتز هغه تمايل ته پاملرنه کوي چې په سياست کښې د ميرمنو شمول د خانداني، طبقاتي، کورنی، او حمايوي سيستمونو سره بنسټيزه ريښه لري، چې په نتيجه کښې دا حالت د عامو ميرمنو د ګډون توانمندي کمزوري کوي. پر دې سربيره، د استخدام دا ضمني طريقه ايجاب کوي چې هغه ميرمنې چې کولای شي ګډون وکړي د سياسي اتحاد، بحث، اوږدې مودې ستراتيژۍ، د منابعو لاسته راوړلو لپاره کمپاين، او د پاليسۍ جوړولو تجربه نه لري؟[151]

[145] سيدانيوس، لوين، ليو، و پريتو ، " د ټولنيز تسلط لوری، د مساوات غوښتنې ضد او د جنډر سياسيي روانشناسي: او د فرهنګونو تر منځ د اړيکو پراختيا او ترويج"، ۲۰۰۰.

[146] t(80)=.743, p>.05

[147] N=82, M=3.17, SD=.65

[148] آنا ماری ګوتز، "سياسي پاکونکي: ميرمنې د فساد پر وړاندې نوی څواک؟" پرمختګ او بدلون ۳۸، ۱ ګڼه، ۲۰۰۷: ۸۷-۱۰۵.

[149] هماغه ځای.

[150] هماغه ځای.

[151] هماغه ځای.

ګوتز یو شمیر مهمو پوښتنو ته د ځواب په پیدا کولو کښې چې باید د جنډر او فساد ترمنځ د تړاو لپاره باید نظر کښې و نیول شي، ډیره مرسته کوي. آیا د میرمنو ښځه د نارینو په نسبت زیاتره لږ رشوت غوښتل کیږي، ځکه باور دا دی چې میرمنې لږي پیسې لري؟ او یا میرمنې، د کور د اداره کونکو په توګه، د فساد د بیلابیلو ډولونو او په مختلفو سطحو د نارینو ښځه په متفاوته توګه چې په رسمي اقتصاد کښې کار کوي، مخامخ کیږي؟ آیا د فساد « پیسې» ځینې وختونه د آزار او ناوړه جنسي ګټې اخستنې سبب کیږي.[152]

سندستروم (Sundstrom) په ورته توګه د جنډر د شبکو د پیوند د ارزونې پیچلي عوامل په ډیره ژوره توګه د بحث لاندې نیسی. د ګوتز په څیر، هغه د استخدام پروسه د جنډر د متفاوتو تجربو د یوې تماس د نقطې په توګه روښانه کړې ده، بلکه کښې دا ادعا کوي چې دا پروسه دوه پړاویزه ده، لمړی د نوماند کیدو په مرحله کښې او بیا په یوه سیټ د یو منتخب استازي په توګه.[153] سندستروم دوه پروسې پرمخ وړي – "د شبکو له لورې شاته غورځول شوې" او "د شبکو ښځه پاکې". "د شبکو له لورې شاته غورځول شوې" هغه بهیر دی چې په هغه کښې میرمنې د نوماند کیدو ښځه لیرې ساتل شوې دي ځکه په جنډر ولاړې شبکې؛ سببي استقامت د فساد ښځه د جنډر پر لورې دی. "د شبکو ښځه پاک" یوه بهیر دی چې په هغه کښې میرمنې په حقیقي توګه منتخب شوې میرمنې صحنې ته نوي داخلیدونکي میرمنې دي او د نارینه پورې محدودو فاسدو شبکو کښې بوختې نه وي، او په ډیر لږ احتمال به فرصت و لري چې د فاسد په کړونو کښې ککړې شي؛ په دې مثال کښې سببي استقامت د جنډر ښځه د فساد پر لور دی. سندستروم د ا چارچوب په یوازې ځان د یوې توضیح په توګه نه، بلکه مخکښې پرتو پوښتنو د یو تکمیلونکي چارچوب په توګه چې د جنډر او فساد د ارزونې لپاره په کار وړل کیږي، وړاندې کوي.[154] په دې چارچوب کښې مهمه نکته دا ده، چې دا دوه بهیرونو متقابلا په فرد پورې منحصر نه دي، او په حقیقت کښې یو ځای کار کولای شي، په نتیجه کښې دا نظر چې سببي استقامت په دواړو طریقو کارول کیدای شي.[155]

دالریوپ (Dahlerup) او لینار (Leyenaar) د نارینه د تسلط لاندې او د جنډر له نظره متوازن یو څو اړخیزه موډل ایجاد کړی دی. د دې موډل پر اساس، شپږ مختلف اړخونه چې په هغو کښې د استازیتوب له نظره د نارینو د تسلط ادعا شوې ده، د کار سیاسي چاپیریال، د سیاسي جوړښت له نظره د پوستونو ویش، مهمو مقامونو او کمیسیونو ته لاسرسی، بحثونه او چوکاټ جوړونه، او عامه پالیسۍ وجود لري. تر ټولو مهمه، داده چې د هغوی تر منځ واقعی او ظاهری بدلونونه، چې په حقیقت کښې نوي شکلونه یوازې د نارینو د تسلط نوي شکلونه دي. هغوی درک کړې ده چې دې پروسې په پخوانیو غربي ډموکراسیو کښې ۱۰۰ کاله وخت ونیوه چې په پارلمان کښې د میرمنو استازیتوب د ۲۰- ۴۰ سلنې پورې و رسیږي، په داسې حال کښې چې په ډیرو نوو ډموکراسیو او د شخړو ښځه نوو را وتلو هیوادونو کښې، د سهمیې د سیستم د معرفي له لارې تقریبا ور ته فیصدی ته په ډیر لږ وخت کښې و رسیدل.[156].

په دې کار سره، هغوی نتیجه تر لاسه کړه چې نورو څیړنو ته اړتیا ده تر څو دا دوه خط السیرونه سره په پرتله کړای شي، کوم به چې لاندې موضوعاتو ته رسیدګي وکړي: د مهم ټولنیز-اقتصادي او تعلیمي بدلون ښځه وړاندې د میرمنو د سیاسي استازیتوب استحکام؛ د سیاستمدارانو په توګه د میرمنو درک؛ لوړ پوستونه؛ د پالیسیو بدلون او په چټکو کړنلارو کښې د میرمنو مشرانو وړتیا؛ نسبی جذب او په هر خط السیر کښې د میرمنو سیاسیونو د وضعیت بدلون[157]

بایرنګرید (Bjarnegard)، ورته وړاندیز کوي چې د جنډر شبکې د جنډر او فساد تر منځ اړیکه توضیح کوي، مګر سببي اړیکه کیدای شي په حقیقت کښې د هغه څه معکوسه وي چې په نورو څیړنو کښې یې ادعا شوې ده، چیرې چې هغوی شبکو ته لاسرسی لري سیاسي فساد ور ته ګټه رسوی، په محلي او ملي سطحه د ممتازو خلکو سره رابطه، هغه منابع چې فاسدې کړنې تمویلوي، او هغه څوک چې لا د مخه په ټولنه کښې نفوذ لري- یعنې معمولا نارینه. دا مطالعه څرګندوي چې په یو هیواد کښې د فساد کچه تمایل لري چې د پارلمان په ترکیب باندې او یا سرچپه اغیزه وکړي. په هر حال، دا اړیکه لږه مهمه وه کله چې د ډموکراسۍ او فساد متقابل اغیز کنترولیږي، څرګندوي چې دا اړیکه ډیره پیچیده ده. بایرنګرید نتیجه تر لاسه کړې چې د تیوري په اړه ډیرې لاینحله پوښتنې پر ځای پاته دي، او کیدای شي چې وضعیت داسې وي چې فساد د خپلوۍ پالنې، کوم چې کیدای شی ممتازې ډلې چې لا د مخه په واک کښې دی اغیزمنې کړي، چې زیاتره د نارینه له خوا اداره کیږي.[158]

[152] هماغه ځای

[153] اکسیل سندوستروم، "د جنډر او فساد د شبکو پیژندل: د استخدام او استازیتوب پر مهال یو دوه اړخیزه بهیر،" د میرمنو او سیاست متخصصې ډلې د جنډر او سیاست په اړه د ورکشاپ لپاره وړاندې شوی سند، لندن، د فبرورۍ ۲۶، ۲۰۱۱.

[154] هماغه ځای

[155] هماغه ځای

[156] درود ډهرلیوپ او مونیک لیینار، «په پخوانۍ او اوسنۍ ډموکراسۍ په سیاست کښې د جنډر د تعادل پر لور حرکت،» د سیاست او جنډر په اړه د دریم کنفرانس سند، بارسلونا، د مارچ ۲۱-۲۳ ۲۰۱۳ کال.

[157] هماغه ځای

[158] الین بایرنګرد، "د فاسدې الرې ښځه سیاسي دفتر د رسیدو جنسیتي نتیجې،" هغه سند چې په شلم (IPSA) نړیواله کنګره کښې به وړاندې شي،د جولای ۰۹-۱۳، ۲۰۰٦، په فکوکا، چاپان کښې.

بایرنگرید (Bjarnegard) د خپلې ډوکتورا په تیزس کښې، همدارنگه د غړو ترمنځ د متقابل عمل د پانګې مفهوم وړاندې کوي، چې هغه هم د سندستروم له خوا مطرح شوی وو، او د جنډر د شبکې په اړه د نورو ادعاګانو سره توپیر لري چې په هغوې کښې دا مشخص شوې ده چې د انګیزې د را منځ ته کولو او د نارینو سیاسي پانګې راټولول آسانوي کوم چې د ټاکنیزو بریالیتوبونو لپاره اړین دي، مګر میرمنې ور ته لاسرسی نه لري.[159] دا مفهوم لا نور د سندستروم د جنډر او فساد د دوه ګونو کړنلارو د سببي استقامت مفهوم جوړونې په اړه زیاتوي، چې د جنډر د شبکې څخه د میرمنو خارجول د جنډر او فساد تر منځ د اړیکې د بنسټ د تقویه کولو ډیره جدي موضوع ده.[160]

فولک (Folke) او ریکني (Rickne) د جنډر شبکې چارچوب ته پراختتیا ور کړه تر څو په هغه کښې په پراخه کچه د ټولنیزې جنسیتي نابرابرۍ ابعاد، له هغې جملې څخه د کورنۍ درک کړي مسئولیتونه شامل کړي. د سویډن د ښاروالۍ د سیاسیونو آزمایلو (بررسۍ) پرمهال، دې مطالعې دا معلومات لاسته راوړل چې ډیر لږ احتمال موجود دی چې میرمنې د دوهم ځل لپاره وټاکل شي او د میرمنو پر وړاندې د ګوند د ټاکونکو له منځه چیرې چې شایسته سالاري نه ده عملي شوې، منفي تمایل ښکاره کوي. په خپلو څیړنو کښې، د عرضې عنصر، په لمړۍ درجه کښې د کورنۍ مسئولیتونه، د نارینو او میرمنو تر منځ د نفوذ پر اساس د تقرریو ځینې نیمګړتیاوې توضیح کړې دي، مګر د تقاضا عناصر لکه تجربه، عمر، تحصیلات او عاید یې نه دي توضیح کړې[161] دا څیړنه جنډر شبکې چارچوب د استخدام او استازیتوب څخه جلا بهیرونو، سیاسي بوختیاو، مقرریو، او د سیاسي نفوذ له نظره د جنډر نیمګړتیاوې په ګوته کوي. پر دې سربیره، دا واقعیت چې دا مطالعه په سویډن کښې تر سره شوه او وایي چې تر کومې اندازې جنډر شبکې په سیاست کښې د میرمنو د ګډون د کمزورې کولو سره مرسته کوي، او همزمان د ټولنیزو بنسټونو او ټولنیز جنډر نا برابرې په ګوته کوي.[162]

په ورته توګه، نماسو (namasu) او ایکدا (Ikeda) په ټولنیزه پانګه اتکا کړې او همدارنګه وایي چې د پوستونو رامنځ ته کونکی باید د سیاسي ګډون د جنډر ټولنیزه پانګه بررسی کړي. د نفوسو د کنترول متغیرونه لکه جنس، عمر، تحصیلات، او جغرافیایي موقعیت، او همدارنګه سیاسي پوه او علاقه مندي، دې څیړنې دا معلومات لاسته راوړي چې د جنسیت پر تمایل ولاړ د سیاسي پانګې ویش شوی دی، چیرې چې یوازې د نارینو شبکې په سیاسي ګډون مثبت اغیز درلود. هغوی نتیجه تر لاسه کړه چې دا د میرمنو لپاره ډیره سخته ده چې په سیاست کښې برخه واخلي ځکه د هغوي خپل منځي شبکې د نارینو څخه ډیرې کمزورې دي. په هر حال، هغوی همدارنګه دا معلومات لاسته ته راوړي چې د میرمنو شبکې او یا غیر سیاسي شبکې، په دولت برخه اخستل هڅوي، چې په هغو کښې لږ مستقیم فعالیتونه شامل دی لکه د محلي سیاسي با نفوذه خلکو سره تماس، په مدني فعالیتونو کښې ګډون، د عدالت غوښتنې درخواست لاسلیک، یا د مالي مرستې برابرول.[163] الحسن آلوهو د توپیر پر تفاضل او فرصت تیوري (DAO) کار پیل کړ او د ټولنیز نقش تیوري روښانه کوي چې دا استدلال چې هغه میرمنې چې په فاسدو کړنو او موجوده شبکو کښې لږه برخه لري، د ګانا په تجربي شواهدو ولاړه ده.[164] د ټولنیز تسلط پلوي تیوري دا نظر وړاندې کوي چې هغه وګړي چې په جرم مرتکب کیږي نه یوازې د نورو خلکو سره پرله پسې متقابله معاملات لري ځینې په داسې رفتار سترګې پټوي، بلکه دا فرصت هم لري چې په هغه کښې برخه واخلي، دا توضیح کوي چې ځینې وګړي په غیر قانوني کړنو کښې اخته دی. د ټولنیز نقش تیوري ادعا کوي چې د یو فرد د مناسب رفتار په اړه لکه د یوې ځوکۍ نیول، د هغوی په توقعاتو پوهیدل، چې نور یې د خپل نقش له مخې تمه لري، او د هغوی د متوقعه نقش فشار او مجازاتو څخه ډار که توقعات انحرافي وي، د هغوی د پوهې په واسطه اغیزمن کیږي.[165] په دې چارچوب کښې، د الحسن آلوهو مطالعه دا نتیجه اخلي چې میرمنې د نارینه څخه لوړ اخلاقي معیارونه نه څرګندوي، او امکان نه لري چې هرو مرو به د نارینو څخه په فساد کښې ځان لږ ککړ ثابت کړي، کله چې د فساد لپاره زمینه او شبکې موجودې وي. دې مطالعې په ورته توګه د دولتي پوستونو څخه د استفادې پر مهال د جنډر له نظره هیڅ توپیر پیدا نه کړ تر څو خپلولي و پالي او یا ټولنیز تعهدات تر سره کړي.[166] اساسا، هغه دا نتیجه تر لاسه کوي چې فساد د جنسیت سره هیڅ تړوا نه لري، بلکه فرصتونه او شبکې د فساد لپاره لاره هواروي، چې کیدای شي د جنډر سره تړاو ور کول شي، په کوم حالت کښې چې به جنډر په فاسدو فعالیتونو، یا د جنډر بې

[159] اکسیل سندوستروم، ۲۰۱۱ "د جنډر د شبکو او فساد پیژندل".

[160] هماغه ځای

[161] اولې فولک او یوحنا ریکنی، "میرمنې استازې او د نارینه و حکومتن؟ د ګوندونو سیالي او سیاسي شیشه یی چت، "د صنعتي اقتصاد دڅیړنو انستیتیوت، د (IFN) د کاري سند مقاله ، ګڼه ۹۲۳، ۲۰۱۲ کال.

[162] هماغه ځای

[163] کازونری انماسو او کنچې ایکدا، "په سیاسي ګډون د جنډر د ټولنیز پانګونې اغیز: د تولیدونکي د موقعیت د روش څخه په استفاده په (JES3) تولګه کښې موجود معلومات،" د ټولنیز پانګونې کنفرانس ته وړاندې شوی سند، د سینیکا پوهنتون، تایپې، تایوان، ۲۹-۳۰، د می ۳۰، ۲۰۰۸.

[164] الحسن آلوهو او نیماو ، "جنډر او فساد: د نوې اجماع ازمایل،" عامه مدیریت او انکشاف۲۷، ۲۰۰۷: ۲۳۷-۲۲۷.

[165] هماغه ځای

[166] هماغه ځای

طرفي، به په رسمي پوسټ کښې د فساد اړوند هيڅ توپير رامنځ ته نه کړي. الحسن آلوهو په ځانګړې توګه خبرداری ورکوی چې د ميرمنو وړاندې تګ د فساد ضد يوې وسيلې په توګه، دا وړاندوينه کوي چې د دې کار ناکامي د جنډر تنظيم د يوشانوالي پر بنسټ به هغه کوښښونه له منځه يوسي.[167]

### 3.3ب لاسته راغلي معلومات

د پارلمان ښځينه غړو په احتمالی توګه د نارينو په نسبت په دا ډول احساس کاوه چې د هغوی جنډر د هغوی د سياسی ژوند لپاره يو تاوان دی.[168] په داسی حال کی چې د پارلمان ۴۴ سلنه ښځينه غړې له دی بيانيی سره موافقې، تر يوې اندازې موافقې يا په کلکه موافقې دي. يوازی ۱۰سلنه نارينه غړو ورته فکر کاوه. د يو باور پر بنسټ چې جنډر د يوه سياسی ژوند دوی ته تاوان رسوي د هغه باور سره تړاو لري چې د يو لړ ځانګړو حالاتو لاندی راځي. دا کله ناکله سمه ده چې رشوت واخيستل شي.[169]

### کورنۍ او سوداګريزه شبکه

څرنګه چې د پارلمان ښځينه او نارينه غړو ترمنځ داسی يو مهم توپير نه وه او هغوی د کورنۍ پياوړتيا او اهميت په اړه درک نه درلوده،[170] د پارلمان نارينه غړي په اړين ډول سره ډيری ليواله وو ترڅو راپور ورکړی چې د هغوی کورنۍ سياسی فعالی دي.[171] د ځواب ويوونکو ٦٨ سلنه له دی بيانيی سره موافق، تر يوې اندازې موافق يا په کلکه موافق دي چې د هغوی کورنۍ قوي او مهمي دي. يوازی ١٦ سلنه غړو مخالفت او يا په کلکه مخالفت وکړ. په داسی حال کی چې ٧٠ سلنه د پارلمان نارينه غړي موافق، تر يوې اندازې موافق يا په کلکه موافق دي چې د هغوی کورنۍ د سياسی پلوه فعالی دي، يوازی ٣٨ سلنه ښځينه غړو ور ته نظر درلود. په هر حال، په راپور ورکولو کښې د نارينه او ښځينه و په منځ کښې داسی کوم مهم توپير نه وه چې هغوی زياتره وخت د پياوړو خلکو سره معاشرت لري موافق، تر يوې اندازې موافق يا په کلکه موافق دي.[172] د ټولو ځواب ويوونکي له جملې څخه ٦٨ سلنه له دې نظر سره موافق، تر يوې اندازې موافق يا په کلکه موافق دي هغوی غالبا د پياوړو خلکو سره معاشرت کوي، ۲۴ سلنه غړي مخالف، تر يوې اندازې مخالف يا په کلکه مخالف دي.

په زړه پوری توګه ښځې د نارينو څخه ډيری ليوالی وې چې راپور ورکړي چې د هغوی کورنۍ هغوی هڅوي چې د پارلمان غړې شي.[173] په داسی حال کی چې ۸۵ سلنه کلکه موافقې وې چې د هغوی کورنۍ د هغوی ملاتړ کوي، يوازی ۵۶ سلنه د پارلمان غړو په ور ته شکل راپور ورکړ. پاتی ۱۵سلنه ښځينه غړو د بيانيی سره موافقه وښوده او ۴۲ سلنه پاتی نارينه موافق، تر يوې اندازې موافق يا په کلکه موافق دي. د پارلمان په ښځينه او نارينه غړو منځ کی په راپور ورکولو کښې مهم توپير نه وه چې د هغوی کورنۍ د هغوی په عوايدو چې د پارلمان د غړی په توګه يی ترلاسه کوی بسيا دي.[174] ۴۴ سلنه ټولو ځواب ويونکي موافق، تر يوې اندازې موافق يا په کلکه موافق وو چې د هغوی کورنۍ د هغوی په عوايدو چې د پارلمان د غړی په توګه يی ترلاسه کوی بسيا دي.

د متغيرونو ترمنځ چې د کورنۍ حالت او ملاتړ او فساد سره تړاو يو شمير اړيکی موجودی وی. راپور ورکول شوی چې د پارلمان د غړي په توګه د کورنی ملاتړ درلودل د مرستي د غوښتنې سره تړاو درلود،[175] او د خلکو سره چې د ځواب ويونکو يا د هغو د کورنۍ د غړو سره مرستې کوي.[176] راپور ورکول شوی چې د کورنی د غړو په د پارلمان په يوه غړي اتکاء له دې سره تړاو لري چې خلک ځواب ورکونکو ته راځي چې د يو کار په مقابل کښې يا رشوت او يا معاوضه ور کړي.[177] دا راپور ورکول چې د يو چا کورنۍ مهمه او قوي ده د هغه راپور سره تړاو لري چې زياتره خلک د هغوی او يا د هغوی د کورني سره مرستې کوي،[178] هغوی ته ور ځي او د مرستې په خاطر ورته رشوت وړاندې کوي،[179] او په دې يې باور درلود چې دا د پارلمان غړي لپاره عادي ده چې خپل مقام و کاروي ترڅو د خلکو لپاره خدمت وکړي.[180] دا چې د يو چا کورنۍ د سياسي اړخه ډيره فعاله نه ده او په واضحه توګه د کوم متغيير سره چې هغه باورونه اندازه کوي د فساد د خطر لاندې او يا مخامخ دي. راپور ورکول چي غالبا د پياوړو خلکو سره معاشرت هم د هغې راپور ورکووني سره تړلی وه چی خلک کله کله پياوړو کورنيو ته ورځي چي د مرستی غوښتنه وکړی. او هغه پياوړي خلک د هغوی يا د هغوی د کورنۍ

167 هماغه ځای

168 $t(49)=2.93, p<.01$ (Male MPs N=61, M=5.62, SD=1.69; Female MPs N=32. M=4.28, SD=2.29)

169 $r(93)=.252, p<.05$

170 $t(95)=.982, p>.05$

171 $t(50)=3.97, p<.005$ (Male MPs N=71, M=5.03, SD=1.66; Female MPs N=32, M=3.41, SD=2.03)

172 $t(48)=.178, p>.05$

173 $t(102)=3.54, p<.01$ (Male MPs N=71, M=1.56, SD=.82; Female MPs N=33, M=1.15, SD=.36)

174 $t(103)=1.77, p>05$

175 $r(104)=.272, p<.01$

176 $r(100)=.305, p<.01$

177 $r(103)=.276, p<.01$

178 $rs(95)=.259, p<.05$

179 $rs(96)=.207, p<.05$

180 $rs(94)=.206, p<.05$

د غړو سره مرسته کوي. دا راپور چې د ځواکمنو خلکو سره د پارلمان سره اړیکې د هغه راپور ورکولو سره تړاو درلود چې خلک هغوی ته راځي چې له دوی څخه د یو کار د تر سره کولو غوښتنه وکړي،[181] ویل کیږي چې په مقابل کښې د خلک او د هغوی د کورنۍ غړي د دوی خدمت کوي.[182] په داسې حال کښې چې ۵۴ سلنه د پارلمان نارینه غړو احساس کاوه چې هغوی د امورو په ترسره کولو کې ښه دي.[183]

یوازې ۳۲ سلنه د پارلمان ښځینه غړو په مثبته توګه ځواب ور کړ. په هر حال، د نارینه او ښځینه وو ترمنځ د هغوی د پوهې په اړه د پارلمان د یوه غړي په توګه هیڅ مهم توپیر نه وه، هغوی د هغو خلکو د ګټو پلوي کوي چې په سوداګرۍ او د افغانستان په اقتصاد کښې فعال دي.[184] د ټولو ځواب ویونکو څخه ٦٨ سلنه غړي موافق، تر یوې اندازې موافق یا په کلکه موافق وو په داسې حال کې چې ٢٢ سلنه غړي مخالف، تر یوې اندازې مخالف یا په کلکه مخالف وو. د نارینه او ښځینه پارلمان غړو ترمنځ په راپور ورکولو کښې مهم توپیر نه وه چې هغوی په شخصي ډول د لوړ پوړو تجارتي چارواکو سره د تیرو دوو میاشتو په اوږدو کښې په اړیکه کښې وې،[185] چې ٢٢ سلنه ځواب ویونکو د ترسره شویو اړیکو راپور ورکړی دی.

د پارلمان د ښځینه او نارینه غړو ترمنځ د باور له نظره کوم مهم توپیر موجود نه وه چې ګونډي دا مهمه ده چې مهم او قوي خلک و پیژندل شي.[186] د ټولو ځواب ویوونکو څخه ٦٣ سلنه له دې بیانیې سره موافق، تر یوې اندازې موافق یا په کلکه موافق وو او یوازې ٨ سلنه غړو په کلکه مخالفت وکړ. په راپور ورکولو کښې د ښځینه او نارینه پارلمان غړو تر منځ مهم توپیر موجود نه وه چې د پارلمان د غړي په توګه دا فرصت پیدا کړیتر څو د افغانستان څخه بهر سفر وکړي.[187] چې د ټولو ځواب ویونکو له جملې ٧٨ سلنه غړي له دی بیانیی سره مخالف، تر یوې اندازې مخالف یا په کلکه مخالف وو.

دا درک چې یو څوک د کاروبار په ترسره کولو کښې ښه دي د هغه راپور ورکولو پورې یې تړاو درلوده چې خلک کله کله د ځواب ویوونکو او یا د هغوی د کورنیو د غړو سره مرستې کوي.[188] په ورته توګه د نورو متغیرو سره چې د کاروبار د شبکو سره تړاو لری، دا باور چې د پارلمان د یوه غړي په حیث یو کس په افغانستان په کاروبار او اقتصاد کښې د خلکو پلوی، د هغه راپور ورکولو سره تړاو درلوده چې خلک کله کله ځواب ویونکې ته ور ځي تر څو د مرستې غوښتنه وکړي[189] او خلک د ځواب ویوونکو او یا د هغوی د کورنیو د غړو سره مرستې کوی،[190] دا باور چې د پیاوړو او مهمو خلکو پیژندل مهم دي په مثبت ډول د هغه باور سره تړاو درلوده چې هغه د پارلمان غړی لپاره عادي ده ترڅو خپل څخه مقام د خلکو سره د ښیګڼی کولو لپاره استعمال کړي.[191] د سفر د فرصت درلودلو راپور ورکول په مثبه توګه د هغه باور سره تړاو لري چې د افغانستان کښې په سیاست او دولت کښې د فاسد کړنو د سرته رسولو پرته یی د بریالیتوب امکان نشته.[192] مګر دا هم په مثبت ډول د هغه باور سره تړاو درلود چې د پارلمان د غړي لپاره عادي ده ترڅو خپل مقام د خلکو لپاره د ښیګڼی په خاطر استعمال کړي.[193]

### د پارلمان څخه وړاندینۍ شبکې

په راپور ورکولو کښې د پارلمان نارینه غړي د ښځینه غړو په پرتله د پام وړ زیاتره په دی باور وو چې هغوی د پارلمان د غړي کېدلو وړاندی ډیر پیاوړی او مهم خلک پیژندل.[194] په داسې حال کښې چې د پارلمان ٦۴ سلنه نارینه غړي موافق، تر یوې اندازې موافق یا په کلکه موافق وو چې هغو د پارلمان د غړي کېدلو څخه وړاندی ډیر پیاوړی او مهم خلک پیژندل، یوازی ۴۵ سلنه ښځینه غړو ور ته نظر درلود. د پارلمان د غړی کېدلو څخه وړاندی د ډیرو پیاوړو خلکو د پیژندنی راپور د هغه راپور سره تړاو لري چې خلک زیاتره د ځواب ویوونکو او هغوی د کورنیو د غړو سره مرستې کوي.[195] په زړه پوری توګه، دا په مثبت ډول د هغه باور سره تړاو درلود چې دا ممکنه ده چې د فاسدو کړنو د ترسره کولو پرته په د افغانستان په سیاست او دولت کښې یو څوک بریالی کیدای نه شي.[196]

د راپور له مخې د پارلمان ښځینه او نارینه غړو تر منځ توپیرونه مهم نه وه چې خلک هغوی ته د پارلمان د غړي کېدلو وړاندی د مرستې غوښتلو لپاره ورغلي،[197] څکه هغوی پوهیدل چې کله دوی د پارلمان د غړي کیدو لپاره

[181] $rs(102)=.195, p<.05$

[182] $r(99)=.287, p<.01$

[183] $t(98)=3.29, p<.01$ (Male MPs N=69, M=3.72, SD=1.82; Female MPs N=31, M=5.06, SD=2.02)

[184] $t(97)=.926, p>.05$

[185] $X2(1, 96)=1.86, p>.05$

[186] $t(101)=.131, p>.05$

[187] $t(46)=.277, p>.05$

[188] $rs(98)=.289, p<.01$

[189] $rs(99)=.198, p<.05$

[190] $rs(97)=.288, p<.01$

[191] $rs(100)=.202, p<.05$

[192] $rs(97)=.204, p<.05$

[193] $rs(100)=.288, p<.01$

[194] $t(99)=2.13, p<.05$

[195] $rs(99)=.223, p<.05$

[196] $rs(96)=.206, p<.05$

[197]

سیالی ته را ووځي هغوی به بریالي شي،[198] او داسی خلک هم وه چې پارلمان ته د هغوی د تلو ملاتړ یې نه دی کړی،[199] یا یې د دې وړتیا درلودله چې د پارلمان غړی شي، څکه شتمنو او پیاوړو خلکو د هغوی ملاتړ کاوه. د ټولو ځواب ویونکو د ۹۸ سلنې له جملې څخه موافق، تر یوې اندازې موافق یا په کلکه موافق وو چې د پارلمان د غړیتوب څخه وړاندې به زیاتره خلک هغوی ته د مرستې غوښتلو لپاره ورتلل. ۹۰ سلنه خلک موافق، تر یوې اندازې موافق یا په کلکه موافق وو چې هغوی پوهیدل چی د پارلمان ته د تلو لپاره د رایه اخیستلو په خاطر سیالی وکړي، بریالی به شی، او د پارلمان ۷۴ سلنه غړو څخه زیات وو چې د دفتر تللو ته یی چا ملاتړ نه کاوه. په هر حال، د ټولو ځواب ویونکو څخه یوازی ۱٦سلنه  موافق، تر یوې اندازې موافق یا په کلکه موافق وو چې د پارلمان د غړی کېدلو وړتیا یې درلودله ځکه چې پیاوړو او شتمنو خلکو یی ملاتړ کاوه.[200] هغه راپور چې خلک د پارلمان د غړی کیېدلو څخه وړاندی د مرستو غوښتلو لپاره ورغلي وه په کلکه سره یی د هغه راپور سره تړاو درلوده چې خلک اوس زیاتره وخت ځواب ویوونکو ته د مرستې غوښتلو لپاره ورځي،[201] او هغه خلک زیاتره وخت د ځواب ویوونکو او د هغوی د کورنۍ غړو سره مرسته کوي.[202] په ورته توګه، هغه راپور چې هغوی پوهیږي د پارلمان لپاره سیالی کولو کښې به بریالی شي هم هغه راپور سره تړاو درلود چې خلک اکثره وخت ځواب ویوونکو ته د مرستی غوښتنې لپاره ورځي،[203] او هغه خلک زیاتره وخت د ځواب ویوونکو او د هغوی د کورنۍ د غړو سره مرسته کوي.[204] هغه راپور چې هغوی د دې وړتیا درلوده چې د پارلمان غړی شی ځکه چی پیاوړو او شتمنو خلکو یی ملاتړ کاوه د هغه راپور سره تړاو درلود چې خلک زیاتره وخت ځواب ویوونکو ته ورځي چې د مرستې غوښتلو لپاره رشوت یا معاوضه وړاندې کړي.[205] په ورته توګه، هغه راپور زیاتو خلکو شتون درلود چې پارلمان ته د هغوی ملاتړ یې نه کاوه، پیاوړو شبکو ته د لاسرسی د ظرفیت کموالې ښودنه په معکوس ډول د هغه راپور سره تړاو لري چې خلک زیاتره وخت ځواب ویوونکو ته د مرستې د غوښتلو لپاره ورځي.[206]

### پارلماني شبکې

په هغه وخت کښې چې د پارلمان غړو نورو سره د معاشرت کولو په اړه د پارلمان د ښځینه او نارینه غړو په منځ کښې هیڅ مهم توپیر نه وه،[207] نارینه د ښځینه وو څخه زیات لیواله وه چی هغه راپور ورکړی چې هغوی کله کله د پارلمان د نورو نارینه غړو سره معاشرت کوی[208]

۸۳ سلنه نارینه او ۹۱ سلنه ښځینه غړو موافق، تر یوې اندازې موافق یا په کلکه موافق وو چې هغوی کله کله د پارلمان د نورو ښځینه غړو سره معاشرت کوی. په هر حال په هغه صورت کښې چې ۱۰۰سلنه د پارلمان غړي موافق، تر یوې اندازې موافق یا په کلکه موافق وو هغوی زیاتره وخت د پارلمان نورو ښځینه غړو سره معاشرت کوی، یوازی ۸۴ سلنه د پارلمان ښځینه غړو همدا شان ځواب ور کړی. په حقیقت کښې ۵۱ سلنه د پارلمان نارینه غړي د دی بیانیی سره په کلکه موافق وو چی د پارلمان غړو د نورو نارینه سره د معاشرت په اړه ده. په داسې حال کښې چې یوازی ۳۸ سلنه ښځینې په کلکه په کلکه موافقې وې په داسې حال کښې چې یوازی ۳۸ سلنه ښځینه په کلکه په کلکه موافقې وي او د پارلمان د نورو غړو سره په منظم ډول اړیکې ساتی (۳۹ سلنه)، دا د نارینه وو ۲۰ سلنه څخه زیات لوړ وه چې په کلکه سره یی هم غړی ښودلی وه چې هغوی زیاتره وخت د پارلمان نورو ښځینه غړو سره معاشرت کوي. د پارلمان نارینه غړي په مهم ډول ډیر د باور وړ وو چې د یو بل نارینه د پارلمان غړي سره د تیرو دو میاشتو په اوږدو کښې د شخصي اړیکو درلودلو راپور ورکړی. (۹۰ سلنه د پارلمان نارینه غړی د ٦۵ سلنه ښځینه د پارلمان غړو په مقابل کښې).[209] په ورته توګه، د پارلمان ښځینه غړو په ډیر احتمال تیارې وې چې و وایي چې په شخصي توګه یې د نورو ښځینه غړو سره یې په تیرو دوه میاشتو کښې مفاهمه کړې ده. ۹۰ سلنه د پارلمان ښځیه غړې د پارلمان د ٦۸ سلنه نارینه غړو پر وړاندې.[210] زیات تره وخت د نورو ښځینه د پارلمان غړو سره د معاشرت راپور ورکول د هغه راپور ورکولو سره تړاو لري چې زیاتره وخت د خلکو له خوا ورته لاسرسی موجود وي تر څو د مرستې لپاره غوښتنه وکړي،[211] څرنګه چې د پارلمان نورو نارینه غړو سره معاشرت کیده.[212] د پارلمان نورو نارینه غړو د معاشرت هغه راپور ورکولو سره تړاو درلوده چې خلک زیاتره وخت د ځواب ویوونکو او یا د هغوی د کورنۍ د غړو سره مرستې کوي،[213] او په معکوس ډول یی د هغه باور سره تړاو درلوده چې د یو لړ خاصو حالاتو لاندی راځي، دا سمه ده چې کله ناکله دي رشوت واخیستل شي.[214]

[198]

[199]

[200]

[201] $r_s(105)=.439, p<.001$

[202] $r_s(101)=.275, p<.01$

[203] $r_s(105)=.393, p<.001$

[204] $r_s(101)=.277, p<.01$

[205] $r_s(101)=.339, p<.01$

[206] $r_s(101)=-.297, p<.01$

[207] $t(96)=1.84, p>.05$

[208] $t(36)=2.98, p>.01$ (Male MPs N=72, M=1.56, SD=.63; Female MPs N=32, M=2.38, SD=1.50)

[209] $X2(1, 100)=9.31, p<.01$

[210] $X2(1, 97)=5.15, p<.05$

[211] $r_s(98)=.310, p<.01$

[212] $r_s(104)=.270, p<.01$

[213] $r_s(101)=.212, p<.05$

[214] $r_s(103)=-.199, p<.05$

په هر حال، د پارلمان نارينه او ښځينه غړو ترمنځ د دې په اړه کوم مهم توپير نه وه چې کله دوی په پارلمان کښې تصميم نيسي نو لمړی د پارلمان نورو غړو سره موضوعات تر بحث لاندې نيسی،[215] يا په راپور کښې ور کول کيږي چې د پارلمان نور غړي په پارلمان کښې د پريکړی څخه وړاندی هغوی ته مشوره ورکوي.[216] د ټولو ځواب ويونکو څخه ۸۴ سلنه تر يوه حده پورې يا په کلکه موافق وه چې هغوی پر موضوعاتو د پارلمان نورو غړو سره د پريکړی څخه وړاندی بحث کوي او ۷۹ سلنه غړو په همدې توګه د نورو په اړه هغوی ته مشوره ورکوي کله چې پريکړه کوي. په پارلمان کښې د پريکړی څخه وړاندی نورو ته د مشوری راپور ورکول د هغه راپور ورکولو سره تړاو درلود چې خلک زياتره وخت ځواب ويوونکو يا د هغوی د کورنۍ غړو سره مرسته کوي،[217] او په کلکه د هغه باور سره تړاو درلود چې د پارلمان د غړو لپاره عادي وه تر څو خپل مقام څخه د خلکو خدمت لپاره کار واخلي او مرسته وکړي.[218] هغه راپور چې په پارلمان کښې نور دوی ته د پريکړې څخه وړاندی مشوره ورکوي د همدې متغيرو سره تړاو لري چې هغه د هغوی خلکو سره تړلی دي چې د ځواب ويوونکو يا د هغوی د کورنۍ د غړو سره مرسته کوي،[219] او هغه باور چې د پارلمان غړو لپاره عادي ده چې خپل مقام څخه کار واخليتر څو خلکو ته خدمت او ښيګڼه ورسوي.[220]

### سياسی شبکې او سياسی ګوندونه

په راپور کښې د پارلمان ښځينه او نارينه غړو ترمنځ هيڅ مهم توپير موجود نه وه چې هغوی د تيرو دو مياشتو په اوږدو کښې د وزير سره اړيکه نيولی وه.[221] د ټولو ځواب ويونکو له جملې څخه ۵۰ سلنه غړو د دې کار ترسره کولو راپور ورکړی دی. په ورته توګه، په راپور کښې د پارلمان ښځينه او نارينه غړو ترمنځ هيڅ مهم توپير موجود نه وه چې هغوی په شخصی ډول د افغانستان ولسمشر سره د تيرو دوو مياشتو په اوږدو کښې اړيکه نيولې،[222] چې ۴۰ سلنه ځواب ويونکو د دې اړيکې د ترسره کېدو راپور ورکړی دی.

په هغه راپور کښې چې ښايي هغوی د يوه سياسی ګوند فعال غړي وه د پارلمان ښځينه او نارينه غړو ترمنځ هيڅ مهم توپير موجود نه وه.[223] د ټولو ځواب ويونکو له جملې څخه يوازی ۱۷سلنه څخه د دې بيانيی سره په کلکه موافق وو، په داسی حال کښې، چې ۲۰ سلنه تر يوه حده موافقه درلوده او ۵۰ سلنه غړو نه موافقه وکړه او نه يې تر يوه حده په کلکه مخالفت وکړ. د پارلمان ښځينه او نارينه غړو ترمنځ د هغه باور په اړه هيڅ توپير موجود نه وه چې دا ډيره مهمه ده چې پياوړی خلک وپيژنو نسبت و دې ته چې د يو پياوړي سياسي ګوند غړي شي.[224]

د ټولو ځواب ويونکو څخه ۳۶ سلنه تر يوه حده پورې يا په کلکه له دی بيانيې سره موافق وو او ۱۹سلنه غړو نه موافق او نه يې مخالفت وکړ. يوازې ۱۱سلنه غړو د ځواب ويونکو له دی بيانې سره په کلکه موافق وو، په راپور کښې د پارلمان د ښځينه او نارينه غړو ترمنځ هيڅ توپير نه وه چې د تيرو دوو مياشتو په اوږدو کښې د ګوند لوړ پوړو چارواکو سره يې اړيکه نيولې،[225] چې ۵۲ سلنه غړو ځواب ويوونکو د اړيکې نيولو راپور ورکړی دی.

په سياسی ګوند کښې د فعاليت راپور د هغه راپور سره تړاو درلود چې خلک زياتره وخت د هغوی او د هغوی د کورنۍ سره مرسته کوي.[226] هغه باور چې دا ډيره مهمه ده تر څو پياوړی خلک وپيژندل شي نسبت و دې ته چې د يوه پياوړی ګوند غړي شي د هغه را پور سره تړاو درلود چې خلک زياتره وخت د هغوی يا د هغوی د کورنۍ لپاره سره مرسته کوي،[227] او د هغه باور سره چې د پارلمان د غړو لپاره عادی ده ترڅو خپل مقام څخه د خلکو ته د خدمت او ښيګنی لپاره کار واخلي.[228]

## 3.4 ليبراله ډموکراسي

### 3.4a موجوده څيړنه

د څيړنې د پام وړ جوړښت شته چې په ملي فساد کښې مشاهده شوي توپيرونه ثابتوي چې پر جنډر ولاړ سلوک توپيرونه نه دي، بلکه د فساد او جنډر تر منځ په اداره او دولتي سيستم، انعکاس دی. هنګ ـ اين سنګ يو متبادله استدلال وړاندې کوي چې "عادلانه جنس" په نامه يادېږي او د هغه پر وړاندې د "عادلانه سيستم" مطرح کيږي. دا ثابتوي چې د جنډر او فساد تر منځ متقابله اړيکه ړښتونې نه ده، چيرې چې عادلانه سيستم- هر يوه ليبراله ډموکراتيکه پاليسي – په حکومت کښې د يو ډير مشارکتي جوړښت سهولت را منځ ته کوي او د ټيټې کچې فساد هڅوي. مطالعه دا نتيجه تر لاسه کوي چې سره له چې په دولت کښې ګډون په ځينو شرايطو

[215] $t(101)=.044, p>.05$

[216] $t(102)=1.73, p>.05$

[217] $rs(100)=.314, p<.01$

[218] $rs(101)=.400, p<.001$

[219] $rs(100)=.363, p<.001$

[220] $rs(102)=.305, p<.01$

[221] $X2(1, 101)=.130, p>.05$

[222] $X2(1, 97)=1.20, p>.05$

[223] $t(87)=1.78, p>.05$

[224] $t(97)=.523, p>.05$

[225] $X2(1, 100)=3.18, p>.05$

[226] $rs(88)=.259, p<.05$

[227] $rs(96)=.241, p<.05$

[228] $rs(97)=.326, p<.01$

کښې هرو مرو د ټيټې کچې فساد سره متقابله رابطه لري، دې تړاو خپل اهميت له لاسه ورکړ کله چې په قانوني ليبراليزم کښې په مناسبه توګه کنټرول را منځ ته  شو. دا هم معلومه شوه چې د قضاييه قوې او رسنيو نقش ډېر مهم دی، يا د فساد څخه سترګې پټوې يا هغه منع کوي. دا وموندل شوه چې د قضا او مطبوعاتو نقش د پام وړ اهميت لري، چې د خپل توان مطابق يا بخښنه وکړي او يا اداری فساد محدود کړي. **سنګ** دې نتيجې ته رسيږي چې نه يوازې د جنډر يو شانوالی د ټيټ فساد مسئوليت پر غاړه لري، د جنډر مساوات او د ولت حساب ورکول دواړه د عصری ليبراله ډموکراسی لپاره سترې لاسته راوړنې دي.[229]"

ايساری او چيرليلو په ورته ډول دې پايلې ته رسيدلي چې ميرمنې د نارينه په نسبت حتما په طبيعي توګه ډيرې صادقه او د فساد څخه بيزاره نه دي، د يو شمير مطالعاتو پر بنسټ، چې زياتره يې د دې حيرنې لپاره په دفتر کښې مطالعه شوې دي. په حقيقت کښې هغوی ادعا کوي چې ډيموکراټيک موسسات د فساد او جنډر تر منځ د اړيکې فعالول د فساد يو خطر څخه ډک عمل په توګه د ممکنه ګټې د کمولو، او د امکاناتو د موندلو او په اخلاقي توګه د جرم ارتکاب له لارې صورت و نيسي. هغوی دا ثابتوي چې چې خطرونه په استبدادي سيستم کوچني دي چيرې چې رشوت اخيستنه او خپلولي پالنه عادي معاملات دي، او په فساد کښې نه ککړتيا شايد د فساد څخه ډير خطرناک وي. په دی حالت کښې، هغوی بحث کوي چې ميرمنې په متفاوت ډول د دغو خطراتو څخه اغيزمنې شوې دي او په پايله کښې د سخت فشار لاندې دي ترڅو د فساد په اړه موجوده سياسي مقياسونو سره مطابقت وکړي.[230]

د ايساری او چيرليلو مطالعې د بنسټيزې شوې ډيموکراسی او مستقل حکومت په اقداماتو لکه د ټولنيز، سياسی، او مالي نظره د فساد کومل، چې په دې باور ولاړ دي چې ځينې اداري له ډموکراسی سره تړاو لري او په اوسط ډول قصد لري تر څو هغه د عامو خلکو غوړونو ته ورسوي، د هغه د پرمختګ مخه و نيسي او په دولتي لګښت د ځواک د شخصي استعمال محکوميت ته لاره هواره کړي.[231]

په دې برخه کښې د ايساري او چيرليلو د ۱۹۹۸ څخه د ۲۰۰۷ کلونو پورې د نړی ۱۵۷ هيوادونه د مطالعې لاندي نيولي دي، ايساري او چيرليلو موندلي دي چې په دولت کښې د ميرمنو ګډون په استبداي حکومتونو کښې فساد سره تړاو نه لري، بلکه په منفي توګه په ډموکراسيو کښې د فساد سره تړاو لري. هغوی دا موندلي چې هغه دولتونه چې د سياسی نظره ټيټی نمري لري (د سياسي طرز د څلورمې پروژې د يوه مقياس په توګه (۱۰-) ۱۰ په قوي توګه استبدادي دي او (۱۰) په قوي توګه دموکراتيک دي، واقعا يو کوچنی، مګر د احصاييې له نظره په پارلمان کښې د ميرمنو د فيصدی او د فساد د کنټرول تر منځ يوه مهمه منفی اړيکه ده. په معکوسه توګه، په هغو دولتونو کښې د سياسي لوړه نمره، هغوی د احصاييې له نظره مهم او په پارلمان کښې د ميرمنو فيصدی او فساد تر منځ مثبته اړيکه موندلې ده. هغوی فرض کوي چې شايد په هغو ټولنو کښې چيرته چې په نسبې ډول ښځی ضعيفه دي، هغوی شايد يو ستر شوق ولري تر څو د سياسي کلتور توقعاتو سره مطابقت وکړي، او په رښتيا سره ښځې د نارينو څخه ډيری ليوالې کېږي چې په اداری فساد کښې ګډون وکړي.

هغوی خپلی موندنی د ډموکراسی او فساد يو شمير مختلفو اقداماتو له لارې بررسي کوي، او دې پايلی ته رسيږي چې ښځې ډيرې د سياسي معيارونو د تخلف خطراتو سره مخالفې دي، او چيرې چې فساد بدنام شوی دی، ميرمنې به د فساد پر وړاندې لړه حوصله و لري لږ احتمال لري چې د نارينو په تناسب په فساد کښې ښکېلې شي. په هرحال، که چيرې د فاسد سلوک خاوندان د حکومتوالی يو ساده ډلګی وي چې د سياسی موسساتو له خوا يې ملاتړ شوی وي، دا تمه کېدلای شي چې هلته به په فساد کښې د جنډر هيڅ خلا وجود و نه لري. هغوی خبرتيا ورکوي چې شايد نور سببي ميکانيزمونه موجود وي چې دا اړيکه باطلوي، لکه د جنډر بنسټيز شوي تبعيض اندازه يا شخصی شبکو او فاسدو فرصتونو ته لاسرسی، مګر په پراخه ډول خپل لاس ته راغليو معلوماتو ډيموکراټيکو موسساتو ته نسبت ورکوي.[232]

که څه هم، د ليبراله ډيموکراسی بحث کښې د پام وړ محدوديت وجود لري او هغه دا چې زياتره ليبراله ډيموکراسی چې فکر کيږي ښه بنسټيزه شوي دي د سياسي استازيتوب له نظره د جنډر د مساوات نه دی مطرح شوی، يا په ځينو شرايطو کښې هيڅ نژدې والي نه لري. څرنګه چې کېوبا ۴۹ سلنه، د امريکا متحده ايالات يوازی ۱۸سلنه، انګلستان ۲۳ سلنه او جرمنی۳۷ سلنه د پارلمان ملي څوکی د ښځو له خوا نيول شوي دي. د متحده ايالاتو په مقننه قوه کښې د ښځو د استازيتوب کچه د عربی متحده اماراتو ملي شورا سره برابره ده.[233]   دا بې نظمی وړانديز کوي چې که څه

[229] آويزن- اين سونګ، "عادلانه جنسيت او  عادلاه سيستم؟ جنډر او  فساد، بيا کتنه "ټولنيز ځواکونه ۸۲ ، ۲ همه ګڼه، ۲۰۰۳.

[230] جاستين ايساري او ګينا چيريليو، " عادلانه تر جنس » رښتيا يا افسانه ده؟ فساد، جنسيت و سازماني چارچوب، "سياست او جنډر۹، ۴ ګڼه، ۲۰۱۳: ۳۹۰-۴۱۳.

[231] هماغه ځای

[232] هماغه ځای

[233] "په ملي شورا کښې د ميرمنو لپاره د سيټونو تناسب،" نړيوال بانک،

http://data.worldbank.org/indicator/SG.GEN.PARL.ZS?order=wbapi_data_value_2014 +wbapi_data_value+wbapi_data_value-last&sort=desc

هم د ډیموکراټیکو موسساتو او دواړو ټیټی کچې فساد او د میرمنو د لوړې کچې استازیتوب په منځ کښې اړیکه موندل شوې ده، او ډیموکراسی په یوازی توګه بشپړ توضیحات نه شي وړاندې کولای.

## 3.5ب د افغانستان په شرایطو کښې لیبراله ډموکراسي د میرمنو سیاسي استازيتوب

افغانستان د پارلمانو ترمنځ د اتحادیې په ډاټابیس کښې په پارلمان کښې د میرمنو ښځو د فیصدۍ له نظره د ۱۴۳ هیوادونو په منځ کښې ۴۲ ځای لري، چې په ولسي جرګه کښې د میرمنو سلنه ۲۷،۷ او په مشرانو جرګه کښې د میرمنو سلنه ۱۷،٦ ده. د افغانستان په کابینه کښې د وزارتونو د څوکیو د ویش له نظره د ۹۴ هیوادونو په لړ کښې ۷۰ وم ځای خپل کړی دی، د ۲۰۱۵ کال د جنورۍ د میاشتې تر لمړی پورې یوازې ۱۰سلنه وزارتی مقاومونه میرمنو ته سپارل شوي دي.[234]

### د قانو حاکمیت، د رسنیو آزادي، ډمکراتیکې ټاکنې

د آزادۍ د کور د استازو د شاخصونو له مخې په ۲۰۱۵ کال کښې، افغانستان د قانون د حاکمیت له نظره ۱٦/۲ نمرې تر لاسه کړه، د داسې یو قضاییي سیستم په لرلو سره چې ی په ډیرو مواردو کښې اتفاقي فیصلې او عدالت کوي (....) چې نا روزل شوو قاضیانو له د قانوني مادو د یو ترکیب څخه د هغو لپاره کار اخستل کیږي.[235] دا توضیحات داسې دوام کوي چې "ستره محکمه، له دیني علماو څوک چې د مدني قانون په اړه لږه پوهه لري، تشکیله شوې، او په ځانګړې توګه اصلاحاتو ته اړتیا لري، او په محکمو کښې فساد ډیر پراخه شوی دی." [236] او په همدي ډول د مجازاتو څخه د معافیت اوضاع حاکمه ده. سربیره پر دې په حقیقت کښې د افغانستان نمره د شخصي ازادۍ او انفرادي حقوقو له نظره ټیټه یعنی ۱٦/۲ وه.[237] د نمرې تفصیلاتو بې ځایه کیدو، د ملکیت د حقوقو په برخه کښې نانوانی، او د بشري حقوقو تر پښو لاندې کیدو، د شخصي فعالیت لپاره په جنایې ډلو کښې بوختیا، د میرمنو حقوق، او د بشر حقوقو څخه سرغړوای، ته اشاره کړې ده. دا توضیح شوې ده چې "که څه هم میرمنې د تعلیم او استخدام لپاره رسمي، او په عامه ژوند کښې د ګډون حقوق لري، تبعیض او کورنی تاوتریخوالی په پراخه توګه پر خپل ځای پاته دی (....) د واده او طلاق په اړه د ښځو د انتخاب حقونه رواجوي او تبعیضي قوانین د کاغذ پر مخ پاته دي" او "بوډاګانو نارینو ته د ځوانو نجنو په جبري توګه ودول یا د کورنۍ غړو ته د کونډو په زور ودول یوه ستونزه ده.[238] افغانستان د بیان آزادۍ او عقیدې په اړه ټیټی نمرې یعنی ۱٦/۵ اخیستې دي. د نمرو بحث داسې شرحه کړې ده "سره له دې چې د ۲۰۰۷ کال د رسنیو یو قانون غوښتل ترڅو د رسنیو آزادی روښانه کړي او د دولت مداخله محدوده کړي، د ژورنالیستانو یو مخ پر زیاتیدونکې شمیر نیول شوې بندې دي، یا د سیاستمدارانو، امنیتي څانګو، او نورو ځواکمنو چارواکو له لورې ګواښل شوي دي.[239]

افغانستان د سیاسی حقونو له نظره ټیټي نمرې (۴۰/۱۱) ټاکنیزه پروسه (۱۲/۳) نمرې، کثرت ګرایي او ګډون (۱٦/٦) نمرې او د دولت فعالیتونه (۱۲/۲) نمرې تر لاسه کړې. دی توضیحاتو په ټاکنو کښې د لږ شمیر خلکو ګډون او پراخه درغلی او په همدی توګه د ۲۰۱۰ کال د پارلمانی او په ۲۰۱۴ کال ولس مشریزو او ولایتي شوراګانو د ټاکنو پر مهال د سیاسي واک په انتقال کښې ځنډ د یادونې وړ دی.

همدارنګه په افغانستان کښې د نه انتقال وړ واحدې رایې سیستم، ضعیفه سیاسي ګوندونه، او په سیاسي فعالیتونو د تاوتریخوالي او نا امنۍ اغیزې یادونه شوې ده. د دولت کمزوري اجراآت، د اشرف د کابینې په جوړولو کښې ځنډ، اوهمدارنګه "فساد، خپلوان پالنه او د حکومت په ټولو برخو کښې د ملګرو او انډیوالانو تقرر د دولت په ټولو سطحو کښې پر پر خپل ځای حاکم پاته دي، او د مامورینو کم معاشونه فساد ته عامه کار کونکي اړ کوي.[240].

افغانستان په اوس وخت کښې د حکومدارۍ د شاخص له نظره په اوسني وخت (۱۷) نمره نه ده اخیستی، چې هغه د ایساری او چیریلو په مطالعه کښې کارول شوي وه. اوسنۍ نخښه شوی نمره -٦٦ ده چې د بهرنۍ "لاس وهنو" حالت پر ګوته کوي.[241] په دی مطالعه کښې، د پارلمان ښځینه او نارینه غړو د درک او پوهی تر منځ هیڅ توپیرونه موجود نه وو په افغانستان کښې پارلماني ټاکنې آزادې، عادلانه، او روښې دي. د ټولو ځواب ویونکو له جملې څخه یوازی ۱٦سلنه په قوي، تر یوې اندازې قوي او یا کلکه له دی بیانیی سره موافقه وکړه. ۵۸ سلنه غړو ۱٦سلنه په قوي، تر یوې اندازې قوي او یا کلکه مخالفت وکړ.

[234] "میرمنې په سیاست کښې:۲۰۱۵،"د بارلمانونو خپل منخي ټولنه.۲۰۱۵. http://www.ipu.org/pdf/publications/wmnmap15_en.pdf.

[235] "افغانستان: په نړۍ کښې آزادي، ۲۰۱۵، د ازادۍ کور، ۲۰۱۵، https://freedomhouse.org/report/freedom-world/2015/afghanistan.

[236] هماغه ځای

[237] هماغه ځای

[238] هماغه ځای

[239] هماغه ځای

[240] هماغه ځای

[241] "د حکومت د طرز ۴ دولتی راپور، ۲۰۱۰: افغانستان،" سیتماتیکه سوله، ۲۰۱۰، http://www.systemicpeace.org/polity/Afghanistan2010.pdf.

### ټولنيز-اقتصادي پرمختګ

افغانستان د سړي سر ملي ناخالص عايد له نظره په ۲۴ تمه يعنې تر ټولو ټيټ مقام کښې ځای درلود. دا معلومات په ۲۰۱۴ کال کښې د برښنا د پيرودلو د توان له مخې چې په ۱۹۶۰ امريکايي ډالره دي، اخستل شوي دي.[242] په ۲۰۱۱ کال کښې د افغانستان ۳۶ سلنه وګړو د غربت د کرښې لاندې ژوند کاوه، چې د ښکته لوړې يې په ۱۶ مقام کښې ځای درلود. د افغانستان يوازې ۳۲ سلنه وګړي چې عمرونه يې د ۱۵ څخه پورته دي په ۲۰۱۱ کال کښې لوستونکي شول. چې په نړۍ کښې په ټولو هيوادونو کښې د ټيټې کچې هيواد دی چې د ۲۰۱۱ کال په ډيټابيس کښې راغلې.[243]

### په سياسي موسساتو کې د اداري فساد عادي کيدل

دا به ستونزمنه وي چې ثابته کړاي شي چې فاسد سلوک د حکومتوالۍ يوه عادي برخه نه ده چې په افغانستان کښې يې د سياسي بنسټونو له خوا ملاتړ کيږی. د ۲۰۱۴ کال د په ملي سروې کښې ۳۶ سلنه افغانانو يوازې د ناامنۍ څخه وروسته فساد په افغانستان کښې د سترې ستونزې په توګه په ګوته کړې دی. او ۲۱ سلنه ځواب ويوونکي په تيرو ۱۲ مياشتو په اوږدو کی د فساد سره مخ شوي دي.[244] دې راپور هم په پراخه کچه د فساد د ريښو د غزيدلو يادونه کړې ده، د فساد له امله عامه خدمتونو لکه برښنا، لوړې زده کړې، عدالت او پوليس ته لاسرسی محدود شوی دی. په افغانستان کی د فساد عام ډول چې ځواب ويونکو يې راپور ورکړی دی په اوسنی سياسي سيستم کی نژادي، شخصي، کورنۍ، او ګوندي اړيکې وې چې د ۵۷ سلنه ځواب ويونکو له خوا يې راپور ور کول شوی دی.

پر دې سربيره، په ۲۰۱۴ کال کښې افغانستان د نړيوالې روڼتيا اداري د فساد د درک د شاخص له مخې د ۱۷۵ هيوادونو له منځه په ۱۷۲ مقام کښې ځای درلود چې د ۱۰۰ نمرو څخه يې ۱۲ نمرې تر لاسه کړې دي.[245] افغانستان په ۲۰۱۰ کال کښې د فساد د کنټرول له نظره (۱،۶۲۱-) نمره ترلاسه کړه، چې په سلو کښې ۱ سلنه کيږي.[246] د ۱ څخه تر ۵ د مقياس په نظر کی نيولو سره د ۲۰۱۳ کال د فساد د اټکل پربنسټ (۱ بيخي له فساده پاک او ۵ په په فساد کښې ډوب ګڼل شوی دی)، د فساد اندازه کولو له نظره، سياسي ګوندونو ۲،۹ نمری، پارلمان او مقننه قوې ۳،۲ نمرې، چې د محاکمو څخه يوازې (۰،۲) نمره ګڼل کيږي چې په کښې ډيره ښکيله اداره ده.[247]

## 3.5ټولنيز سازمانونه

### 3.5الف موجوده څېړنه

د ټولنيزو سازمانونو نقش يو بل عامل دی چې د فساد او جنډر ترمنځ د مشاهده شوې متقابلې اړيکې يې څرګندې کړې دي. انګليارټ نوريس او ويلزيل په پارلمان کښې د ښځو د تناسب او په ټولنه کښې د دموکراسۍ سطحه، او اقتصادي او فرهنګي متغيرونو اغيزې آزمايلې دي او دا يې موندلي دي چې په پارلمان کی د جنډر اړوند برابري له ډموکراسۍ سره ډير نژدې تړاو لري، مګر، هيڅ د بل په رامنځ ته کيدو عامل نه شي کيدای. بلکه تر يوی اندازې، هغوی دا و موندله چې دواړه متغيرونه داسی ښکاري چې د اقتصادي انکشاف په برخه يو فرهنګي بنسټيز بدلون رامنځ ته کړي. د هغوی د بحثونو مطابق، په اقتصادی پراختيا او فرهنګی ميراث کښې دا بدلون د ژوندي پاته کيدو څخه د ځان بيانولو د ارزښتونو پر لور د يو بدلون سره مرسته کوي چې هغه دواړه هم ډيموکراتيک موسسات او په پارلمان کی د ښځو لوړې سلنه کښې آسانتيا رامنځ ته کوي.[248]

د دې لاس ته راغلو پر نسټ، برنيزيا، او زيګلر په ټولنه کی د فساد په اړه د ښځو پر وړاندی د تبعيض اغيزې په ګوته کوي. هغوی خپلې مطالعې د هغو نظريو پر بنسټ دروي چې د ميرمنو پر وړاندې د ټولنې سلوک د يو سياسي سيستم په فعاليتونو او د هغو په منځ کښې د ميرمنو پر نقش اغيزه کوي.: له همدې امله، د فساد کچه د سياسي سيستم پر کړنو اتکاء ولري، د جنډر پر وړاندې د ټولنې سلوک د فساد پر کچه اغيزه لري. د برنيزيا او زيګلر مطالعه، د ټولنيزو سازمانونو او جنډر د شاخصونو (SIGI) معلومات /ارقامو پر بنسټ ولاړه ده، او نتيجه يې ترلاسه کړې چې په سياسي او اقتصادي ژوند کښې او ډموکراسۍ لپاره د ميرمنو د استازيتوب له کنټرول څخه ورسته، د مدني آزاديو فرعي شاخصونه پر فساد يو د پام وړ منفي او مهم اغيز لري. په بنسټيزه توګه په هغو هيوادونو کښې چيرې چې ټولنيز

[242] "ارقام" نړيوال بانک، ۲۰۱۵، 2015, http://data.worldbank.org/?display=default.

[243]

[244] "محمد رازق اسحق زاده،« د افغانستان سوداکري او فساد: د رشوت پر وړاندې د مبارزې ملي اداره، ۲۰۱۴ کال، "د افغانستتان دروښتيا اداره، ۲۰۱۴،

http://www.baag.org.uk/sites/www.baag.org.uk/files/resources/attachments/IWA%20
national_corruption_survey_2014_english.pdf.

[245] "ّپه هيوادونو کښې فساد: افغانستان،"د روڼتيا نړيوال سازمان، ۲۰۱۵.
http://www.baag.org.uk/sites/www.baag.org.uk/files/resources/attachments/IWA%20
national_corruption_survey_2014_english.pdf.

[246] هماغه ځای

[247] هماغه ځای

[248] رونالد اينګلهارت، پيپا نوريس، او کرسچن ولزل، "د جنډر يو شانوالی او ډموکراسي،" د جامعه شناسی مقايسه ۱، ګڼه. ۴/۳، ۲۰۰۲: ۳۲۱-۳۴۶.

سازمانونه د میرمنو آزادۍ مخنیوی کوي ترڅو په هغه ټولنیز ژوند کې ګډون وکړي، هلته فساد ډېر زیات دی.[249]

## 3.5 ب د افغانستان په شرایطو کښې ټولنیز سازمانونه ټولنیز سازمانونه او جنډر

ټولنیزو سازمانونو او جنډر د شاخصونو (SIGI) د معلومات پراخه چارچوب څخه کار واخلئ تر څو د ټولنیزو سازمانونو تبعیضي طبیعت، رفتار او د کار طرز چې حقوقو، عدالت، او ځواکمنتیا ته د میرمنو او نجونو لاسرسی محدودوي د رسمي او غیر رسمي قوانینو په رڼا کښې ارزیابي کړي.[250]

افغانستان په ۲۰۱۴ کال کښې د ټولنیزو سازمانونو او جنډر د شاخصونو (SIGI) په ټولنیزو سازمانونو کښې د تبعیض له نظره، (۰,۳۲۲۴) لوړ ارزښت درلود.[251] د کورني تبعیض قانوني شرایطو ته په کتلو افغانستان په یو لوړ ډول طبقه بندی شوي وه. د محدوده فزیکی بشپړوالي، د ځوی درلودلو لوړ تمایل، د منابعو او شتمنیو د ممنوعیت له نظره لوړ، او مدني منع شوو آزادیو له نظره متوسط وه.[252]

د ټولنیزو سازمانونو په اړه څېړنې د یو تشریحي فکټور په توګه د جنډر او فساد تر منځ د اړیکی په اړه چې د مدنی آزادۍ د فرعي شاخص څخه پکښې کار اخیستل کیده. عمومي محیطونو ته د میرمنو لاسرسی له نظره د افغانستان نمره ۱، سیاسی سهمې (۰) او سیاسي ګډون (۰,۲۸) وه.[253] د نمرو توضیحاتو له ټولنیز رواج یادونه کړې چې هیوادونه د میرمنو د آزادۍ غورځنګونه محدودوي، په همدې ډول د ښځو پر وړاندی ګواښونه چې هغه په عمومي محیط او قانونی اصلاحاتو کښې فعالې دي لکه د شیعه مذهبو د شخصی احوال قانون. د میرمنو سیاسی آواز په اړه هم بحث شوی، د اساسی قانون د حکم سره سم د میرمنو یاده شوې ونډه، مګر په سیاست او له کوره بهر فعالیتونو کښې د میرمنو د ګډون په اړه عنعنوی ټولنیزو کړنلارو محدودونکي عوامل، او پر له پسې ګواښونه او تاوتریخوالی څوک چې په ټولنیز ژوند کښې فعالې دي.[254]

## په سیاست کښې د میرمنو په اړه ټولنیز سلوک

که څه هم معلومات محدود دي، په سیاست کښې د افغان میرمنو په اړه د سلوک ځینې نخښې شته. د ۲۰۱۴ کال د افغانانو په ملي سروې کښې ۵٦ سلنه ځواب ویوونکو احساس درلود چې میرمنې باید د خپل ځان لپاره پریکړه وکړي چې څرنګه رایه ورکړي، که څه هم ۱۷سلنه احساس درلود چې نارینه باید د هغوی لپاره پریکړه وکړي ۲٦ سلنه میرمنو و ویل چې هغوی باید د خپل ځان لپاره، د نارینو سره له مشورې وروسته په خپله پریکړه وکړي.[255] ۳۰ سلنه ځواب ویوونکو احساس درلود چې میرمنو ته باید اجازه ور نه کړل شي چې له کور په حکومتي دفتر کښې بهر کار وکړي، او ۷۰ سلنه په قوي، تر یوې اندزې قوي یا کلکه قوي توګه موافق وو چې میرمنې باید په دولتي دفترونو کښې کار وکړي.[256] په داسی حال کښې چې ٦۰ سلنه نارینو احساس درلود چې هغوی د محلی حکومتوالی د ۲۰۱۴ کال په پریکړو کښې اغیز درلود، یوازی ۵۲ سلنه میرمنو ورته احساس درلوده.[257] د نارینو په نسبت میرمنو د ولسي جرګې، ولاتي شوراګانو په رایه ورکولو کښې برخه وانخلي،[258] او دفتر ته تللو په حالت کې ډارېږي او ځان به هم نوماند نه کړي.[259]

په زیات ټینګار، ۳۸ سلنه افغانانو احساس درلود چې ټاکل شوي دولتي مقامونه باید د دواړو نارینه او ښځینه وو لپاره مساوي وي، که څه هم ۱۲سلنه احساس درلود چې زیاتره به هغه د ښځو لپاره وي. د ښځینه او نارینه وو د پوهې په اړه د پام وړ توپیرونه موجود وه،[260] [260]چیرې چې ٦۲ سلنه نارینو احساس درلود چې سیاسی مقامونه ، د ۳٦ سلنه سلنی ښځینه وو په پرتله باید په اکثریت سره د نارینو لپاره وي. ۴۸ سلنه میرمنو احساس درلود چې د ۲۹ سلنه نارینه وو په پرتله هغوی باید د دواړو نارینه او ښځینه وو لپاره مساوي وي.

[249] بوریس برانیسا او ماریا زیګلر، "د جنډر او فساد تر منځ د اړیکو مطالعه: ا ټولنیزو سازمانونو نقش،" د اقتصادي انکشاف د کنفرانس د مقالو ټولګه آلمان، برلین، کال ۲۰۱۱، ۱۵ ګڼه.

[250] " د ټولنیزو سازمانونو او جنډر د شاخص او د اقتصادي او انکشافي همکاریو سازمان، ۲۰۱۵، http://www.genderindex.org/content/team.

[251] "افغانستان" ټولنیز سازمانونه او د جنډر شاخص، د اقتصادي او انکشافي همکاریو سازمان، ۲۰۱۵، http://www.genderindex.org/country/afghanistan.

[252] هماغه ځای

[253] هماغه ځای

[254] هماغه ځای

[255] ژاک وارن، "افغانستان په ۲۰۱۴ کال کښې: د افغانستان د خلکو سروې،" د آسیا فونډیشن، ۲۰۱۴، https://asiafoundation.org/resources/pdfs/Afghanistanin2014final.pdf.

[256] هماغه ځای

[257] هماغه ځای

[258] $X2(4, 9271)=479.24, p<.001$

[259] $X2(4, 9271)=14.28, p<.01$

[260] $X2(4, 9271)=596.285, p<.001$

# 4. نتیجه

دې څېړنې کوښښ کړی هغې پوښتنې ته ځواب پیدا کړي چې په پارلمان کښې د ښځینه غړو او فساد تر منځ اړیکه به، لکه څنګه چې ښودل شوې ده په ملي کچه د مختلفو شرایطو له نظره یو شان وي، په افغانستان کښې وجود نه لري. د دې اړیکې لپاره چې په نورو شرایطو کښې مشاهده شوې د دې توضیحاتو څلور کلیدي کټګورۍ آزمایلې دي یعنې د سلوک توپیرونه، د جنډر شبکې، لیبراله ډموکراسي، او ټولنیز سازمانونه، چې د مختلفو شرایطو په موضوع یې د یوې لسیزې څخه زیاتې څېړنې کړې دي. دې څېړنې د فساد او جنډر تر منځ متقابلې اړیکې د نارینه او ښځینه رفتاري توپیرونو ته نسبت ور کړی دی. نورو دا څرګندونې کړي چې میرمنې په نسبي توګه د سیاست د ډېر برخو څخه لیرې پاته دي، او شبکو ته چې د فاسدو کړنو لپاره فرصت برابروي، لږ لاسرسی لري. یوه متبادله توضیح د "عادلانه جنس سیستم" پر وړاندې د "عادلانه سیستم" نظریه ده، او دا تاکید کوي چې د جنډر او فساد تر منځ پیوند کاذب او په عمده توګه د هغو د شرایطو، لیبرالې ډموکراسۍ، پر اساس را منځ ته شوي، کوم چې به د تیوري له نظره دواړه د جنډر یو شانوالی او ښه حکومتوالي ترویج کړي. په پای کښې نورو څېړنو دا روښانه کړې ده چې فساد په هغو هیوادونو کښې لوړ دی چیرې چې ټولنیز سازمانونه میرمنې په ټولنیز ژوند د ګډون د خپلو آزادیو څخه بې برخې کوي. دا لاسته راغلي معلومات به دا وړاندیز و کړي چې په هغو شرایطو کښې چې ټولنیز ارزښتونه میرمنې د کمزوریو سره مخامخ کوي، نه به د ډموکراسۍ پر لور سیاسي اصلاحات او نه په سیاسي او اقتصادي پوستونو کښې د میرمنو د استازیتوب زیاتوالی کافي وي چې فساد را کم کړي.

دې څېړنې هیڅ شواهد نه دي ترلاسه کړي چې د دې خبرې ملاتړ وکړي چې په افغانستان کښې د پارلمان نارینه یا ښځینه غړي د فساد د خطر سره ډېر یا لږ مخامخ دي او یا فاسدو باورونو ته لاسرسی لري. پر دې سربیره، څېړنو ښودلې ده چې د پارلمان نارینه یا ښځینه غړي د خپلو ملګرو په واسطه په عمومي توګه په فساد کښې یو شان ککړ دي، کوم چې به د دې عمومي درک ملاتړ وکړي چې پارلمان تر یوې اندازې فاسد دی. د دې څېړنو څخه لاسته راغلو معلوماتو له مخې، د جنډر په نظر کښې نیولو پرته، په خپله داسې راپور ورکوي چې د رشوت د اخستلو خلاف دي، د مقام څخه ګټه اخستنه چې د نورو خلکو کارونه و کړي او د خلکو له خوا د پارلمان د غړو خدمت یوه عامه خبره ده، او په افغانستان کښې د پارلمان ټول غړي داسې ګڼل کیږي چې په لوړه کچه د فساد د ککړتیا د خطر سره مخامخ دي.

له دې څېړنې څخه لاسته راغلي شواهد د هغو فرضیو ملاتړ کوي چې لوړه کچه فساد د لوړې کچې لند فکری، لوړې کچې ځان غوښتنې، او لوړې کچې مادیاتو خوښونې سره پیوند لري. جالبه ده، چې په شخصي خصوصیاتو کښې د جنډر تفاوتونه تمه کیده چې د دې مطالعې عمده لاسته راغلي معلومات وي، او په نسبي توګه د جنډر له نظره یو څو تفاوتونه څرګند شول. دا نظریه چې د شخصیتي خصوصیاتو له نظره د جنډر توپیرونه په افغانستان کښې په فساد کښې ککړتیا او د خطر سره مخامختیا له نظره ګواښي، او په مجموعي توګه د جنډر او فساد تر منځ د مشاهده شوو اړیکو له نظره چې په نورو څېړنو، لکه د ډولار او همکارانو، ترګلر او فالي د مطالعاتو بیا کتنه کښې موندل شوي دي، د "عادلانه جنس" د توضیحاتو سره مخالفت لري. دا څرګندوي چې دا احتمال وجود لري چې میرمنې (لږ تر لږه هغه څوک چې هغه سیاسي سطحې ته رسیږي تر څو د پارلمان غړې ترې جوړه شي)، په افغانستان کښې په طبیعي توګه لږې په فساد کښې ککړې دي یا ښه شخصیتي خصوصیات لري چې دا له هغوی څخه داسې اشخاص جوړوي چې لږې په فساد کښې ککړې شي.

دې څېړنې د فساد د خطر سره د مخامختیا او باورونو په اړه د پارلمان د نارینه او ښځینه غړو تر منځ د توپیر کوم شواهد نه دي تر لاسه کړي چې د هغو لاسته راغلو معلوماتو سره یو مثلث جوړ کړي څرګندوي چې کیدای شي ډېر لږ او یا هیڅ توپیر د پارلمان د نارینه او ښځیه غړو تر منځ شبکو ته د لاسرسي له نظره چې هغه به د فساد لپاره تسهیلات برابر کړي موجود نه وي. دا ممکنه ده چې د سیاست د څرنګوالي په نظر کښې نیولو او په افغانستان کښې د قیمومیت لاندې شبکې، هر بریالی سیاست مدار د هغوی د جنسیت په نظر کښې نیولو پرته څوک چې د پارلمان غړی جوړیږي احتمالا شبکو او ځواکمنو خلکو ته لاسرسی لري. پر دې سربیره، د نورو څېړنو د لاسته راغلو معلوماتو برخلاف، دې څېړنې د نارینه او ښځینه پارلمان غړو ترمنځ په سیاسي ګوندونه کښې د هغوی شمولیت په اړه هیڅ توپیر نه دی موندلی، چې په ډېر احتمال کیدای شي په افغانستان کښې د ګوندونو ضعیفه نوعیت ته نسبت ور کول شي.

د هنګ این سونګ (Hung-En Sung) او ایساري (Esarey) او چیریلیو (Chirillo) د پخوانیو مطالعاتو بیا کتنو په رڼا کښې، د لیبرالې ډموکراسۍ شاخصونه د یوې هڅوونکې قضیې په توګه په دولت کښې د ښځو او په افغانستان کښې د فساد ترمنځ د ورکو اړیکو د لټون لاره برابروي. د هنګ این سونګ مطالعې دا معلومات لاسته راوړي چې د قضا او رسنیو نقش په کافي اندازه مهم دی او د هغوی د پوتنشیال سره متناظر یا سترګې پیټول

او یا فساد منع کول دي. 261 افغانستان په دې برخه کښې چې فاسدې یا ضعیفې دندې تر سره کونکي قضاییه قوې په درلودلو پراخه شهرت لري، څکه محکمو ته تر ټولو زیاتو فاسدو ادارو په سترګه کتل کیږي.[262] پر دې سربیره، سره له دې چې دا درک شوې ده چې په افغانستان کښې د رسنیو لرلید په مخ په زیاتیدونکي توګه آزاد او په چټکتیا پرمختګ کوي،263 افغانستان د رسنیود آزادۍ او نقش په اړه لا ډیر اوږد سفر په مخکښې لري. د بشر د حقوق څارونکي اداړې د "راپور ورکول بس کړه او یا به مونږ ستا کورنۍ و وژنو: په افغانستان کښې آزادو رسنیو ته ګواښونه " تر عنوان لاندې یوه راپور خپور کړی دی، نه یوازې دا چې په افغانستان کښې د ژورنالیسټانو پر وړاندې د حملو او ګواښونو زیاتیدونکی شمیر مستند کړی، بلکه د دې پیښو د څیړنو او قانوني تعقیب په برخه کښې د افغان حکومت ناکامۍ ته یې هم اشاره کړې ده. دا راپور تر ۳۰ څخه زیاتو ژورنایسټانو، مدیرانو، نشراتي ادارو، او په افغانستان کښې د رسنیو مشرانو سره د مرکو د تر سره کولو له لارې تیار شوی دي. دا شاخصونه، د لیبرالې ډموکراسۍ پورې مربوط په مختلفو ساحو کښې د افغانستان د ټیټو نمرو شاخصونو او په ځانګړې توګه د قانون د حاکمیت او رسنیو د شاخصونو سره مل دي، دا څرګندونه کوي چې افغانستان په دوه کلیدي ساحو کښې چې د فساد د مخنیوي نقش لوبوي ناکام وه، د جنډر د موضوع په نظرکښې نیولو پرته هغه څوک چې پوستونه یې نیولي دي په لوړه کچه فساد کښې د ککړتیا توان لري.

په ورته توګه، ایساري (Esarey) او چیریلیو (Chirillo) همدارنګه دا نتیجه تر لاسه کړې چې په دولت کښې د میرمنو حضور او ټیټې کچې فساد تر منځ پیوند د څرنګوالي له نظره توپیر لري او فرض کوي چې کوم ځای چې "فاسد" سلوک د حکومتوالۍ یوه عادي برخه جوړوي او د سیاسي ادارو له خوا یې ملاتړ شوی وي، هلته به د جنډر له نظره په فساد کښې هیڅ تفاوت شتون و نه لري.[264]

دا څیړنه به همدارنګه په افغانستان کښې په سیاست کښې د فعالو میرمنو او فساد تر منځ د اړیکې نشتوالي په اړه یوه ظاهرې د منني وړ توضیح وړاندې کړي، چیرې چې فساد په پراخه کچه په سیاسي او دولتي ادارو کښې ریښې غزولې دي.

د دې څیړنې د لاسته راغلو معلوماتو پر بنسټ، لیکوالانو نتیجه تر لاسه کړې چې په افغانستان کښې د فساد لوړه کچه په نسبي توګه او په پارلمان کښې د میرمنو لوړه کچه استازیتوب کیدای شي په افغانستان کښې د فساد د عمومي هڅونکي څرنګوالي، او همدارنګه د قانون کمزوري حاکمیت او رسنیو، او د قوي ټولنیزو سازمانونو د نشتوالي چې دواړه هم فساد په نخښه کوي او هم د جنډر یو شانوالي ته وده ور کوي، سره باید نسبت ورکول شي. دا ممکنه ده چې جنډر به په فاسد رفتار، به یوازې د بنسټیز شوي فساد تر یوې معلومې کچې پورې کوم اغیز و نه لري، چې د هغه وروسته به د جنډر د منځګړیتوب اغیز کیدای شي له پامه وغورځول شي. د دې څیړنې څخه لاسته راغلو معلوماتو له مخې، داسې ښکاري چې په افغانستان کښې د پارلمان ټول استازي په عمومي ډول په ښه توګه سره تړلي دي، قدرتمند ملاتړې لري، او د فساد د خطر سره د مخامختیا لپاره ښه فرصتونه لري. د افغانستان په څیر په یو فاسد سیستم کښې دا ممکنه ده، کوم چې په لوړه کچه په خپلوان پاللو او تر قیمومیت لاندې شبکو، هر څوک چې په سیاست کښې بریالی دی په احتمالي توګه د فساد د خطر سره مخامخ دی او د یوې شبکې د یوې برخې په توګه چې د فساد لپاره د جنډر په نظر کښې نیولو پرته زمینه برابروي.

د دې څیړنې د تجزیې او تحلیل په رڼا کښې، شاید په ډیره قانع کونکي بڼه، د دې څیړنې څخه لاسته راغلي معلومات دا سې بریښي چې د هغه چارچوب سره چې د آلحسن الوهو له خوا وړاندې شوی دی مطابقت ولري، چې د توپیر د فاضل او فرصتونو له نظریې او د ټولنیز نقش نظریې پر بنسټ کار کوي وایي که چیرې فاسد فرصتونه او شبکې شتون ولري کومې چې په افغانستان کښې ډیرې دي، میرمنې به لږ په فساد کښې ککړې نه وي. د آلحسن الوهو مطالعې موندلې ده چې میرمنې د نارینه څخه زیات لوړ اخلاقي معیارونه نه لري، او یا نه شي کولای چې د فساد د فرصتونو خطر او شبکو د موجودیت په صورت کښې دا ثابته کړي چې هغوی د نارینو څخه لږې په فساد کښې لاس لري. دې مطالعې هم په ورته توګه د جنډر له نظره د دولتي مقامونو څخه د استفادې پر مهال کوم توپیر نه دی موندلی تر څو خپلوي و پالي او یا ټولنیز مکلفیتونه تر سره کړي، کومه موندنه چې په دې څیړنه کښې تکرار شوې ده. د افغانستان په اړه د دې څیړنو موندونو تر زیاتې اندازې د آلحسن الوهو د نتیجه ګیرۍ ملاتړ کړی دی چې وایې فساد د جنډر پورې اړه نه لري، بلکه د فاسدو فرصتونو او شبکو پورې اړه

[264]

[261] "د فساد پر وړاندې د مبارزې اداره ۲۰۱۴ – مهمې موندنې " د افغانستان د روڼتیا اداره، ۲۰۱۴، http://iwaweb.org/key-findings-ncs-2014/.

[262] افغانستان: په نړۍ کښې آزادي ۲۰۱۵ کال، "د آزادۍ کور، ۲۰۱۵

[263] ګابریل دومینګز، "په افغانستان کښې د رسنیو آزادي د یوې بروسې په توګه د خطر لاندې ده،" د المان غږرادیو، د جنورۍ ۲۱، ۲۰۱۵. http://www.dw.com/en/media-freedom-in-afghanistan-increasingly-under-threat/a-18200978.

لري، چې کیدای شي د جنډر موضوع پکښې نقش و لري او یا و نه لري، چې اوس په افغانستان کښې همدا حالت حاکم دی. په هغو شرایطو کښې چې فرصتونه او شبکې د جنډر له نظره بې طرفه وي، چې د دې مطالعې له مخې په افغانستان کښې دا حالت لیدل شوي دي، د فساد په برخه کښې به یو رسمي کارکونکی که هغه نارینه وي یا ښځینه کوم توپیر و نه لري، چې د دې څیړنې د موندنو ملاتړ کوي.

دا شواهد به د برانسیا (Branisa) او ځیګلر (Ziegler) د روښانه شوو فرضیو ملاتړ وکړي، چې وایې چې په هغو هیوادونو کښې چې ټولنیز سازمانونه د میرمنو د آزادۍ او په ټولنیز ژوند کښې د هغوی د ګډون مخه نیسي فساد ډیر لوړ دی، او هغه چارچوب چې د اینګلهارت (Inglehart) او همکارانو له خوا وړاندې شوی، وایي چې په اقتصادي انکشاف او فرهنګي میراث کښې بدلون د بقا څخه د خپل نظر د اظهار ارزښتونو پر لور حرکت چې دواړه دموکراتیک سازمانونه او په پارلمان کښې د میرمنو لوړ تسلط ته زمینه برابروي.  په هر حال، په افغانستان کښې، د سهمیه بندی سیستم په ګوته کوي چې دا به د میرمنو د سیاسي ګډون یو غولونکی شاخص وي. په پارلمان کښې د میرمنو لوړه سلنه حضور داسې بریښي چې تر یوې اندازې د جنډر یو شانوالی او په ټولنیز ژوند کښې د هغوي د ملاتړ منعکس کونکی وي، مګر حتما د ټولنیز سازمانو د ودې سره چې د جنډر یو شانوالي یا پراخه کچه په سیاسي او ټولنیز ژوند کښې د میرمنو ګډون لپاره کار کوي، مطابقت نه لري.

په افغانستان کښې د سهمیې سیستم په دولت کښې د میرمنو د ګډون یوه حیله را منځ ته کړې چې دا هرومرو په فرهنګي میراث او اقتصادي پرمختګ کښې بنسټیز بدلون نه رامنځ ته کوي چې د قوي ټولنیزو سازمانونو سره مرسته وکړي. ښایي چې د فساد او جنډر تر منځ اړیکه ربښتوني نه وي، لکه څرنګه چې په ډیرو څیړنو کښې چې مطالعه شوي دي، ګوته ور ته نیول شوې ده او که په ساده توګه و ویل شي افغانستان قوي ادارې نه لري - په ځانګړې توګه د قانون حاکمیت او آزادې رسنۍ – او په دولت کښې د میرمنو ګډون، په ټوله کښې د جنډر د ارزښتونو ربښتوني ترجماني نه کوي، له کومو څخه چې په لیبرالې ډموکراسۍ او نورو پرمخ تللو ټولنیزو سازمانونو کښې یادونه شوې ده، او د میرمنو د ګډون او فساد د مخنیوي ملاتړ کوي.

# ماخذونه

"د افغانستان د پارلمان يوه سروې: مهمې موندنې" دموکراسی انټرتنشنل، جولای ۲۰۱۲.

العطاس ويوي، ليزا کامرون،انانيش چوهدری، نيسوان اريکل او لاتا ګنداهارن، "جنسيت او فساد: د تجربی تحليل او تجزيې نظريه،" د ملبورن، پوهنتون، ۲۰۰۵.

العطاس ويوي، ليزا کامرون، انانيش چوهدری ، نيسوان اريکل او لاتا ګنداهارن، "جنسيت، فرهنګ، او فساد: د تجربی تحليل او تجزيې نظريه،،" د جنوب اقتصادي مجله۷۵، ګڼه۳، ۲۰۰۹: ٦٦۳-٦۸۰.

الحسن آلوهو او نيماو ، "جنډر او فساد: د نوې اجماع ازمايل،" عامه مديريت او انکشاف۲۷، ۲۰۰۷: ۲۲۷-۲۳۷.

بهواني آر، روهيل او لوک اين کوندرا: "ولې په افغانستان کښې خلک فاسدو سياستمدارانو ته رايه ورکوي: په افغانستان کښې د سروې د تجربو شواهد،" د نړيوالې ودې مرکز، مارچ، ۲۰۱۲،-http://www.theigc.org/wp-content/uploads/2014/10/Bhavnani-Condra-2012-Working-Paper.pdf.

الين باېرنګرد، "د فاسدې لارې څخه سياسي دفتر د رسيدو جنسيتي نتيجې،" هغه سند چې په شلم (IPSA) نړيواله کنګره کښې به وړاندې شي،د جولای ۰۹-۱۳، ۲۰۰٦، په فکوکا، چاپان کښې.

بوريس برانيسا او ماريا زيګلر، "د جنډر او فساد تر منځ د اړيکو مطالعه: د ټولنيزو سازمانونو نقش،" د اقتصادي انکشاف د کنفرانس د مقالو ټولګه آلمان، برلين، کال ۲۰۱۱، ۱۵ ګڼه.
براتون او ستريت ميتر، " چې ټګي و کړو او يا ټګي و نه کړو؟: په علمي ا سوداګريز اخلاقو کښې د شخصيت نقش،" ۲۰۱۳
.

بوش سارا سن، "نړيوال سياست او په پارلمان کښې د ميرمنو لپاره د سهميې زياتوالی،" نړيوال سازمان ٦۵، ۲۰۱۱: ۱۰۳-۱۳۷.

لی جو چن، «آيا د جندر سهميې د ميرمنو استازيتوب او پاليسيو باندې اغيز لري؟ » د مقايسوي اقتصاد اروپايی مجله ، ۷، ګڼه ۱، ۲۰۱۰: ۱۳-٦۰.
کانلی، براين ايس او ډي ايس ونز، "فاسد شخصيت: په ملي سطحه يو او تحليل"، د مختلفو فرهنګونو له نظره يوه څېړنه ۴۲، ۴ ؛ ګڼه، (۲۰۰۸): ۳۵۳-۳۸۵.

د نړيوالې روڼتيا اداره، «د فساد د شاخص مشاهده سي پي آی (۲۰۱۴) د سروې نتايج،" ارائه، د دسامبر ۳، ۲۰۱۴، http://transparency.org.my/wp-content/uploads/2014/12/CPI-2014-Presentation_Final.pdf.

راشل کروسن او يوري ګنيزي، "په ترتيباتو کښې جنسيتي توپيرونه،" د اقتصادي ادبياتو مجله ۴۷، ۲ ګڼه، ۲۰۰۹: ۱-۲۷.

ډالريوپ (Dahlerup) او لينار (Leyennar)، "په سياست کښې د جنډر د تعادل پر لور حرکت،" ۲۰۱۳.

درود ډالریوپ (Dahlerup) او لیتینا فرایډن وال، "د یو چټک حرکت په توګه د میرمنو د سیاسي استازیتوب لپاره د سهمیه بندی سیستم: ولې سکاندیناوی هیوادونه له دې وروسته بنه موډل نه دی" د (IPSA) په نړیواله کنګره کښې مقاله، دربن، جنوبي آفریقا، ۲۹، پرزنتیشن، د جون ۴، ۲۰۰۳.

درود ډهرلیوپ او مونیک لیینار، «په پخوانی او اوسنی ډموکراسی په سیاست کښې د جنډر د تعادل پر لور حرکت،» د سیاست او جنډر په اړه د دریم کنفرانس سند، بارسلونا، د مارچ ۲۱-۲۳ ۲۰۱۳ کال.

بهنود ایم جوادی او ریني فر، "د خطر د درک اغیز او د فاسد رفتار د خطر لرلید: د کم فساد د ازمایلو شواهد، IZA، د بحث مقاله، ګڼه ۷۳۸۳، می ، ۲۰۱۳.

دیوید ډولار، ریمونډ فیسمن، او روبرتا ګاټي، "آیا میرمنې واقعا 'عادل جنس دی؟ په حکومت کښې فساد او میرمنې، "نړیوال بانک د جنډر د انکشاف د پالیسی د څېړنې راپور، کاري مسلسله ۴ ګڼه، اکتوبر ۱۹۹۹.

ای ایچ ایګلی او ایم. کراولی، «جنسیت او رفتاري مرسته: د ټولنیزې روانشناسی د ادبیاتو یوه تحلیلي بررسي،" رواني بولتن ۱۰۰، ۱۹۸۶: ۲۳۸-۳۰۸.

کاترین سي. ایکل او فیلیپ جی ګراسمن، "میرمنې د نارینو څخه لږې ځان غوښتونکي دي؟: د دیکتاتور د آزمایلو شواهد " اقتصادي مجله ۱۰۸، ۱۹۹۸: ۷۲۶- ۷۳۵.

"په افغانستان کښې ټاکنې: د اپریل د ۵ د ولس مشری او ولایتي شوراګانو ټاکنې،" د ټاکنو سیستمونو نړیوال بنسټ، د مارچ ۲۷، ۲۰۱۴، http://www.ifes.org/~/media/Files/Publications/White%20PaperReport/2014_IFES_Afghanistan%20Presidential%20and%20PC%20Elections.pdf.

جاستین ایساري او ګینا چیریلیو، " عادلانه تر جنس» ربښتیا یا افسانه ده؟ فساد، جنسیت و سازماني چارچوب، "سیاست او جنډر۹، ۴ ګڼه، ۲۰۱۳: ۳۹۰-۴۱۳.

اولې فولک او یوحنا ریکنی، "میرمنې استازې او د نارینو حکومت؟ د ګوندونو سیالي او سیاسي شیشه یی چت، "د صنعتي اقتصاد د څېړنو انستیتیوت، د (IFN) د کاري سند مقاله ، ګڼه ۹۲۳، ۲۰۱۲ کال.

بیورن فرانک، یوهان ګراف لامبزګروف، او فردریک بوخم، «جنسیت او فساد: د فساد د آزمایلو لابراتوری لاسته ته راغلې تجربې،" د انکشافي څېړنو اروپایي مجله ۲۳، ۲۰۱۱: ۵۹-۷۱.

ایچ. سندورا ګلوور، مینتي ای. بمپوس، جان ای. لوګان، او جیمز آر. شیسلا، "د فردي ارزښتونو بیاکتنه په اخلاقي تصمیم نیولو کښې،" د سوداګری داخلاقو فصل۱۶، ګڼه.۱۲.۱۳/، ۱۹۹۷: ۱۳۱۹-۱۳۲۹.

تي جي. ګیوتزل، " جنسیتی فاصله: جنسیت، کورنی عاید، او په ۱۹۸۰ لسیزو په لمړیو وختو کښې سیاسي نظریات،" د ټولن پیژندنې سیاسي او پوځې مجله۱۱، ۱۹۸۳: ۲۰۹-۲۲۲.

آنا ماری ګوتز، "سیاسي پاکونکي: میرمنې د فساد پر وړاندې نوی ځواک؟" پرمختګ او بدلون ۳۸، ۱ ګڼه، ۲۰۰۷: ۸۷-۱۰۵.

کازونری انماسو او کنچې ایکدا، "په سیاسي ګډون د جنډر د ټولنیز پانګونې اغیز: د تولیدونکي د موقعیت د روش څخه په استفاده په (JES3) تولګه کښې موجود معلومات،" د ټولنیز پانګونې کنفرانس ته وړاندې شوی سند، د سینیکا پوهنتون، تایپې، تایوان، ۲۹-۳۰، د می ۳۰، ۲۰۰۸.

رونالد اینګلهارت، پیپا نوریس، او کرسچن ولزل، "د جنډر یو شانوالی او ډموکراسي،" د جامعه شناسی مقایسه ۱، ګڼه. ۴/۳، ۲۰۰۲: ۳۲۱-۳۴۶.

"محمد رازق اسحق زاده،« د افغانستان سوداګري او فساد: د رشوت پروړاندې د مبارژ ملي اداره، ۲۰۱۴ کال، "د افغانستتان د روڼتیا اداره، ۲۰۱۴، http://iwaweb.org/ncs/_2014/docs/national_corruption_survey_2014_english.pdf.

جاکوبسن، بید، سینتیا جی. بولینګ، کریستین ای. کلهر او ډیل ایس رایت. "یوې میرمنې ته پاملرنه؟ په دولتي اداره کښې په جنډر ولاړه شبکه "د عامه مدیریت په څېړنیز کنفرانس کښې پرزنټیشن، تاسکن آریزونا، ۲۵-۲۷ اکتوبر ۲۰۰۷.

کانمان، ډي.، او تورسکی ای. (۱۹۴۸). "غوراوی، ارزښتونه، او چارچوب". آمریکایي روانشناس ۳۹: ۳۴۱-۳۵۰.

کنګ، الیزابت ایم. او اندریو ډي میسون. "د پرمختګ رامنځ ته کیدل" نړیوال بانک. ۲۰۰۱. http://siteresources.worldbank.org/PGLP/Resources/Engendering_Development.pdf.

مونا لینا کروک او پیپا نوریس، "د سهمیې ور ها خوا: په منتخب دفتر کښې د جنډر یو شانوالي د ترویج ستراتژی" سیاسي مطالعې ۶۲، ۲۰۱۴: 22-20.

مونا لنا کروک، دیانا زهرا او براین او کریتا ایم سویپ، "پوځي تیری او د میرمنو سیاسي استازیتوب" نړیواله فمینیستی سیاست مجله ۱۲، ګڼه. ۱، ۲۰۱۰: ۷۹-۶۶.

کروک مونا لنا، دیانا زهرا او براین او کریټا ایم، سویپ، "پوځې تیری اودمیرمنو سیاسي استازیتوب" ۲۰۱۰.

یوهان ګرافلامبزګروف او بایرن فرانک، " فاسد متقابل عمل: د نارینه په لوبه کښې تجربي شواهد،" د نړیوالو حقوقو او اقتصاد بررسی، ۲۰۱۱.

انا لرسن، " په افغانستان کښې سیاسي ګوندونه،" د امریکا د متحده ایالاتو د سولې موسسه، مارچ، ۲۰۱۵، http://www.usip.org/sites/default/files/SR362-Political-Parties-in-Afghanistan.pdf.

لیپنارد الینور، "د جنډر سهمیه بندي او بدلیدونکی سیاست،" د پیشرفته مطالعاتو لپاره روبرت شومن مرکز، د نړیوال حکومتوالی پروګرام، د ۲۰۱۴ کال، http://cadmus.eui.eu/bitstream/handle/1814/31302/RSCAS_PP_2014_06.pdf?sequence=1.

ډنیس ایس. ونز او چاکلینګم ویسویورن، "جنسیت، عمر او د نژاد توپیر ا اوبرت صداقت آزمایل: د کار غوښتننکو یوه مجموعه په څلورو سترو مقیاسونو کښې نتایج، " د تطبیقي روانشناسی مجله ۸۳، ګڼه ۱، ۱۹۹۸: ۳۵-۴۲.

"په افغانستان کښې سیاسي ګوندونه: د ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ کال د ټاکنو څخه وروسته د سیاسي ګوندونو د وضعیت څېړنه،" ملي ډموکراتیکه مؤسسه، جون، ۲۰۱۱.

پریتو، سیدانیوس، سټاورټ، او مالی، "د ټولنیز تسلط لوری: د ټولنیزې وړاندوینې او سیاسي لید لوري د شخصیت یو متغیر،" ۱۹۹۴.

" د نه انتقال وړ د واحدې رایې سیستم اساسات،" یوناما، این جي،

"په ملي شورا کښې د میرمنو لپاره د سیټونو تناسب،" نړیوال بانک،
http://data.worldbank.org/indicator/SG.GEN.PARL.ZS?order=wbapi_data_value_2014+wbapi_data_value+wbapi_data_value-last&sort=desc

"۲۰۱۴ کال ولایتي شوراګانې: میرمنو څه وکړل" د افغانستان ټاکنې. ۲۰۱۴

راسموسن، سونی انجل. "افغان میرمنو په نوې کابینه کښې د میرمنو وزیرانوپه نشتون اعتراض و کړ" ګارډین. د فبروری ۳، ۲۰۱۵.
http://www.theguardian.com/global-development/2015/feb/03/afghan-women-protest-absence-female-ministers-new-cabinet.

میشل سي. ریس او کوشیک میترا، "د کار په محیط کښې د فردي تفاوت د عواملو اغیز د اخلاقی او غیر اخلاقی رفتارونو خپلول،" د سوداګری د اخلاقو مجله ۱۷، ګڼه۱۴، ۱۹۹۸، ۱۵۸۱ -۱۵۹۳.

ماریا فرناندا ریواس، "د فساد او جنسیت په اړه یو آزمیښت،" د اقتصاد څانګه، د ټولنیزو علومو پوهنځي، د جمهوریت پوهنتون، ترباجو اسناد، د سند شمیره ۸/٦، سپتمبر ۲۰۰٦.

سیدانیوس، لوین، لیو، و پریتو، " د ټولنیز تسلط لوری، د مساوات غوښتنې ضد او د جنډر سیاسیي روانشناسي: او د فرهنګونو تر منځ د اړیکو پراختیا او ترویج"، ۲۰۰۰.

سیدانیوس، پریتو او بوبو " د ټولنیز تسلط لوری او د جنډر سیاسي روانشناسی: د بدلون نه منلو یو مورد؟" ۱۹۹۴

سیدانیوس، پریتو و میچل، "په ډلو پیژندنه کښې، د ټولنیز تسلط لوری، او د ډلې په منځ کښې د توپیر ټولنیز تخصیص،" کال ۲۰۰۱.

اکسیل سندوستروم، "د جنډر او فساد د شبکو پیژندل: د استخدام او استازیتوب پر مهال یو دوه اړخیزه بهیر،" د میرمنو او سیاست متخصصې ډلې د جنډر او سیاست په اړه د ورکشاپ لپاره وړاندې شوی سند، لندن، د فبروری ۲٦، ۲۰۱۱.

آویزن- این سونګ، "عادلانه جنسیت او عادلاه سیستم؟ جنډر او فساد، بیا کتنه "ټولنیز ځواکونه ۸۲ ، ۲ همه ګڼه، ۲۰۰۳.

آناند سویمي، سټیفن کناک، یونګ لي، او اظفرعمر، "جنسیت او فساد" د انکشافي اقتصاد مرکز، ویلیامز کالج، CDE کاري ګڼه، آګست ۲۰۰۰.

"طالبان افغان میرمنې سیاسي فعالانې تښتوي، حملې د میرمنو د حقوقو مبارزه تر اغیز لاندې راولي." رویترز. د آګست ۱۳، ۲۰۱۳.
http://www.thestar.com/news/world/2013/08/13/taliban_kidnaps_female_afghan_politician_attacks_undermine_womens_rights_campaign.html.

جی. الکساندر دیر، "په افغانستان کښې د اساسی قانون بنه جوړيدل،" د نيويارک د قانون د پوهنځی د قانون بررسي ۵۱، ۲۰۰۶/۰۷: ۵۵۸-۵۷۹.

بنو تورگلر او نون تې والف، "ميرمنې او غيري قانوني فعاليتونه: د جنسيت توپير او د د زمانې په اوږدو کښې په ميرمنو د رعايت کولو تمايل،" د اقتصادي څېړنو مرکز، مديريت او هنر (CREMA)، کاري ګڼه. ۱۵ـ۲۰۱٦ ، ۲۰۰٦.

" افغانستان انځور، د آسيا فونډيشن."..www.afghansurvey.asiafoundation.org

لينا وانګنرد، "د مکسيکو په مختلفو ولايتونو کښې د فساد ډولونه: د جنډر د لرليد تشريح،" د دولتي ادارو څرنګوالی، د ګوتمبرګ پوهنتون، د فبروری ۹، ۲۰۱۱.
http://www.ipd.gu.se/infoglueCalendar/digitalAssets/1772626008_BifogadFil_Wangnerud-underlag.pdf.

ژاک وارن، "افغانستان په ۲۰۱۴ کال کښې: د افغانستان د خلکو سروي،" د آسيا فونډيشن، ۲۰۱۴،

ويلسون او ليو، "ټولنيز او جنسي تسلط تمايل: د جنډر د هويت د تعديل نقش." ۲۰۰۳.